# د قرآن سره مرکه



Ketabton.com

لیکوال :

ډاکټر نثار احمد صمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قرآن

# سره مرکه

لیکوال :
ډاکټر نثار احمد صمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چاپ ټول حقوق خوندي دي.

# د کتاب پېژندنه


دکتاب نوم: د قرآن سره مرکه

لیکوال: ډاکټر نثار احمد صمد

کمپوز: خپله لیکوال

د لیکوال بریښنالیک: Nsamad57@hotmail.com

د ښتیی طرحه او انلاین چاري: مختار احمد احسان - لراوبر ډاټ کام

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک


- لومړی برخه
- دوهمه برخه
- دریمه برخه
- څلورمه برخه
- پنځمه برخه
- شپږمه برخه
- اوومه برخه
- اتمه برخه
- نهمه برخه
- لسمه برخه
- یوولسمه برخه
- دوولسمه برخه
- دیارلسمه برخه
- څوارلسمه برخه
- پنځلسمه برخه
- شپاړسمه برخه
- اوولسمه برخه
- اتلسمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نولسمه برخه
- شلمه برخه
- یوویشتمه برخه
- دوه ویشتمه برخه
- درویشتمه برخه
- ځلرویشتمه برخه
- پنځه ویشتمه برخه
- شپږ ویشتمه برخه
- اووه ویشتمه برخه
- اته ویشتمه برخه
- نهه ویشتمه برخه
- د قرآن سره د مرکې د پای لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې لومړنۍ سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، د تیر کال د مبارکې روژې غونډې سږ کال هم ستاسو درانه حضور ته دیرش سوغاتونه وړاندې کوم . د سږنۍ مبارکې روژې دغه دیرش تحفې « د قرآن سره مرکه » نومیږي چې د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده . دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي . هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دا یې تاسو او دا یې هم د لومړنۍ روژې لومړنۍ تحفه ( ن . صمد ) :

## د قران سره مرکه

سَلام عَلیکَ ، سلامتي دې وي پر تا (۱)
سَلام لکَ ، سلامتي دې وي درباندې (۲)

پوښتنه : که لطفاً خپل ځان را وپیژنې ؟
ځواب : زه د الله کتاب یم (۳) ، نوم مې قرآن دی (۴) .

پوښتنه : ډیر ښه ، تا وویل چې زه د الله کتاب یم . آیا کولای سې چې الله په لنډه توګه راوپیژنې ؟
ځواب : هو ولې نه ، الله د هغه هستۍ اصلي او فطري نوم دی (۵) چې هر څه او ټول کایِّنات یې پیدا کړي دي (۶) ، الله یو دی او شریک نه لري (۷) ، الله د هر شي څښتن او مالک دی (۸) ، هغه د ټول عالم رب دی (۹) ، هغه مطلق حاکم دی (۱۰) ، یوازې الله د عبادت وړ دی او بس (۱۱) ، الله د عدم یعنې هیڅ څخه هر څه او هر شی خلق کوي (۱۲) ، هغه ظاهر دی (۱۳) ، هغه باطن دی (۱۴) ، الله ټول کایِّنات چلوي (۱۵) ، هر څوک د هغه محتاج دي (۱۶) ، هغه هیچا ته هم اړ نه دی (۱۷) ، ژوند او مرګ د الله په اختیار کې دی (۱۸) ، صرف الله هر چا ته اولاد ورکوي (۱۹) ، الله تل موجود دی او تل به موجود وي (۲۰) ، هغه بې مثاله دی یعنې هیڅ سارې نه لري (۲۱) ، هر څه له منځه ځي خو الله تلپاته دی (۲۲) ، هغه پر هر څه قادر دی (۲۳) ، هغه توبه قبلونکی او مهربان دی (۲۴)....

پوښتنه : دا خو ډیر حیاتي معلومات وو . اوس به را سم دې ته چې تا مخکې وویل چې زما نوم قرآن دی ، خو ما داسې هم اورېدلي دي چې ته د قرآن څخه علاوه نور نومونه او صفتونه هم لرې ، آیا خپل دغسې څو نومونه او صفات را ښوولای سې ؟
ځواب : هو ، زه ډیر نومونه او صفتونه لرم چې د بیلګې په توګه به ځینې دروښیم :

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب (۲۵) ، رحمت (۲۲) ، حکمت (۲۷) ، حدیث (۲۸) ، هُدا یعنی هدایت (۲۹) ، فرقان یعنی د حق او باطل بېلوونکی (۳۰) ، مُبین یعنی ښکاره دلیل (۳۱) ، ایمان (۳۲) ، کریم یعنی لوی (۳۳) ، کلام (۳۴) ، عدل (۳۵) ، برهان (۳۶) ، نور (۳۷) ، قول (۳۸) ، سراج (۳۹) ، شفا (۴۰) ، موعظت یعنی نصیحت (۴۱) ، ذکر (۴۲) ، عصمت (۴۳) ، مبارک (۴۴) ، علی یعنی لوړ رتبه (۴۵) ، حکیم (۴۶) ، مُهیمین یعنی ساتونکی (۴۷) ، منیر (۴۸) ، مصدق یعنی تصدیق کونکی ، د پیش ګویانو مصداق (۴۹) ، حبل الله یعنی د الله رسۍ (۵۰) ، ذکری یعنی یادوونکی (۵۱) ، قیَم یعنی سمه او مستقیمه خبره (۵۲) ، قولِ فصل یعنی فیصله کوونکی (۵۳) ، احسن الحدیث یعنی بهترین کلام (۵۴) ، مثانی یعنی جوړه جوړه (۵۵) ، متشابه (۵۶) ، تنزیل یعنی نازل سوی (۵۷) ، روح (۵۸) ، وحی (۵۹) ، عربی (۶۰) ، بصایًر یعنی د فکر او سوچ پیدا کوونکي دلایل (۶۱) ، بیان (۶۲) ، علم (۶۳) ، نعمت (۶۴) ، حق (۶۵) ، هادی (۶۶) ، عجب (۶۷) ، تذکره یعنی یادونه (۶۸) ، عُروة الوثقی یعنی ټینګه رسۍ (۶۹) ، صدق یعنی رښتیا (۷۰) ، امر (۷۱) ، بُشری یعنی زیری ورکونکی (۷۲) ، عزیز (۷۳) ، بلاغ یعنی پیغام (۷۴) ، قصص یعنی بیان ، قصې (۷۵) ، صراط (۷۶) ، عظیم (۷۷) ، بشیر یعنی زیری ورکوونکی (۷۸) ، نذیر یعنی خبردارئ ورکونکی (۷۹) ، مجید یعنی سترتیا لرونکی (۸۰) ، حُکم یعنی فیصله (۸۱)....

پوښتنه: دا خو ډیر په زړه پوری معلومات وو. آیا راته ویلای سې چی ته د چا تألیف یې یعنی مؤلف دی څوک دی ؟
ځواب: زما مؤلف الله دی ، دا ځکه چی زه د هغه کلام یم (۸۲) .

پوښتنه: نو چی داسی ده ، دنیا ته چا رالیږلی یې ؟
ځواب: دنیا ته هم الله را نازل کړی یم (۸۳) .

پوښتنه: دا صحیح ده چی الله نازل کړی یې ، خو مځکی یا دغه دنیا ته چا راوړئ یې ؟
ځواب: د الله په امر یوې ملایکې راوړی یم چی جبریل نومیږی (۸۴) .

پوښتنه: نو پر مځکه دی چا ته تشریف راووړ ، یعنی جبریل (ع) چا ته ورتسلیم کولې ؟
ځواب: زه محمد (ص) ته راوړل کېدلم ، یعنی د هغه پر مبارک زړه را نازل کېدلم (۸۵) .

پوښتنه: تا د زړه خبره وکړه ، آیا دا ممکنه وه چی پر زړه باندی نه بلکی پر کوم غره باندی نازل سوی وای او خلکو هدایت درڅخه اخیستلای ؟
ځواب: دغسی کار ځکه هیڅ امکان نه درلود ، چی که زه پر کوم غره باندی نازل سوی وای نو لومړی خو به هغه غر د الهی جلال له امله چاودېدلی او ټوټه ټوټه سوی وای او تباهی به خپره سوې وای (۸۶) . که احیاناً

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه غر سلامت هم پاته سوی وای نو په هغه صورت کی زما د احکامو په عملی تشریح کی قاطعیت نسو راتلای چی د هغه له امله به ما عملأ د کوم هدایتی کتاب رول هم نسو لوبولای. وګوره پر نبی کریم (ص) باندی زما نزول او هغه ته زما د عملی تشریح او تعبیر د مسؤلیت اصلی مقصد دا دی چی په مسلمه امت کی فکری او عملی پیوستون او یووالی راسی (۸۷).

پوښتنه: آیا جبریل (ع) به ته کټ مټ او ټکی په ټکی راکښته کولې که څنګه؟
ځواب: هو باالکل، جبریل زه حرف په حرف راوړلم (۸۸). دا ځکه چی هغه امین دی، د قوت او روح القدس (یعنی سپېڅلی روح) څښتن او د الهی حُکم پابند دی (۸۹).

پوښتنه: اوس به یوه بله مسأله مطرح کړم او هغه دا چی ته کله د غه دنیا ته را نازل سوې؟
ځواب: زما د نازل کېدو پیل د روژې د مبارکی میاشتی په یوه شپه کی وسو چی لیلة القدر نومېږی (۹۰).
پوښتنه: آیا دنیا ته ستا نزول ټوله په یوه پلا یعنی یو ځایی سوئ دی؟
ځواب: یا، دنیا ته زما نازلېدل په یو ځایی توګه نه بلکی لږ لږ تعمیل سوی دی (۹۱).

پوښتنه: ولی لږ لږ نازلېدې او ولی په یوه پلا نه نازل کېدې؟
ځواب: زه ځکه لږ لږ را لیږل کېدلم چی رسول الله او مسلمانان پرله پسې تشویق سی او د هغوی د زړونو د ډاډ باعث وګرځم (۹۲).

پوښتنه: نو چی داسی ده، څنګه راغونډ او تدوین سوې؟
ځواب: ډیر ښه سوال دی، زما د راټولولو او تدوین انتظام هم پخپله الله ترسره کړی دی (۹۳)

پوښتنه: لطفأ راته ووایه چی ته چیری نازل سوی یې؟
ځواب: زما نزول په مکه کی پیل سوی دی (۹۴).

پوښتنه: آیا صرف په همدې مکه او د هغې په مربوطاتو کی نازل سوی یې او که په نورو ځایو کی هم را نازل سوی یې؟
ځواب: زه د مکې څخه علاوه په مدینه او د هغه په مربوطاتو کی هم نازل سوی یم (۹۵)

(۱): سورهً مریم، آیت ۴۷. (۲): سورهً الواقعه، آیت ۹۱. (۳): البقره: ۲؛ الانعام: ۹۲؛ الحجر: ۱؛ النمل: ۱. (۴): الانعام: ۱۹؛ یونس: ۳۷؛ یوسف: ۳؛ الاسراء (بنی اسرایًل): ۹. (۵): طه: ۱۴. (۶): الانعام: ۱۰۲؛ الزمر: ۶۲؛ الرعد: ۱۶؛ المؤمن: ۶۲؛ طه: ۵۰. (۷): البقره: ۱۶۳؛ النسأ: ۱۷۱؛ یوسف: ۳۹؛ الرعد: ۱۶؛ ابراهیم: ۴۸. (۸): البقره: ۲۵۵؛ آل عمران: ۱۲۹، ۱۸۰؛ النسأ: ۱۳۲؛ الانعام ۱۲؛ لقمان: ۳۶. (۹): الفاتحه

(c) ketabton.com: The Digital Library



:۲ ؛ الانعام: ۴۵ ؛ الاعراف: ۵۴ ؛ یونس: ۱۰ ؛ المطففین: ۲. (۱۰): یوسف: ۴۰ ؛ الکهف: ۲۲ ؛ الاعراف: ۵۴
؛ یونس: ۳۱ ؛ السجده: ۵. (۱۱): البقره: ۱۲۳ ؛ آل عمران: ۲ ؛ النسأ: ۱۷۱ ؛ المایّده: ۷۳ ؛ الناس: ۳. (۱۲):
البقره: ۱۱۷ ، ۱۵۴ ؛ الانعام: ۱۰۱ ؛ الحشر: ۲۴. (۱۳): الحدید: ۳. (۱۴): الحدید: ۳. (۱۵): یونس: ۳۱ ؛
الاعراف: ۵۴ ؛ الطلاق: ۱۲ ؛ الروم: ۲۵ ؛ حم السجده: ۱۲. (۱۶): فاطر: ۵۵ ؛ محمد: ۳۸. (۱۷): الاخلاص:
۲ ؛ البقره: ۲۶۷ ؛ آل عمران: ۹۷ ؛ الانعام: ۱۳۳ ؛ التغابُن: ۶. (۱۸): الملک: ۲ ؛ آل عمران: ۵۶ ؛ الاعراف:
۵۸ ؛ التوبه: ۱۲ ؛ الحدید: ۲. (۱۹): الشوری: ۴۹ ؛ الانبیأ: ۹۰ ؛ ال عمران: ۳۸ ؛ مریم: ۵ ؛ ص: ۳۰. (۲۰):
الحدید: ۳ ؛ الرحمن: ۲۷ ؛ ق: ۱۵ ؛ حم السجده: ۲۱ ؛ یس: ۷۹. (۲۱): الشوری: ۱۱ ؛ الاخلاص: ۱ ؛ النحل:
۱۷ ؛ الاعراف: ۱۹۱. (۲۲): الرحمن: ۲۷. (۲۳): البقره: ۱۰۹. (۲۴): التوبه: ۱۰۴. (۲۵): البقره: ۲ ؛ النسأ: ۲۹
؛ فاطر: ۱۰۵. (۲۶): الانعام: ۱۵۷ ؛ الاعراف: ۵۲ ، ۲۰۳ ؛ یونس: ۵۷ ؛ یوسف: ۱۱۱ ؛ النحل: ۶۴ ، ۸۹. (۲۷):
الاسرأ: ۳۹ ؛ الاحزاب: ۳۴ (۲۸): النجم: ۵۹-۶۰ ؛ الکهف: ۲ ؛ الطور: ۳۴. (۲۹): البقره: ۲ ، ۹۷ ، ۱۸۵ ؛
آل عمران: ۱۳۸ ؛ المایّده: ۴۶ ؛ الانعام: ۱۵۷ ؛ القصص: ۴۳. (۳۰): البقره: ۱۸۵ ؛ آل عمران: ۴ ؛ الفرقان: ۱
. (۳۱): المایّده: ۱۵ ؛ یوسف: ۱ ؛ الحجر: ۱ ؛ الشعرأ: ۲ ؛ النمل: ۱. (۳۲): آل عمران: ۱۹۳. (۳۳): الواقعه:
۷۷. (۳۴): التوبه: ۶ ؛ الفتح: ۱۵. (۳۵): الانعام: ۱۱۵. (۳۶): النسأ: ۱۷۴. (۳۷): النسأ: ۱۷۴ ؛ المایّده:
۱۵ ؛ الاعراف: ۱۵۷ ؛ الشوری: ۵۲ ؛ التغابُن: ۸. (۳۸): القصص: ۵۱. (۳۹): الاحزاب: ۴۶. (۴۰): یونس:
۵۷ ؛ الاسرأ: ۸۲ ؛ حم السجده: ۴۴. (۴۱): آل عمران: ۱۳۸ ؛ المایّده: ۴۶ ؛ یونس: ۵۷ ؛ هود: ۱۲۰ ؛ النور:
۳۴. (۴۲): الحجر: ۹ ؛ النحل: ۴۴ ؛ الانبیأ: ۵۰ ؛ یوسف: ۱۰۴ ؛ الطلاق: ۱۰. (۴۳): آل عمران: ۱۰۳

(۴۴): الانعام: ۹۲ ، ۱۵۵ ؛ الانبیأ: ۵۰ ؛ ص: ۲۹. (۴۵): السبا: ۲۳ ؛ الزخرُف: ۴. (۴۶): آل عمران: ۵۸ ؛
یونس: ۱ ؛ لقمان: ۲ ؛ الزخرف: ۴. (۴۷): المایّده: ۴۸. (۴۸): الاحزاب: ۴۶. (۴۹): البقره: ۴۱ ، ۸۹ ، ۹۷ ؛
الانعام: ۹۲ ؛ آل عمران: ۳ ؛ یس: ۲ ؛ الاحقاف: ۱۲ ، ۳۰. (۵۰): آل عمران: ۱۰۳. (۵۱): هود: ۱۲۰. (۵۲):
الکهف: ۲. (۵۳): الطارق: ۱۳. (۵۴): الزمر: ۲۳. (۵۵): الحجر: ۸۷ ؛ الزمر: ۲۳. (۵۶): الزمر: ۲۳. (۵۷)
: الشعرأ: ۱۹۲ ؛ یس: ۵ ؛ الواقعه: ۸۰. (۵۸): الشوری: ۵۲. (۵۹): الانبیأ: ۴۵ ؛ الاحزاب: ۲. (۶۰): یوسف
: ۲ ؛ الرعد: ۳۷ ؛ طه: ۱۱۳ ؛ الزمر: ۲۸ ؛ الزخرف: ۳. (۶۱): الانعام: ۱۰۴ ؛ الاعراف: ۲۰۳ ؛ القصص: ۴۳ ؛
الجاثیه: ۲۰. (۶۲): آل عمران: ۱۳۸. (۶۳): البقره: ۱۲۰ ؛ آل عمران: ۶۱ ؛ الرعد: ۳۷. (۶۴): الاضحی: ۱۱.
(۶۵): البقره: ۲۲ ، ۹۱ ؛ المایّده: ۸۴ ؛ الانعام: ۶۶ ؛ الانفال: ۲ ؛ القصص: ۵۳. (۶۶): الاسرأ: ۹ ؛ الاحقاف:
۳۰ ؛ الجن: ۲. (۶۷): الجن: ۱. (۶۸): الحاقه: ۴۸ ؛ المدثر: ۴۹ ، ۵۴ ؛ الدهر: ۲۹ ؛ المزمل: ۱۹ ؛ طه: ۳.
(۶۹): البقره: ۲۵۶. (۷۰): الزمر: ۳۲. (۷۱): الطلاق: ۵. (۷۲): البقره: ۹۷ ؛ النحل: ۸۹ ، ۱۰۲ ؛ النمل: ۲ ؛
الاحقاف: ۱۲. (۷۳): حم السجده: ۴۱. (۷۴): ابراهیم: ۵۲ ؛ الانبیأ: ۱۰۶. (۷۵): آل عمران: ۲۲. (۷۶): الفاتحه
: ۲. (۷۷): الحجر: ۸۷. (۷۸): حم السجده: ۴. (۷۹): حم السجده: ۴ ؛ الفرقان: ۱ ؛ النجم: ۵۶. (۸۰): ق: ۱ ؛
البروج: ۲۱. (۸۱): الرعد: ۳۷. (۸۲): التوبه: ۶ ؛ الزمر: ۲۳ ؛ الفتح: ۱۵. (۸۳): الواقعه: ۸۰ ؛ الشوری: ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



؛ البقره: ۷۲ ؛ النسأ : ۱۱۳ ؛ الکهف: ۱ . (۸۴ ) : البقره: ۹۷ ؛ النحل: ۱۰۲ ؛ الشعرا : ۱۹۳ . (۸۵ ) : محمد : ۲ ؛ البقره: ۹۷ ؛ آل عمران: ۳ ؛ الاعراف: ۲ ؛ النحل: ۴۴ . (۸۲ ) : الحشر: ۲۱ . (۸۷ ) : النحل: ۴۴ ، ۲۴ ؛ الاحزاب : ۲۱ ؛ آل عمران: ۱۲۴ ؛ الجمعه: ۲ . (۸۸ ) : النحل: ۱۰۲ ؛ الاسرأ : ۱۰۵ ؛ هود : ۱۴ . (۸۹ ) : تاشعرأ : ۱۹۳ ؛ التکویر: ۱۹ـ۲۱ . (۹۰ ) : البقره: ۱۸۵ ؛ الدخان: ۳ ؛ القدر: ۱ . (۹۱ ) : الفرقان: ۳۲ ؛ الاسرأ : ۱۰۲ ؛ الدهر: ۲۳ ؛ النحل ۱۰۱ـ۱۰۲ . (۹۲ ) : الفرقان: ۳۲ ؛ النحل: ۱۰۱ـ۱۰۲ ؛ الاسرأ : ۳ . (۹۳ ) : القیامه: ۱۷ـ۱۹ ؛ الفرقان: ۳۲ . (۹۴ ) : الانعام: ۹۲ . (۹۵ ) : التوبه: ۱۰۸ ؛ آل عمران: ۱۲۳ ، ۱۴۰ ، ۱۴۲ ؛ الاحزاب: ۲۲ ؛ البقره: ۱۴۴ ، ۱۹۸؛ الحج: ۲۷ـ۲۸ ؛ الفتح: ۱۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې دوهم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، د تیر کال د مبارکی روژې غوندی سږ کال هم ستاسو درانه حضور ته دیرش سوغاتونه وړاندی کوم. د سږنۍ مبارکی روژې دغه دیرش تحفې «د قرآن سره مرکه» نومیږی چی د قرآن پوهنی ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنی کیږی او هغه د خپلو آیتونو له مخی ځوابونه وایی. هیله ده چی د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځی ، دا ځکه چی نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دا یې تاسو او دا یې هم د روژې د دوهمی ورځی تحفه (ن.صمد ):

## د قران سره مرکه ( دوهمه برخه ) :

پوښتنه: آیا راته ویلای سې چی ستا ژبه کومه یوه ده ، یعنی په کومه ژبه ارشاد فرمایې ؟
ځواب: زه په فصیح او بلیغ عربی ژبه نازل سوی یم او په همدې ژبه رغیږم (۱) .

پوښتنه: ولی په عربی ژبه نازل سوی یې ؟
ځواب: دا ځکه چی د الله هر کتاب په هغه ژبه نازلیږی چی پخپله د رسول او د هغه د قوم ژبه وی تر څو په دې ډول خلک ښه په وپوهیږی. نو زه چی پر کوم رسول باندی نازل سوی یم څنګه چی د هغه او د هغه د قوم ژبه عربی ده ، نو همدا علت دی چی زه د الله لخوا په همدغه عربی ژبه راولیږل سوم که نه ، کافرانو به پلمه کولای چی رسول عرب دی ، مخاطب قوم یې هم عرب دی ، خو کتاب یې په بله ژبه دی چی موږ هیڅ نه په پوهیږو . (۲) .

پوښتنه: ستا مخاطب انسانان څوک دي ؟
ځواب: زما لومړنی مخاطب هماغه زما حامل یعنی محمد رسول االله دی (۳) . تر هغه وروسته د هغه قوم یعنی عرب قوم ته خطاب کوم (۴) ، او تر هغه وروسته تر قیامت پوری د هری سیمی ټولو انسانانو ته مخاطب یم(۵) چی په هغو کی مشرکین (۲) ، مجَوَسي (۷) ، صابی (۸) او اهل الکتاب (۹) یعنی یهودیان (۱۰) او عیسویان (۱۱) شامل دي.

پوښتنه: آیا د دې خبری معنا دا ده چی ته یو نړیـ شموله کتاب یې ؟
ځواب: هو باالکل ، زما هدایت د ټول بشر لپاره دی (۱۲) .

پوښتنه: اوس به راسم دې ته چی ستا موضوع څه ده ؟
ځواب: دا خو ډیره ښه خبره ده ، زما موضوع انسان دی (۱۳) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: آیا را ته ویلای سې چی ستا مقصد او مطلب څه دی ؟
ځواب: زما اصلی مقصد دا دی چی انسان د گمراهیۍ څخه وژغورم او هدایت او ښېگڼه ور په برخه کړم (۱۴) .

پوښتنه: دا خو ډیر عالی هدف دی ، نو آیا ستا په کومه خبره کی څه شک او شبهه پیدا کېدای سی ؟
ځواب: یا ، زما په هیڅ خبره کی آن د شک کوم گنجایش هم نه ځاییږی او زما هره خبره حقیقی ، یقینی او قطعی ده (۱۵) .

پوښتنه: آیا ستا د متن سره نوری خبری او بل څه اضافه کېدای سی که یا ؟
ځواب: یا ، زما سره ځکه هیڅ شی او هیڅ درواغ نسی گډېدای چی زه د الله سپېڅلی کلام یم (۱۶) .

پوښتنه: نو چی ته حق یې ، آیا ستا د حقانیت لنډ دلایل راته ویلای سې ؟
ځواب: هو ، زما د حقانیت څو بیلگې به داسی در وښیم :
الف-زما هره خبره پر حقیقت ولاړه ده (۱۷) .
ب-زما په خبرو کی هیڅ تضاد نسته (۱۸) .
ج-زما غوندی بل هیڅ کلام وجود نه لری (۱۹) .
د-زما په متن کی آن د یوې ذرې په اندازه هم لږښت او ډېرښت نسی راتلای (۲۰) .

پوښتنه: تا وویل چی زما په متن کی هیڅ ډول لږښت او ډیرښت نسی راتلای ، آیا دغسی کار پخپله رسول الله (ص) هم نسو کولای ؟
ځواب: یا ، دغسی کار هیڅوک هم نسی کولای (۲۱) .

پوښتنه: آیا ستا څخه مخکی الله (ج) نور کتابونه هم دنیا ته رالیږلي وو ؟
ځواب: هو ، خدای زما څخه مخکی نور کتابونه هم را نازل کړي وو (۲۲) ، لکه پر موسی (ع) باندی تورات (۲۳) ، پر داؤد (ع) باندی زبور (۲۴) ، او پر عیسی (ع) باندی انجیل (۲۵) . له دې نه علاوه ، خدای پر پیغمبرانو صحیفې ( یعنی کوچني کتابونه ) هم نازل کړي دي (۲۶) .

پوښتنه: ډیر ښه وضاحت دی راکړ . آیا دا رښتیا ده چی پر تا باندی ایمان راوړل ضروری او حتمی دی ؟
ځواب: هو باالکل ، پر ما باندی بشپړ ایمان راوړل حتمی دی (۲۷) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: اوس به راسم یوې بلې حساسې مسألې ته او هغه دا چې ځینې خلک وایي چې زه خو مسلمان یم ( یا موږ خو مسلمانان یو ) ، خیر دی چې د قرآن یعنی ستا بعضی احکام او اوامر عملی نکړو ( چې مثالونه به یې وروسته درسره مطرح کړم ) . نو آیا په دغسې حیلو او پلمو به برایت حاصل کړي ؟

ځواب: نه ، داسې نه ده بلکې زما ټول حکمونه او هدایتونه به عملي کوي ، او زما د یوې برخې څخه انکار زما د ټول متن څخه د انکار په معنا دی او داسې کسان به په الهي عذاب مبتلا کیږي (۲۸) .

(۱) : یوسف: ۲ ؛ الرعد : ۳۷ ؛ النحل: ۱۰۳ ؛ الشعرأ : ۱۹۵ ؛ الاحقاف: ۱۲ . (۲) : ابراهیم: ۴ ؛ مریم: ۹۷ ؛ الدخان: ۵۸ ؛ الاحقاف: ۱۲ ؛ النحل: ۱۰۳ ؛ حم السجده : ۴۴ . (۳) : الانعام: ۲ ؛ یونس: ۱۰۹ ؛ الاحزاب: ۲ . (۴) : الزخرف: ۴۴ ؛ آل عمران: ۲۰ ؛ یوسف: ۲ ؛ الزمر: ۲۸ ؛ حم سجده: ۳ . (۵) : یوسف: ۱۰۴ ؛ الفرقان: ۱ ؛ ص: ۸۷ ؛ القلم: ۵۲ ؛ التکویر: ۲۷ . (۶) : الانعام: ۱۰۶ ؛ التوبه: ۳۳ ؛ البقره: ۱۰۵ ؛ البینه: ۱ . (۷) : الحج: ۱۷ . (۸) : البقره: ۲۲ ؛ المایّده ۲۹ ؛ الحج: ۱۷ . (۹) : آل عمران: ۲۴ ، ۷۱ ، ۹۹ ؛ النسأ: ۴۷ ؛ المایّده ۱۵ . (۱۰) : البقره: ۲۲ ؛ المایّده: ۲۹ ؛ الحج: ۱۷ ؛ الجمعه: ۶ . (۱۱) : البقره: ۲۲ ؛ المایّده: ۱۸ ، ۲۹ ؛ التوبه: ۳۰ ؛ الحج: ۱۷ . (۱۲) : یوسف: ۱۰۴ ؛ الفرقان: ۱ ؛ ص: ۸۷ ؛ القلم: ۵۲ ؛ التکویر: ۲۷ . (۱۳) : الانفطار: ۶ ؛ الانشقاق: ۶ ؛ العصر: ۲ ؛ الدهر: ۱ ؛ یس: ۷۷ . (۱۴) : العصر: ۱-۴ ؛ ابراهیم: ۱ ؛ الحدید: ۹ ؛ الطلاق: ۱۱ ؛ البقره: ۲۵۷ . (۱۵) : الحاقه: ۵۱ ؛ الواقعه: ۹۵ ؛ الاحزاب: ۴ ؛ آل عمران: ۲۰ . (۱۶) : حم سجده: ۴۲ . (۱۷) : الانعام: ۵ ؛ یونس: ۱۰۸ ؛ البقره: ۹۱ ؛ المایّده: ۸۴ ؛ الرعد: ۱ . (۱۸) : النسأ: ۸۲ . (۱۹) : البقره: ۲۳ ؛ یونس: ۳۸ ؛ هود: ۱۳ . (۲۰) : حم سجده: ۴۱-۴۲ ؛ الحجر: ۹ . (۲۱) : یونس: ۱۵ ؛ الحاقه: ۴۴-۴۷ . (۲۲) : البقره: ۲۸۵ ؛ آل عمران: ۱۸۴ ؛ النسأ: ۱۳۶ ؛ التحریم: ۱۲ ؛ فاطر: ۲۵ . (۲۳) : الانعام: ۹۱ ، ۱۵۵ ؛ هود: ۱۱ ؛ الاسرأ: ۲ ؛ المومنون: ۴۹ ؛ الفرقان: ۳۵ . (۲۴) : النسأ: ۱۶۳ ؛ الاسرأ: ۵۵ . (۲۵) : آل عمران: ۳ ؛ المایّده: ۴۶ ؛ الاعراف: ۱۵۷ ؛ التوبه: ۱۱۱ ؛ الحدید: ۲۷ . (۲۶) : الاعلی: ۱۸-۱۹ ؛ طه: ۱۳۳ ؛ النجم: ۳۶ . (۲۷) : البقره: ۴۱ ، ۹۱ ؛ النسأ: ۴۷ ؛ التغابُن: ۸ . (۲۸) : آل عمران: ۱۱۹ ؛ البقره: ۸۵ ، ۲۰۸ ؛ التوبه: ۸۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې درېيم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، د تیر کال د مبارکې روژې غوندې سږ کال هم ستاسو درانه حضور ته دیرش سوغاتونه وړاندې کوم. د سږنۍ مبارکې روژې دغه دیرش تحفې «د قرآن سره مرکه» نومیږي چې د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده ببله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده ببله عمله !
نو دا یې تاسو او دا یې هم د روژې د درېیمې ورځې تحفه ( ن. صمد ) :

## د قران سره مرکه ، ( درېيمه برخه ) :

پوښتنه: آیا ستا د راتګ په باره کې د مخکې څخه لا پیش ګویي موجوده وه که یا ؟
ځواب: هو ، وګوره حضرت ابراهیم (ع) په خپله یوه دعا کې ما ته واضحاً اشاره کړې ده (۱) .

پوښتنه: آیا ستا څخه وروسته به هم کوم بل آسماني کتاب را نازل سي ؟
ځواب: یا ، تر ما وروسته به هیڅ کوم بل آسماني کتاب نازل نسي او زه پر آخري نبي (ص) باندې نازل سوی یم نو ځکه زه وروستی کتاب یم (۲) .

پوښتنه: نو چې ته آخري کتاب یې معنا یې دا ده چې باید تر قیامت پورې وساتل سې ، که دا سې وي نو ته د خپلې تلپاتې ساتنې څه ثبوت او تضمین لرې ؟
ځواب: ډیر ښه سوال دې وکړ ، الله پخپله تر قیامته زما د ساتنې ذمه او مسؤلیت اخیستی دی (۳) . زه په هره دوره او هره موده کې د ژوندیو انسانانو په سینو کې ساتلیً پاتیږم (۴) . هسې خو زه په هره زمانه کې په شفاهي او تحریري دواړو شکلونو سره پاته یم او شتون لرم (۵) .

پوښتنه: د دې معنا دا ده چې ته د ټول انساني ژوندانه لپاره هدایت یې ، آیا همدا سې ده ؟
ځواب: هو باالکل همدا سې ده (۶) .

پوښتنه: اوس به راسم دې موضوع ته چې ستا دعوت څه شي دی ، یعني خلک څه ته رابولې ؟
ځواب: زما دعوت ( بلنه ) دا ده چې انسان د خپل خالق خوښ کړئ او ټاکلي دین چې هماغه اسلام دی قبول کړي (۷) ، د خپل رب د احکامو اطاعت وکړي (۸) ، په هر کار او معامله کې د رسول الله(ص) پیروی وکړي (۹) ، او د آخرت د بریالیتوب لپاره ایمان او ښه عمل خپل کړي (۱۰) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: نو چې داسې ده ، آیا تا د انساني مسایلو ټول جزئیّات بیان کړي دي که یا ؟
ځواب: ما اصلاً د انساني ژوندانه اصول او مبادي په بشپړ تفصیل سره بیان کړي دي (۱۱) ، د جزئیّاتو د تفصیل او عملي تشریح مسؤلیت زما حامل یعنې محمد (ص) ته سپارل سوی دی (۱۲) .

پوښتنه: آیا دا راته ویلای سې چې ته مشکل کتاب یې که آسانه ؟
ځواب: خدای زه د هدایت او لارښوونې لپاره ډیر آسانه او د پوهېدو وړ ګرځولی یم (۱۳) . خو تر کومه ځایه چې زما په علومو او ښه پېژندنې پورې اړه لري ، نو بیا ډیر غور او تدبر ته اړتیا لیدل کیږي (۱۴) .

پوښتنه: آیا پوښتلی سم چې ستا د بیان ترتیب او طریقه څنګه ده ؟
ځواب: زما د بیان ترتیب ډیر څرګند او واضح دی (۱۵) ، باالکل طبیعي او پر زړه کښېنا ستونکی دی (۱۶) ، په هغه کې هیڅ ډول مغلق تیا او ابهام وجود نلري (۱۷) ، که ته ښه ځیر سې نو زه په ذهن کې د عین یوې خبرې د کښېنولو په خاطر هغه په څو طریقو او ډولونو سره بیانوم تر څو په پوهاوي کې یې څه ستونزه پیښه نسي (۱۸) .

پوښتنه: نو ستا د استدلال طریقه څنګه ده ؟
ځواب: زما استدلال باالکل فطري دی چې د هغه بنسټ د مخاطب پر اقرار او اعتراف باندې ولاړ دی (۱۹) . له دې نه علاوه ، زه انسان ته بلنه ورکوم چې د خپل دننه او بهر ټول کایّنات او د هغه اغېزو او پیښو ته ښه غور وکړي تر څو د خپل دننه او دباندې ټول حقایق ښه ورمعلوم سي او د هغو د غوښتنو سره سم صحیح لاره غوره کړي (۲۰) .

پوښتنه: اوس به یوه بله موضوع مطرح کړم او هغه دا چې آیا راته ویلای سې چې ستا ترتیب څنګه جوړ سوی دی ؟
ځواب: ښه پوښتنه دې وکړه ، زه د ډیرو سورتونو د مجموعې څخه جوړ سوی یم (۲۱) .

(۱) : البقره : **۱۲۹** ؛ آل عمران : **۱۶۴** . (۲) : الاحزاب : **۴۰** . (۳) : الحجر : **۹** . (۴) : العنکبوت : **۴۹** . (**۵**) : القیامه : **۱۷** ؛ الانعام : **۹۲** ؛ الاحقاف : ۱۲ ؛ ص : **۸۷** ؛ القلم : **۵۲** . (۶) : البقره : **۲۰۸** ؛ آل عمران : **۱۹** ، **۸۵** ؛ الاسرأ : **۹** ؛ الذاریات : **۵۶** . (۷) : آل عمران : **۱۹** ، **۲۰** ، **۸۵** ؛ المایّده : **۳** ؛ الانعام : **۱۲۵** ؛ الحج : **۳۴** ؛ البقره : **۲۰۸** . (۸) : آل عمران : **۱۳۲** ؛ النسأ : **۵۹** ؛ المایّده : **۹۲** ؛ الانفال : **۴۶** ؛ التغابُن : **۱۲** . (۹) : آل عمران : **۳۱** ؛ الاعراف : **۱۵۸** ؛ النسأ : **۵۹** ؛ الانفال : **۴۶** ؛ محمد : **۳۳** . (۱۰) : البقره : **۲۲** ، **۸۲** ؛ المایّده : **۶۹** ؛ هود : **۲۳** ؛ ابراهیم : **۲۳** ؛ العصر : **۳** . (۱۱) : الانعام : **۱۵** ؛ هود : **۱** . (۱۲) : النحل : **۴۴** ، **۶۴** ؛ آل عمران : **۱۳۲** ؛ النسأ **۵۹** ؛ الاحزاب : **۲۱** . (۱۳) : القمر : **۱۷** ، **۲۲** ، **۳۲** ، **۴۰** ؛ مریم : **۹۷** ؛ الدخان : **۵۸** . (۱۴) : النسأ : **۸۲** ؛ محمد : **۲۴** ؛ ص : **۲۹** . (**۱۵**) : المایّده : **۱۵** ؛ یوسف : **۱** ؛ الحجر : **۱** ؛ النحل : **۱۰۳** ؛ الشعرأ : **۲** . (۱۶) : المایّده : **۹۲** ، **۹۹** ؛ ابراهیم : **۹۲** ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



النحل: **۳۵** ، ۸۲ ؛ النور: **۵۴** ؛ العنکبوت: ۱۸. (۱۷) : الکهف: ۱ ؛ الزمر: ۲۸. (۱۸) : الاسرأ: ۴۱ ، **۸۹** ؛ الکهف: **۵۴** ؛ طه: ۱۱۳ ؛ الاحقاف: ۲۷ ؛ الفرقان: **۵۰**. (۱۹) : یونس: ۳۱ ؛ المومنون: **۸۵** ، ۸۷ ، **۸۹**. (۲۰) : حم سجده: **۵۳-۵۴** ؛ الذاریات: ۲۰-۲۳ ؛ البقره: ۱۲۴ ؛ آل عمران: ۱۹۰-۱۹۱ ؛ الاعراف: ۱۹۱. (۲۱) : هود: ۱۳ ؛ البقره: ۲۳ ؛ التوبه: ۲۴ ، ۸۲ ، ۱۲۴ ، ۱۲۷ ؛ یونس: ۳۸ ؛ النور: ۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې څلورم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، خدای دې وکړې چې د روژې تیر درې سوغاتونه ګټور تمام سوي وی. دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه» نومیږی د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږی او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځی ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !
نو د څلورمې روژې لپاره څلورم سوغات لطفاً ملاحظه کړئ ، ( ن.صمد )

## د قران سره مرکه ( څلورمه برخه ) :

پوښتنه: ستا آیتونه څو ډوله دي ؟
ځواب: زما آیتونه دوه ډوله دي چې هغه محکم او متشابه نومیږی (۱) .

پوښتنه: آیا تسمیه یعنی بسم الله هم ستا آیت دی ؟ ځکه په دې باره کی ډول ډول نظریات وړاندی کیږی.
ځواب: هو ، بسم الله الرحمن الرحیم زما یو مستقل آیت دی (۲) .

پوښتنه: آیا تا ځینی آیتونه تکراراً هم ذکر کړي دي ؟ که وی ، نو څو بیلګې یې را ښوولای سې ؟
ځواب: هو ، ما څو ځله بعضی آیتونه تکراراً ذکر کړي دي ، مثلاً:
الف- فبِایِ الآءِ رَبِکُما تُکذِبن ( پس د خپل رب په کوم نعمت د نعمتونو درواغ وایاست ) ۳۱ واره (۳) .
ب- وَلَقَد یَسَرنَا اَلقُرآن لِذِکر فهل مِن مُدَکِر ( مونږ دا [قرآن] آسانه کړی دی ، نو آیا نصیحت منونکی څوک سته ؟ ) ۴ واره (۴) .
ج- وَیلُ یَو مَیِّذِ لِلمُکذِبین ( د هماغه ورځی درواغ ګڼونکو ته تباهی ده ) لس ځله (۵) .

پوښتنه: دا خو په زړه پوری معلومات وو . آیا خپل څو جامع آیتونه هم را ښوولای سې ؟
ځواب: هو ولی نه ، دا دري بیلګی په غور سره واوره :
الف- وَمَن یُطِعِ اللهَ وَرَسُوله وَیَخشِ اللهَ وَیَتقهُ فالیکَ هُمُ المُفلِحُون (۶) ، یعنی: او هغه څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړی ، د الله څخه وبیریږی او پرهیزګاري غوره کړي نو هغوی به په مراد ورسیږی.
ب- اِنَ اللهَ یَامُرُ بالعَدل وَالاِحسَان وَ ایتاَ ذِی القربی وَیَنهی عن الفحشاءِ وَالمُنکر وَالبَغی یَعِظکُم لعَلکُم تَذکرُون (۷) ، یعنی: الله د عدالت ، ښېګڼی او صلهً رحمی حکم کوي او د بدی ، بې حیایی او ظلم او تیري څخه منع کوی ، هغه تاسی ته نصیحت کوی تر څو قبول یې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج ـ يَا ايُها الذِينَ آمَنوا اصبرُوا وَصَابرُوا وَرَابِطو وَاتَقوا اللهَ لعَلكُم تُفلحُون (۸) ، يعنی : اې ايمان لرونکو ، صبر وکړئ ، يو بل ته د صبر تلقين وکړئ ، مقابلې ته چمتو سئ او د الله څخه وبيرېږئ تر څو بريالي سئ.

پوښتنه : دا خو ډير مهم آيتونه وو . اوس به راسم دې پوښتنی ته چی آيا تا داسی حروف هم استعمال کړي دي چی د بيلو بيلو تورو په شکل وی ؟ که وی ، نو تعداد يې څو ته رسيږی؟
ځواب : هو ، ما دغسی حروف ذکر کړي دي چی شمير يې ۱۴ ته رسيږی او هغه « مقطعات » بلل کيږی چی ټول د سورتو په پيل کی راغلي دي ، مثلاً :
الم (۹) ، المص (۱۰) ، الر (۱۱) ، طه (۱۲) ، طس (۱۳) ، طسم (۱۴) ، حم (۱۵) ، حم عسق (۱۶) ، ق (۱۷) ، ن (۱۸) ، ص (۱۹) ، يس (۲۰) ، المر (۲۱) ، کهيعص (۲۲) .

پوښتنه : آيا ستا د تلاوت پر مهال سجده کول واجب دی ؟
ځواب : زما په متن کی څو ځايه داسی دي چی د هغو د تلاوت يا اورېدو پر مهال سجده کول واجب ده . (۲۳)

پوښتنه : اوس به راسم دې ته چی آيا تا په خپل متن کی قسم هم اخيستی دی که يا ؟
ځواب : هو ، ما ډير ځله قسمونه اخيستي دي ، مثلاً : والعصر (۲۴) يعنی په زمانه می قسم ، والشمس (۲۵) يعنی په لمر می قسم ، والليل (۲۶) يعنی په شپه می قسم او ډير نور .

پوښتنه : آيا تا تشبيهه هم استعمال کړې ده ؟ که وی يو مثال يې راکړه .
ځواب : هو ډير تشبيهات می کارولي دي مثلاً : مَثلُ الذين اتَخَذوا مِن دُون الله اولياً کمَثلِ العَنکبُوتِ اتَخَذت بَيتا وَ اِن اوهَنَ البُيُوت لبَيتُ العَنکبُوت لو کانوا يَعلمُون (۲۷) يعنی : هغه کسان چی الله يې پريښود بل معبود يې غوره کړ نو د هغه غنې په شان دی چی کور يې جوړ کړی دی ، حقيقت دا دی چی تر ټولو کمزوره هماغه د غنې کور دی کاشکی دغه خلک پوهېدای .
په دغه مثال کی د مشرکانو معبودان د غنې د ځالی سره تشبه سوي دي معنا دا چی څومره چی د غنې ځاله کمزوره ده په هماغه اندازه د دغو خلکو معبودونه هم کمزوره او بې اغيزې دي .

پوښتنه : آيا تا کومه استعاره يا کنايه هم بيان کړې ده ؟ خصوصاً د پرونيو او ننني ګمراهانو لپاره ؟
ځواب : هو ، ما ډيری کنايې استعمال کړي دي ، مثلاً : صُم بُکم عُمی فهُم لا يَرجعون (۲۸) ، يعنی : هغوی کاڼه دي ، ګونګيان دي او ړانده دي ، نو ر به نو هغوی بيرته را و نه ګرځي .
په دې مثال کی د کنايې په ډول هغه خلک کاڼه ، ګونګيان او ړانده بلل سوي دي چی حق نه اوری ، نه يې وايی او نه يې هم وينی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: آيا تا پيش بينۍ هم کړي دي که يا ؟
ځواب: هوکی ، ما ځينی پيش ګويانی کړي دي چی ټولی ثابتی سوي هم دي ، مثلأ دا چی تا به خدای د خلګو څخه وساتی ، يا دا چی د غسی قرآن به هيڅکله هم رانه وړای سي ، يا دا چی کافران به ناکامه کيږی ، يا دا چی هغوی به مات سی (۲۹) . زما دغه پيش بينی ملاحظه کړه: وَاِن کادُوا لَيَستفِزُونکَ مِنَ الارض لِيُخرجُوکَ مِنهَا وَاِذأ لا يَلبَثوُن خِلفکَ اِلا قلِيلا (۳۰) ، يعنی: او هغوی غوښته چی تا د دې سيمی څخه په شړلو سره وبيروی او نور به هغوی پخپله هم تر تا وروسته خورا لږ موده پاته سی.
کله چی د مکې کفارو محمد (ص) له وطنه شړلو ته اړ يوست ، نو پخپله هغوی هم ډير ژر د دنيا څخه ولاړل.

(۱): آل عمران: ۷. (۲): النمل: ۳۰. (۳): الرحمن: ۱۳. (۴): القمر: ۱۷ ، ۲۲ ، ۳۲ ، ۴۰. (**۵**): المرسلات: **۱۵** ، ۱۹ ، ۲۴ ، ۲۸ ، ۳۴ ، ۳۷ ، ۴۰ ، **۴۵** ، ۴۷ ، ۴۹. (۶): النور: **۵۲**. (۷): النحل: ۹۰. (۸): آل عمران: ۲۰۰. (۹): البقره: ۱ ؛ ال عمران: ۱ ؛ العنکبوت: ۱ ؛ الروم: ۱ ؛ لقمان: ۱ ؛ السجده: ۱. (۱۰): الاعراف: ۱. (۱۱): يونس: ۱ ؛ هود: ۱ ؛ يوسف: ۱ ؛ ابراهيم: ۱ ؛ الحجر: ۱. (۱۲): طه: ۱. (۱۳): النمل: ۱. (۱۴): الشعرأ: ۱ ؛ القصص: ۱.
(**۱۵**): المومن: ۱ ؛ حم سجده: ۱ ؛ الزخرف: ۱ ؛ الدخان: ۱ ؛الجاثيه: ۱ ؛ الاحقاف: ۱ ؛ الشوری: ۱. (۱۶): الشوری: ۱-۲. (۱۷): ق: ۱. (۱۸): القلم: ۱. (۱۹): ص: ۱. (۲۰): يس: ۱. (۲۱): الرعد: ۱. (۲۲): مريم: ۱. (۲۳): الاسرأ: ۱۰۷ ؛ مريم: **۵۸** ؛ السجده: **۱۵** ؛ الاعراف: ۲۰۶ ؛ الرعد: **۱۵**. (۲۴): العصر: ۱. (**۲۵**): الشمس: ۱.
(۲۶): اليل: ۱. (۲۷): العنکبوت: ۴۱. (۲۸): البقره: ۱۸. (۲۹): الاسرأ: ۷۶ ؛ المايّده: ۶۷ ؛ البقره: ۲۳-۲۴ ؛ آل عمران: ۱۲ ، **۱۵۱** ؛ القمر: **۴۵**. (۳۰): الاسرأ: ۷۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې پنځم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنې ډېره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دا دی د پنځمی روژې لپاره پنځم سوغات لطفاً مطالعه کړئ ، ( ن.صمد )

## د قران سره مرکه ( پنځمه برخه ) :

پوښتنه: آیا ته د علم ښېګڼې ته تسلیم یې ، یعنې هغه منې ؟ ځکه بعضې کسان ګمراه کونکي ادعاګانې کوي.

ځواب: زما په نظر د علم ښېګڼه ثابته او غوڅه ده او زه پر علم ډېر ټینګار کوم. ما علم رڼا او عالم اصلي لیدونکي بللی دی ، د عالمانو درجې خدای لوړوي ، علم د انسان پوهه ، ایمان ، ادب او مدنیت پیاوړی کوي. نو آیا دا هر څه د علم سره زما علاقه او رابطه نه ثابتوي ؟(۱).

پوښتنه: هو باالکل همداسې ده. آیا کولای سم چې وپوښتم ستا د تلاوت آداب کوم دي ؟

ځواب: ډیر ښه ، زما د تلاوت څو مهم آداب په دې ډول دي:

لومړی- پاک او صاف والی(۲) ؛

دوهم- تر هر څه مخکې تعوذ ( یعنې اعوذ باالله من الشیطن رجیم ) ویل(۳) ؛

درېیم- وروسته تسمیه ( یعنې بسم الله الرحمن الرحیم ) ویل(۴) ؛

څلورم- سَوکه سَوکه او په سړه سینه تلاوت کول(۵) ؛

پنځم- په تلاوت کې له تلوار ه کار نه اخیستل(۲) ؛

شپږم- په خشوع او خضوع سره تلاوت کول(۷) ؛

اووم- پر هغه باندې غور او تدبُر کول(۸) ؛

اتم- د نورو لخوا په چوپتیا او ډېره توجه سره زما تلاوت اورېدل(۹) ؛

نهم- د سجده آیتونو په لوستلو یا اورېدلو سره سجده ادا کول(۱۰) ؛

پوښتنه: ستا فضایل یا ښېګڼې څه دي ؟

ځواب: زما ښېګڼې ډېرې دي چې څو مختصرې بیلګې به یې داسې در وپیژنم:

لومړی- زه د الله کلام یم(۱۱) ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم-زما غوندی بل کلام نسته او زه بهترین کلام یم (۱۲) ؛
دریيم-زما کار دا دی چی انسانان د گمراهۍ د تیارې څخه راوباسم او د هدایت رڼا ته یې راوبولم (۱۳) ؛
څلورم-زه زړونو ته حوصله بخښم او ذهن او فکر ته ټینگښت عطأ کوم (۱۴) ؛
پنځم-زه د ټولو انسانانو د روحی ناروغیو لپاره د شفا پیغام یم (۱۵) ؛
شپږم-زه ایمان والاوو ته بشارت یا زیری یم (۱۶) ؛
اووم-زما اغېزه ثابته او مُسَلمه ده (۱۷) ؛
اتم-زما تلاوت یو ډیر لوی عبادت دی (۱۸) ؛

پوښتنه: ډیره مننه ، آیا راته ویلای سې چی پر تا باندی مخالفینو اعتراضونه کړي دي که یا ؟ که وی لطفاً یې څو بیلگې راته ووایه.
ځواب: هو ، پر ما مخالفینو یو څه اعتراضات او نیوکي کړي دي چی ځینی یې دا دي:
لومړی-وایی چی زه د رسول الله (ص) لخوا جوړ سوی یم او گواکی الله تعالی نه یم نازل کړی (۱۹) ؛
دوهم-وایی که موږ دا ومنو چی ته د الله لخوا نازل سوی یې ، نو بیا سوال دا دی چی ولی په یو ځایی توگه نه یې نازل سوی او ولی لږ لږ نازل سوی یې (۲۰) ؛
دریيم-وایی چی رسول الله (ص) زه د یو عجمی شخص ( غیر عرب ) په مرسته جوړ کړی یم (۲۱) ؛
څلورم-وایی چی زه باید د هغو دوو مشهورو کسانو څخه پر یوه نازل سوی وای چی د عربو د دوو مشهورو ښارونو ( یعنی مکې او طایف ) مشران وو (۲۲) ؛
پنځم-وایی چی زما پر ځای کوم بل [ نرم دریځه ] قرآن باید نازل سوی وای تر څو د دوی لپاره د منلو وړ وای (۲۳) ؛
شپږم-وایی چی زه باید د دوی د هیلو مطابق بدل سم (۲۴) ؛
اووم-زه یې شعر او شاعري بللی یم (۲۵) ؛
اتم-زه یې د پخوانیو خلکو بې سر او بې پښو داستانونه گڼلی یم (۲۶) ؛
نهم-زه یې د خوب او خیال پاشلی بیان بللی یم (۲۷) ؛
لسم-زه یې جادو بللی یم (۲۸) ؛

پوښتنه: هغوی ولی داسی کول یا یې اوس کوی ؟ یعنی ستا مخالفت ولی سوی دی ؟
ځواب: د بیلا بیلو خلکو لخوا زما سره مخالفت سوی دی چی د علتونو څو مثالونه یې دا دي:
لومړی-د نفسانی غوښتنو پیروی (۲۹) ؛
دوهم-د لاس تنگی او بدحالۍ خطر (۳۰) ؛
دریيم-د ظلم او زیادتیو ناوړه عادت (۳۱) ؛
څلورم-د پلرونو او نیکونو په پټو سترگو تقلید (۳۲) ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم۔ خپل منځي تعصب او ډلي ډلي والی (۳۳) ؛
شپږم۔ مجرمانه ذهنيت او تفکر (۳۴) ؛
اووم۔ ضديت او سپين سترګي (۳۵) ؛

پوښتنه: هغوی دی الله اصلاح يا تباه کړی چی بې دليله او چټې دغسی ضديت درسره لری. اوس به يوه بله موضوع مطرح کړم او هغه دا چی د دې دنيا په باره کی څه فکر کوې ؟
ځواب: دا دنيا د انسانانو ازموينځی دی (۳۶) ، دا يو مؤقتی او فانی ځای دی او تر دې وروسته به قيامت راځی او يو بل مستقل او تلپاته جهان به شتون ولری (۳۷) . دا دنيا د لوبو ځای دی (۳۸) ، د خطا ايستلو ځای دی (۳۹) ، د ښکلاوو او وياړ ښودلو نوم دی (۴۰) ، د آخرت په پرتله دا ډير محدود او کوچنی دی (۴۱) .

پوښتنه: ستا په نظر د انسان د ژوند څخه مقصد څه دی ؟
ځواب: زما په نظر د انسان د ژوندانه مقصد د الله بشپړ اطاعت ، عبادت او بندګي ده (۴۲) .

پوښتنه: آيا دا به لازمه وی چی در څخه وپوښتم چی لوی خدای ټوله کاينات په څومره موده کی جوړ کړل ؟
ځواب: هو ، هر سوال چی لرې ، آزادانه يې مطرح کولای سې. ستا د دې پوښتنی په ځواب کی به درته ووايم چی لوی الله ټول کاينات په شپږو ورځو کی بېله هيڅ ډول ستړيا څخه جوړ کړي دي (۴۳) . خو دا می هم ويلی دي چی ښه غور او تدبر وکړه (۴۴) .

پوښتنه: داسی ادعا کيږی چی د ساينس له مخی د کاينات هر شی جوړه جوړه پيدا سوی دی. خو داسی هم اوريدل کيږی چی کله ساينس د خالپوڅو په حال کی و ، تا ويلی وو چی الله هر شی جوړه جوړه خلق کړی دی. آيا په دې هکله څه راته ويلای سې ؟
ځواب: هو ، په دې کی هيڅ شک نسته چی ما واضحاً ويلی دي چی الله هر شی جوړه جوړه پيدا کړی دی (۴۵) . آن دا چی زما يو نوم پخپله هم مثانی ( يعنی جوړه جوړه ) دی (۴۶) .

(۱) : الزمر : ۹ ؛ الرعد : ۱۲ ؛ المجادله : ۱۱ ؛ الکهف : ۱۱۴ ؛ الحجرات : ۱۳ . (۲) : الواقعه : ۷۹ . (۳) : النحل : ۹۸ . (۴) : العلق : ۱ . (۵) : المزمل : ۴ . (۶) : القيامه : ۱۶ ؛ طه : ۱۱۴ . (۷) : الاسرأ : ۱۰۹ . (۸) : النسأ : ۸۲ ؛ ص : ۲۹ . (۹) : الاعراف : ۲۰۴ . (۱۰) : مريم : ۵۸ ؛ الاسرأ : ۱۰۷ ؛ السجده : ۱۵ . (۱۱) : التوبه : ۶ ؛ الفتح : ۱۵ ؛ يونس : ۳۷ . (۱۲) : الاسرأ : ۸۸ ؛ يونس : ۳۸ ؛ البقره : ۲۳-۲۴ ؛ هود : ۱۳-۱۴ . (۱۳) : ابراهيم : ۱ ؛ الاسرأ : ۹ . (۱۴) : النحل : ۱۰۲ . (۱۵) : يونس : ۵۷ ؛ الاسرأ : ۸۲ ؛ حم سجده : ۴۴ . (۱۶) : البقره : ۹۷ ؛ النحل : ۸۹ ، ۱۰۲ ؛ النمل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ ؛ الاحقاف: ۱۲. (۱۷): الزمر: ۲۳ ؛ الاسرأ: ۱۰۷ ، ۱۰۹ ؛ الحشر: ۲۱. (۱۸): فاطر: ۲۹ ؛ البقره: ۱۲۱ ؛ الاحزاب
: ۳۴. (۱۹): یونس: ۳۸ ؛ هود: ۱۳ ؛ الانبیأ: ۵ ؛ الفرقان: ۴ ؛ السجده: ۳. (۲۰): الفرقان: ۳۲ ؛ الاسرأ: ۱۰۶
؛ التوبه: ۸۶ ، ۱۲۴ ، ۱۲۷ ؛ محمد: ۲۰. (۲۱): النحل: ۱۰۳ ؛ الفرقان: ۴. (۲۲): الزخرف: ۳۱. (۲۳): یونس:
۱۵. (۲۴): یونس: ۱۵. (۲۵): یس: ۶۹ ؛ انبیأ: ۵ ؛ الحاقه: ۴۱ ؛ الطور: ۳۰. (۲۶): الانعام: ۲۵ ؛ الانفال: ۳۱
؛ النحل: ۲۴ ؛ الفرقان: ۵ ؛ المطففین: ۱۳. (۲۷): الانبیأ: ۵. (۲۸): السبا: ۴۳ ؛ الزخرف: ۳۰ ؛ الانبیأ: ۳ ؛
الاحقاف: ۱۷ ؛ المدثر: ۲۴. (۲۹): القمر: ۳. (۳۰): القصص: ۵۷. (۳۱): العنکبوت: ۴۹. (۳۲): البقره: ۱۷۰
؛ المایّده: ۱۰۴. (۳۳): ص: ۱-۲ ؛ الفتح: ۲۶. (۳۴): المطففین: ۱۲. (۳۵): البقره: ۸۹-۹۰ ؛ العنکبوت: ۴۷
. (۳۶): الملک: ۲ ؛ هود: ۷ ؛ المایّده: ۴۸ ؛ الانعام: ۱۲۵ ؛ الکهف: ۷. (۳۷): یونس: ۲۴ ؛ الکهف: ۴۵.
(۳۸): الانعام: ۳۲ ؛ العنکبوت: ۶۴ ؛ محمد: ۳۶ ؛ الحدید: ۲۰. (۳۹): آل عمران: ۸۵: الانعام: ۷۰ ، ۱۳۰ ؛
الاعراف: ۵۱ ؛ لقمان: ۳۳ ؛ فاطر: ۵. (۴۰): الحدید: ۲۰. (۴۱): النسأ: ۷۷ ؛ التوبه: ۳۸ ؛ الرعد: ۲۶ ؛
یونس: ۲۴. (۴۲): الذاریات: ۵۶ ؛ البقره: ۲۱ ؛ یونس: ۳ ؛ النحل: ۳۶ ؛ الانبیأ: ۲۵. (۴۳): الاعراف: ۵۴ ؛
یونس: ۳ ؛ هود: ۷ ؛ الفرقان: ۵۹ ؛ ق: ۳۸. (۴۴): النسأ ۸۲ ؛ ص: ۲۹ ؛ محمد: ۲۴. (۴۵): الذاریات: ۴۹
؛ الزمر: ۶۲ ؛ یس: ۳۶ ؛ الرعد: ۳ ؛ الزخرف: ۱۲. (۴۶): الحجر: ۸۷ ؛ الزمر: ۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې شپږم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دا یې هم د شپږمې روژې لپاره شپږم سوغات ، ( ن. صمد )

## د قران سره مرکه ( شپږمه برخه ) :

پوښتنه: انسان په کومه درجه یا کوم مقام کې ځای لري ؟
ځواب: انسان تر ټولو مخلوقاتو افضل دی او بهتر مقام لري یعنې اشرف المخلوقات دی(۱) .

پوښتنه: ما داسې هم اورېدلي چې تا انسان د خدای نایب یعنې نماینده بللی دی ، آیا دا رښتیا ده ؟
ځواب: ما انسان ته تر هر څه دا ستر نعمت عطا کړی چې هغه مې د الله نایب او خلیفه بللی دی او کله چې الله د هغه د جوړولو په هکله ملایکو ته خبر ورکړ نو فرشتو ورته وویل چې آیا هغه څه ایجادوې چې پر مځکه فساد جوړوی او وینې تویوي ؟ خو الله ورته وویل چې بیشکه ما ته هر څه ښه معلوم دي نه تاسو ته (۲) .

پوښتنه: دا خو ډیر مهم معلومات وو. اوس به راسم دې ته چې د بشر دغه لومړنی انسان څوک و ؟
ځواب: دا لومړنی انسان آدم (علیه السلام) نومیږي او ټول بشر د هغه اولاد دی (۳) .

پوښتنه: آیا دا صحیح ده چې ملایکو دغه انسان ته سجده وکړه ؟ که وی آیا دا تر هر څه ستر درښت نه دی؟
ځواب: هو باالکل همداسې ده. کله چې الله هغه خلق کړ نو فرشتو ته یې د سجدې امر وکړ او هغوی هم ټولو بېله شیطان څخه آدم (ع) ته سجده وکړه (۴) .

پوښتنه: نو آیا انسان د دې ستر امتیاز تر څنګ یو مسؤل او ذمه وار مخلوق هم دی که یا ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: هو ، هغه ډیر مسؤلیتونه لری. مثلأ: بې خبره او بې ثبوته باید په چا پسی څه و نه وایی او نه هم څه وکړی ، هغه د الله د عبادت لپاره خلق سوی دی (۵) ، نو ځکه به د هر انسان حتی رسولانو سره هم حساب کتاب کیږی (۶) .

پوښتنه: خدای دی هر انسان خصوصأ مسلمانان منجمله افغانان په خپل دغه حساس مسؤلیت پوه کړی. بله پوښتنه می دا ده چی د انسانی فطرت مهمی ځانګړتیاوی کومی دي ؟

ځواب: د انسان د فطرت څو مهمی ځانګړنی دا دي:

۱- لومړنی انسان د خاورو څخه جوړ سو (۷) ، وروسته نور د نطفې څخه پیدا سوي دي (۸) .

۲- د هغه په ختیه (فطرت) کی د نیکۍ او بدۍ دواړو شعور موجود دی (۹) .

۳- په هغه کی هدایت تعبیه سوی دی (۱۰) .

۴- هغه د زحمت او مشقت ګاللو لپاره پیدا سوی دی (۱۱) .

۵- هغه په عمومی توګه تلواري (۱۲) ، ناشکره (۱۳) ، زړه تنګیً او کم ظرفه (۱۴) ، ناپوه (۱۵) ، ظالم او تیری کونکی (۱۶) ، جګړه پال (۱۷) ، بخیل (۱۸) ، حریص (۱۹) او دنیا پرست (۲۰) دی.

۶- د خوښۍ په حالت کی انسان فخر او لویی کوی ، خو د لاس تنګۍ او بد حالۍ پر مهال د بې صبرۍ او مأیوسۍ په غیږ ورځی (۲۱) .

۷- په هغه کی د میرمنی او اولادو طبیعی شوق او رغبت موجود دی (۲۲) .

۸- که پر انسان څه مصیبت راسی نو الله ته مراجعه کوی (۲۳) ، او ځکه نو په تاوان کی دی (۲۴) .

پوښتنه: آیا انسان دښمن لری ؟ که وی نو ستا په نظر هغه څوک دی ؟

ځواب: د انسان تر ټولو ستر دښمن شیطان دی (۲۵) .

پوښتنه: آیا تا داسی هم ویلی چی الله پر ځینو کسانو باندی شیطان مسلط کړی دی حال دا چی هغوی ځانونه سم بولی ؟

ځواب: هو دا صحیح ده. هر څوک چی د رحمان د ذکر څخه غافل وی نو الله پر هغوی شیطان مسلط کوی او هغه یې ملګرئ وی او د سمی لاری څخه یې لیری ساتی حال دا چی هغوی ځانونه پر سمه لار روان بولی (۲۶) .

پوښتنه: الله دی ټولو مسلمانانو ته د دغسی مُهلکی ناروغۍ څخه چی ډیرئ په مبتلا دي ، نجات ورکړی. بله پوښتنه می دا ده چی آیا په انسانی ختیه کی الله تعالی د لومړۍ ورځی څخه د خپل ربوبیت اقرار تعبیه کړی دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: هو باالکل همداسی ده ، د هر انسان روح د لومړی ورځی څخه الله د خپل رب په حیث منلی دی (۲۷).

پوښتنه: آیا راته ویلای سې چی د انسان لويي لويي نفساني غوښتني کومی دي ؟
ځواب: د انسان څو عمده نفسی خواهشات چی ما ذکر کړي دي ، دا دي:
۱ـجنس (۲۸) ؛
۲ـاولاد (۲۹) ؛
۳ـمال او دولت (۳۰) ؛
۴ـسوَرلي (۳۱) [لکه د آس ، موټر او نورو] ؛
۵ـڅاروی او اهلی حیوانات (۳۲) ؛
۶ـمځکه او د هغې پیداوار (۳۳) ؛
۷ـکور او محل (۳۴) ؛

پوښتنه: د دې اړینو معلوماتو څخه مننه. بله پوښتنه می دا ده چی ستا په نظر انساني عقل څه اهمیت لری ؟
ځواب: انسان ته چی الله تر ټولو غټ نعمت عطأ کړی دی هماغه عقل دی. نو د هغه څخه سم کار نه اخیستل د الله ناشکري ده (۳۵) . ما په خپل متن کی انساني عقل ته بلنه ورکړې ده چی کایناتو ته ښه غور او فکر وکړی او په هغه کی د الله قدرت او حکمت ووینی (۳۶) . د الله شریعت هم د عقل او حکمت سره باالکل سمون لری (۳۷) . د بل چا په پټو سترګو تقلید کول او د خپل عقل څخه کار نه اخیستل غلط کار دی (۳۸) . په کومه معامله او مسأله کی د علم او تحقیق څخه پرته صرف د وهم او ګومان څخه کار اخیستل ښه نه دی (۳۹) . د هر انسان څخه به د هغه د عقل د نه استعمالولو له کبله پوښتنه کیږی (۴۰) .

پوښتنه: ډیره مننه. اوس به راسم دې ته چی آیا هر انسان مړ کیږی که څنګه ؟
ځواب: هوکې ، هر پیدا کېدونکی انسان مړ کیږی (۴۱) .

(۱): الاسرأ: ۷۰ ؛ التین: ۴ ؛ البقره: ۳۴. (۲): البقره: ۳۰. (۳): آل عمران: **۵۹** ؛ الاعراف: ۲۲ ؛ الحجر: ۳۳ ؛ الاسرأ: ۷۰ ؛ یس: ۲۰. (۴): البقره: ۳۴. (**۵**): الذاریات: **۵۶**. (۶): القیامه: ۳۶ ؛ الاسرأ: ۳۶ ؛ الاعراف: ۶. (۷): الحجر: ۲۲ ؛ السجده: ۷ ؛ الرحمن: ۱۴. (۸): النحل: ۴ ؛ السجده: ۸ ؛ الدهر: ۲ ؛ الطارق **۵**ـ۷. (۹): الشمس: ۸ ؛ البلد: ۱۰. (۱۰): طه: **۵۰** ؛ الدهر: ۳ ؛ الاعلی: ۳ ؛ البلد: ۱۰ ؛ الشمس: ۸. (۱۱): البلد: ۴. (۱۲): الاسرأ: ۱۱ ؛ الانبیأ: ۳۷. (۱۳): ابراهیم: ۳۴ ؛ الاسرأ: ۶۷ ؛ الحج: ۶۶ ؛ الشوری: ۴۸ ؛ الزخرف: **۱۵**. (۱۴): الاسرأ: ۱۰۰. (**۱۵**): الاحزاب: ۷۲. (۱۶): ابراهیم: ۳۴ ؛ الاحزاب: ۷۲. (۱۷): الکهف: **۵۴** ؛ یس: ۷۷. (۱۸):

(c) ketabton.com: The Digital Library



المعارج:۲۱ ؛ النسأ : ۱۲۸ . (۱۹) : المعارج: ۱۹ ؛ النسأ : ۱۲۸ . (۲۰) : العادیات: ۸ ؛ الفجر : ۲۰ ؛ آل عمران: ۱۵۲ ؛ النسأ : ۱۲۸ . (۲۱) : الشوری: ۴۸ ؛ هود : ۱۰ ؛ الروم: ۳۶ ؛ المعارج: ۲۰ ؛ هود : ۹ ؛ حم سجده: ۹ ؛ الاسرأ : ۸۲ . (۲۲) : الفرقان: ۷۴ ؛ الروم: ۲۱ ؛ آل عمران: ۳۸ ؛ ابراهیم: ۳۹ . (۲۳) : یونس: ۱۲ ؛ الزمر: ۸ ، ۴۹ . (۲۴) : العصر: ۲ . (۲۵) : البقره: ۳۶ . (۲۶) : الزخرف: ۳۶-۳۷ . (۲۷) : الاعراف: ۱۷۲ . (۲۸) : آل عمران: ۱۴ . (۲۹) : آل عمران: ۱۴ . (۳۰) : آل عمران: ۱۴ . (۳۱) : آل عمران: ۱۴ . (۳۲) : آل عمران: ۱۴ . (۳۳) : آل عمران: ۱۴ . (۳۴) : التوبه ۲۴ . (۳۵) : الملک: ۲۳ . (۳۶) : البقره: ۱۶۴ ؛ الانعام: ۹۵-۹۹ ؛ الروم: ۸ ؛ الجاثیه: ۲۲ ؛ التغابن: ۳ . (۳۷) : البقره: ۱۷۹ ، ۱۸۴ ، ۲۸۲ ؛ الاعراف: ۱۵۷ . (۳۸) : البقره ک ۱۷۰ ؛ المایّده: ۱۰۴ . (۳۹) : الاسرأ : ۳۶ ؛ النجم: ۲۳ و ۲۸ . (۴۰) : الاسرأ : ۳۶ . (۴۱) : آل عمران: ۱۵۸ ؛ الانبیأ : ۳۴ ، ۳۵ ؛ العنکبوت: ۵۷ ؛ الزمر: ۳۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې اووم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږی د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږی او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو د اوومې روژې لپاره اووم سوغات وړاندې کوم ، ( ن. صمد )

## د قران سره مرکه ( اوومه برخه ) :

پوښتنه: لوی خدای انسانانو ته څومره نعمتونه عطأ کړي دي ؟

ځواب: الله تعالی انسان په بې حده ډیرو حتی بې حسابه نعمتونو سره نازولی دی (۱) .

پوښتنه: د دغو ډیرو او بې حسابه نعمتونو یو مثال راکولای سې ؟

ځواب: اولین او تر ټولو غټ نعمت د الله روح ده ، یعنی الله خپله روح هغه ته ورکړې ده (۲) .

پوښتنه: خو د دې سترو پیرزوینو سره سره ما داسی هم اورېدلي چې تا ځینی انسانان ړانده بللي دي. که وی ، نو دا ثوک دي ؟

ځواب: هو دا صحیح ده. زه هغه کسان ړانده بولم چې د الله سبحان وتعالی نښانیو ته غور او فکر نه کوی (۳) .

پوښتنه: چې داسی ده ، نو الهی نښې چیرې دي او څنګه یې باید وپیژنو ؟آیا ثو بیلګې راته ویلای سې ؟

ځواب: هو ولی نه. ثو الهی نښې دا دي: د آسمانو او مځکې پیدا کول ، د شپې او ورځې یو په بل اړول ، په سمندر کی د ګټورو شیانو د حصول په خاطر تګ راتګ ، د آسمان څخه د اوبو اورول چې په هغه سره مړه مځکه ژوندۍ کیږی ، پر مځکه ډول ډول حیوانات ، د موسمونو یو په بل بدلېدل ، د آسمان او مځکې تر منځ لویې لویې اوریځې د پوهو انسانانو لپاره الهی نښانې دي (۴) . د انسانانو د ژبو او رنګونو تنوع پخپله الهی نښې دي (۵) . نو که د الله د ستاینو د لیکلو لپاره د سمندر اوبه رنګ سی ، دغه رنګ به پای ته ورسیږی خو د الله بیان به لا نه وی ختم سوی او که یو بل دغسی سمندر هم راوړه سی ، بیا به هم الهی ستاینه پای و نه مومی (۶) . دا لا څه ، که د مځکې ټولې ونې قلمونه او د سمندر اوبه یې هم رنګ سی ، آن که د اوو سمندرونو ټولې اوبه هم رنګ سی بیا به هم د الله بیان ختم نسی (۷) . نو ځکه الله انسانانو ته غوږونه ، سترګې او زړه عطا کړی دی تر څو د هغه شکر ادا کړی (۸) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: دا خو ډېر په زړه پورې ارشادات او معلومات وو. داسې هم ویل کیږي چې تا د انساني زړه ډېر انواع ذکر کړي دي. آیا په دې هکله هم څه وضاحت راکولای سې ؟
ځواب. تا صحیح اورېدلي دي. ما په خپل متن کې د انسانانو څو ډوله زړونه بیان کړي دي چې څو مثالونه یې دا دي:
۱ـ سخت زړه (۹).
۲ـ زنګ وهلی زړه (۱۰).
۳ـ کوړ یا خیرن زړه (۱۱).
۴ـ سم او نه کږېدونکی زړه (۱۲).
۵ـ بیرېدونکی زړه (۱۳).
۶ـ په ګناه لړلی زړه (۱۴).
۷ـ بند یا مُهر لګېدلی زړه (۱۵).
۸ـ ډاډه یا مطمیّن زړه (۱۶).
۹ـ تیاره یا تور زړه (۱۷).
۱۰ـ روغ یا سالم زړه (۱۸).
۱۱ـ بې ایمانه یا درېدونکی زړه (۱۹).
۱۲ـ مغرور او متکبر زړه (۲۰).
۱۳ـ ایمان لرونکی یعنی ایمانداره زړه (۲۱).
۱۴ـ نرم زړه (۲۲).

پوښتنه: آیا تا د زړه د تسکین او ډاډمنېدو کومه طریقه هم ویلې ده ؟
ځواب: هو ، ولې نه. یوه بېلګه یې دا ده چې مؤمنان د الله په ذکر سره ډاډمن کیږي او زړونه یې له خوفه ببغمه کیږي (۲۳).

پوښتنه: ما داسې هم اورېدلي چې ته مو پرله پسې صبر ته هڅوې. آیا د دې کار یوه ګټه را ته ویلای سې ؟
ځواب: هو باالکل همداسې ده. ستر ښښتن تاسې په لوږه ، بېره ، ځاني او مالي زیانونو سره امتحانوی او زېرئ درکوي چې کله د څه مصیبت سره مخامخ سې ، نو وواییې چې موږ صرف د الله مال یو او د هغه خوا ته ورتلونکي یو. پر دغسې خلکو بېله شکه د خپل رب عنایتونه او رحمتونه لوریږي (۲۴).

پوښتنه: نن د نفاق او فتنې یو عجیب حالت مسلط دی. ځینې کسان په ناخبرۍ او ځینې په تجاهل سره او ځینې نور بیا قصداً ستا د ارشاداتو څخه لږ یا ډېر مخ اړوي او په ډول ډول پلمو او حیلو سره دلایل جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ادعا کوی چی زه ( یا مونږ ) د فلاني شخص یا فلاني سیستم او یا هم فلاني جوړښتون د قوانینو پیروی کوم ( یا کوو ) . دغسی کړنو او خلکو ته ستا ځواب څه دی ؟
ځواب: ما هر څه ته واضحاً اشاره کړې ده او صریحاً می ویلي چی اسلام یو بشپړ دین دی او پخپله الله هغه ستاسو لپاره خوښ کړی دی (۲۵) . ما هغوی ته ویلی دي چی صرف د هغه څه پیروی وکړئ چی د الله لخوا درته نازل سوی ، له هغه پرته د نورو اولیاوو پیروي مه کوئ (۲۲) . په کوم شي کی چی تاسو اختلاف ولرئ ، نو د هغه فیصله الله ته وسپارئ (۲۷) . د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ ، اختلاف مه کوئ که نه بې زړه به سئ او قوت به مو له منځه ولاړ سي (۲۸) . که مو په یو شي کی اختلاف پیښ سو ، نو که واقعاً هم پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لرئ ، هغه الله او رسول ته راجع کړئ (۲۹) .

پوښتنه: واقعاً چی تر څه حقایق دې بیان کړل ، اوس خو نو باالکل واضح سوه چی ځوک ستا ارشادات و نه منی او مراعات یې نکړي حال به یې دغسی وی لکه تا چی اشاره ورته وکړه چی نن عملاً بې زړه سوي دي او هم یې قوت له منځه تللی دی او ځوک هیڅ اهمیت نه ورکوي. په دې اړه می بل سوال دا دی چی آیا ممکنه ده چی ستا ډیره حصه ومنل سی او عملی کړای سی خو یوه برخه یې عملی نسی ؟
ځواب: دا هیڅ امکان نلری او له همدې امله نن هره خوا فساد او مصیبت مسلط دی او ما واضحاً ویلی دي چی زما د یوې برخی څخه انکار زما د ټول متن څخه د انکار معنا لری (۳۰) .

(۱) : ابراهیم: ۳۴ ؛ النحل: ۱۸ . (۲) السجده: ۹ . (۳) : الاسرأ: ۷۲ ؛ الحج: ۴۶ . (۴) : البقره: ۱۲۴ . (۵) : الروم: ۲۲ . (۶) : الکهف: ۱۰۹ . (۷) : لقمان: ۲۷ . (۸) : النحل: ۷۸ . (۹) : البقره: ۷۴ ؛ الزمر: ۲۲ ؛ الحدید: ۱۶ ؛ المایّده: ۱۳ . (۱۰) : المطففین: ۱۴ . (۱۱) : آل عمران: ۷ . (۱۲) : آل عمران: ۸ . (۱۳) : الانفال: ۲ ؛ الحج: ۳۵ . (۱۴) : البقره: ۲۸۳ . (۱۵) : یونس: ۷۴ . (۱۶) : الرعد: ۲۸ . (۱۷) : الحج: ۴۶ . (۱۸) : الشعرأ: ۸۹ . (۱۹) : الزمر: ۴۵ . (۲۰) : المؤمن: ۳۵ . (۲۱) : الحدید: ۱۶ ؛ الحج: ۷ . (۲۲) : الزمر: ۲۳ . (۲۳) : الرعد: ۲۸ . (۲۴) : البقره: ۱۵۵-۱۵۷ . (۲۵) : المایّده: ۳ . (۲۶) : الاعراف: ۳ . (۲۷) : الشوری: ۱۰ . (۲۸) : آل عمران: ۲۴ . (۲۹) : النسأ: ۵۹ . (۳۰) : البقره: ۴۱ ، ۸۵ ، ۲۰۸ ؛ آل عمران: ۱۱۹ ؛ التوبه: ۸۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې اتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نوميږي د قرآن پوهنې ډيره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده. دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي. هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو د اتمې روژې لپاره اتم سوغات ومنئ ، ( ن. صمد )

## د قران سره مرکه ( اتمه برخه ) :

پوښتنه: پر کومو شيانو ايمان راوړل حتمي دی ؟
ځواب: پر هر مسلمان باندی دا حتمی او لازمی ده چی پر الله ، د هغه پر ملايکو ، د هغه پر پيغمبرانو ، د هغه پر کتابو ، او د آخرت پر ورځی ايمان راوړی (۱).

پوښتنه: ستا په نظر د انسان د اُخروی ښېګڼی لپاره شرايط کوم دي ؟
ځواب: صرف او صرف يو شرط دی او هغه دا چی ايمان لرل او د هغه سره سم عمل کول (۲).

پوښتنه: آيا د دې مطلب دا دی چی د ايمان څخه پرته نور اعمال غلط دي ؟
ځواب: هو همداسی ده ، د ايمان راوړلو څخه پرته هيڅ عمل نه صالح کېدای سی او نه هم د منلو وړ دی (۳).

پوښتنه: نو آيا د صالح عمل څخه پرته ايمان اعتبار نه لری ؟
ځواب: هر هغه ايمان چی له امله يې د نېک او صالح عمل د کولو عزم پيدا نسی ، اعتبار نلری (۴).

پوښتنه: آيا دا راته ويلای سې چی ايمان لږ يا ډيرېدای سی ؟
ځواب: هو کې ، د ايمان کيفيت کميږی او ډيريږی (۵).

پوښتنه: آيا د ځنکدن پر مهال توبه او ايمان قبليږی ؟
ځواب: مخکی قبليږی ، خو د مرګ پر پوله قطعاً نه قبليږی (۲).

پوښتنه: ډيره ساده خو مهمه پوښتنه لرم ، او هغه دا چی الله څوک دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: که څه هم مخکې مې دا ځواب مختصراً درکړی دی ، خو دا دی اوس به يې يو څه مفصلاً درو ښيم: الله د هغه هستۍ حقيقي نوم دی (۷) چې دا ټول کايَِنات يې پيدا کړي دي (۸) . الله يو دی او شريک نه لري (۹) . هغه د هر ډول عيب او نقص څخه خلاص او پاک دی (۱۰) او د هر ډول ښه والي او کمال صفتونه لري (۱۱) . هغه ژوندی دی (۱۲) ، هر څه اوري (۱۳) او ويني (۱۴) . هغه د ارادې څښتن دی (۱۵) . همدغه الله رزق ورکونکی دی (۱۶) ، هدايت ورکونکی دی (۱۷) ، د هر شي او هر څه مالک يعنې څښتن دی (۱۸) . هغه پروردګار او رب دی (۱۹) . هغه مطلق حاکم دی (۲۰) . ستر طاقت او اختيار ټول د هغه سره دی (۲۱) . هغه پر هر څه قدرت لري (۲۲) . هغه د ناپايه رحم لرونکی دی (۲۳) . د عبادت وړ صرف او صرف هماغه دی (۲۴) . هغه حکيم (۲۵) او طاقت لرونکی دی (۲۶) .هغه د امن او سولې عطا کونکی دی (۲۷) . هغه ساتونکی او ژغورونکی دی (۲۸) . هغه معافوَنکی (۲۹) او بخښونکی دی (۳۰) . هغه باريک بين دی (۳۱) . نرم او حليم دی (۳۲) . هغه ستر او عظيم دی (۳۳) . هغه د هيڅ څخه هر څه يعنې د عدم څخه هستی راوړونکی دی (۳۴) . هغه د ښکلاوو جوړونکی يعنې مصور دی (۳۵) . هغه خورا ستر دی (۳۶) . هغه په ستاينو متصف دی (۳۷) . هغه ظاهر (۳۸) او باطن (۳۹) دی. هغه شتمن او غنی دی (۴۰) . هغه مهربان (۴۱) او مرستندوی (۴۲) دی. هغه نور دی (۴۳) . هغه جبار (۴۴) او قهار (۴۵) هم دی. هغه پر هر څه غيږ راګرځونکی دی (۴۶) . هغه حساب اخيستونکی دی (۴۷) . هغه خورا نږدې دی (۴۸) . هغه مينه او محبت کونکی دی (۴۹) . هغه د لوړو درجو څښتن دی (۵۰) . هغه د توبې قبلونکی دی (۵۱) . هغه د عظمت او قدرت لرونکی دی (۵۲) . هغه دا ټول کاينات چلوی (۵۳) . که هغه نه وی نو دا کاينات به ټول ګډوډ او درهم و برهم سی (۵۴) . خير او شر ، ګټه او زيان د هغه په لاس کې دي (۵۵) . هغه هر ځای حاضر او موجود دی (۵۶) . هغه د مځکې او آسمان په هر پټ او ښکاره شي خبر دی (۵۷) . هغه په هر حرکت خبر دی (۵۸) . هر څوک د هغه محتاج دی (۵۹) . هغه هيچا ته اړ نه دی (۶۰) . هغه دعاوی اوری او قبلوی يې (۶۱) . هغه د فرياد اورېدونکی دی (۶۲) . ببره صرف د هغه څخه ده (۶۳) . هغه بايد ياد کړه سی يعنې وبلل سی (۶۴) . د هغه څخه پناه غوښتل کيږی (۶۵) . اميدونه د هغه څخه کيږی (۶۶) . د هغه سره مينه او محبت بايد وسی (۶۷) . د هغه ذکر او شکر بايد ادا سی (۶۸) . ژوند او مرګ صرف د هغه په اختيار کې دی (۶۹) . اولاد هغه ورکوی (۷۰) . هغه د تل راهيسی موجود دی او تل به پاته وی (۷۱) . هغه نه د چا پلار او نه هم زوی دی (۷۲) . هغه د هيچا نه خپل دی او نه يې په ذات يا قوم دی (۷۳) . هغه تر ټولو ستر دی (۷۴) . هغه يو دی او هيڅ شريک نه لری (۷۵) . هغه بې ساری او بې مثاله دی (۷۶) .

پوښتنه: دا خو ډير ضروری معلومات وو . آيا راته ويلای سې چې د يو مؤمن حقيقي محبوب څوک دی ؟
ځواب: الله تعالی دی (۷۷) .

پوښتنه: تا په خپل متن کې کوم نوم تر ټولو ډير ذکر کړی دی ؟
ځواب: ما تر ټولو د خپل مؤلف يعنې الله نوم ډير ذکر کړی چې تر ۲۹۰۰ ځله مې هم ډير ياد کړی دی (۷۸) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: آیا راته ویلای سې چې تا د الله(ج) کوم صفت ډیر ذکر کړی دی ؟
ځواب: د ربوبیت صفت ، یعنی هغه می تر ۹۰۰ ځله هم زیات ذکر کړی دی (۷۹) .

پوښتنه: تا د الله تعالی کوم صفت په ډیر وسعت او کثرت سره بیان کړی دی ؟
ځواب: د رحمت صفت می په ډیر وسعت سره بیان کړی دی (۸۰) .

پوښتنه: آیا لوی خدای د هر مسلمان دعا اوری او هغه قبلوی ؟
ځواب: هو باالکل همدا سی ده ، الله وایی ما د روبوله چې دعا دې قبوله کړم (۸۱) .

پوښتنه: د الهی محبت معیار کوم دی ؟
ځواب: د محمد (ص) رښتیانې پیروي هغه معیار دی چې دا ترې معلومېدای سی چې یو څوک د خدای سره څومره مینه او محبت لری (۸۲) .

(۱) : البقره: ۱۳۶ ، ۱۷۷ ، ۲۸۵ . (۲) : البقره: ۱۲ ، ۲۲ ؛ المایّده: ۲۹ ؛ هود : ۲۳ ؛ الکهف: ۱۰۷ ؛ العصر : ۳ .
(۳) : الکهف: ۱۰۵ ، ۱۰۲ ؛ الاحزاب: ۱۹ ؛ محمد : ۹ ، ۳۲ . (۴) : العنکبوت: ۲ ؛ البقره: ۸ ، ۱۳ ؛ العصر : ۳ ؛ الروم: ۴۴ . (۵) : آل عمران: ۱۷۳ ؛ الانفال: ۲ ؛ التوبه: ۱۲۴ ؛ الاحزاب: ۲۲ ؛ المدثر: ۳۱ . (۶) : النسأ : ۱۸ ؛ یونس: ۹۰ ـ ۹۱ . (۷) : طه: ۱۴ . (۸) : الانعام: ۱۰۲ ؛ الزمر: ۶۲ ؛ الرعد : ۱۲ ؛ المومن: ۶۲ ؛ طه: ۵۰ . (۹) : البقره: ۱۲۳ ؛ النسأ : ۱۷۱ ؛ یوسف: ۳۹ ؛ الرعد : ۱۲ ؛ ابراهیم: ۴۸ . (۱۰) : البقره: ۳۲ ؛ الانعام: ۱۰۰ ؛ آل عمران: ۱۹ ؛ الاسرأ : ۴۳ ؛ الانبیأ : ۸۷ . (۱۱) : الانعام: ۱ ؛ الاعراف: ۱۸۰ ؛ الاسرأ : ۱۱۰ ـ ۱۱۱ ؛ طه: ۸ . (۱۲) : البقره: ۲۵۵ ؛ آل عمران: ۲ ؛ طه: ۱۱۱ ؛ الفرقان: ۵۸ ؛ المومن: ۶۵ . (۱۳) : البقره: ۱۲۷ ، ۲۴۴ ؛ آل عمران ۳۵ ؛ المایّده ۲۷ ؛ الانعام: ۱۱۵ ؛ الشوری: ۱۱ . (۱۴) : البقره: ۹۶ ، ۱۱۰ ؛ آل عمران: ۱۵ ؛ المایّده: ۷۱ ؛ الانفال: ۳۹ ؛ الملک : ۱۹ . (۱۵) : النحل: ۴۰ ؛ یس: ۸۲ ؛ ابراهیم: ۲۷ ؛ الحج: ۱۸ ؛ القصص: ۶۸ . (۱۶) : الذاریات: ۵۸ ؛ الجمعه: ۱۱ ؛ المومنون: ۷۲ ؛ الحج: ۵۸ ؛ المایّده: ۱۱۴ . (۱۷) : الفرقان: ۳۱ ؛ الحج: ۱۲ ، ۵۴ ؛ البقره: ۱۴۲ ، ۲۷۲ ؛ الشوری: ۱۳ . (۱۸) : البقره: ۲۵۵ ؛ آل عمران: ۱۲۹ ، ۱۸۰ ؛ النسأ : ۱۲۶ ؛ الانعام: ۱۲ ؛ لقمان: ۳۷ . (۱۹) : الفاتحه: ۲ ؛ الانعام: ۴۵ ؛ الاعراف: ۵۴ ؛ یونس: ۱۰ ؛ المطففین: ۶ . (۲۰) : یوسف: ۴۰ ؛ الکهف: ۲۶ ؛ الاعراف: ۵۴ ؛ یونس: ۳۱ ؛ السجده: ۵ . (۲۱) : آل عمران: ۲۶ ؛ البقره: ۱۰۷ ؛ المایّده: ۱۷ ؛ الاعراف: ۱۵۸ ؛ البروج: ۹ . (۲۲) : البقره: ۲۰ ؛ آل عمران: ۲۶ ؛ المایّده: ۱۷ ؛ الانعام: ۱۷ ؛ الملک: ۱ . (۲۳) : الاعراف: ۱۵۶ ؛ المومن: ۷ ؛ الفاتحه: ۱ ؛ الحشر: ۲۲ ؛ یوسف: ۹۲ . (۲۴) : البقره: ۱۲۳ ؛ آل عمران: ۲ ؛ النسأ : ۱۷۱ ؛ المایّده: ۷۳ ؛ الناس: ۳ . (۲۵) : البقره: ۳۲ ؛ آل عمران: ۶ ؛ النسأ : ۲۶ ؛ المایّده: ۳۸ ؛ التحریم: ۲ . (۲۶) : البقره: ۲۶۰ ؛ آل عمران: ۶ ؛ المایّده: ۳۸ ؛ الانفال: ۱۰ ؛ الجمعه: ۳ . (۲۷) : الحشر: ۲۳ . (۲۸) : یوسف: ۲۴ ؛ هود : ۵۷ .
(۲۹) : البقره: ۱۷۳ ؛ آل عمران: ۳۱ ؛ النسأ : ۲۵ ؛ الانعام: ۶۵ ؛ البروج: ۱۴ . (۳۰) : الحج: ۶۰ ؛ المجادله: ۲ ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



النسأ : **۴۳** ، **۹۹** ، **۱۴۹** ؛ الشوری : **۲۵** ، **۳۰** . (۳۱) : لقمان : ۱۲ ؛ الملک : **۱۴** ؛ الاحزاب : **۱۳۴** ؛ الانعام : **۱۰۳**
؛ الحج : **۲۳** . (۳۲) : البقره : **۲۲۵** ، **۲۳۵** ، **۲۶۳** ؛ آل عمران : **۱۵۵** ؛ النسأ : ۱۲ ؛ المایِّده : ۱۰۱ ؛ التغابُن : ۱۷ .
(۳۳) : البقره : **۲۵۵** ؛ الشوری : **۴** ؛ الواقعه : **۷۴** ، **۹۶** ؛ الحاقه : **۳۳** ، **۵۲** . (۳۴) : البقره : ۱۱۷ ، **۱۵۴** ؛
الانعام : ۱۰۱ ؛ الحشر : **۲۴** . (**۳۵**) : الحشر : **۲۴** ؛ المومن : **۶۴** ؛ التغابُن : **۳** ؛ آل عمران : **۶** ؛ الاعراف : ۱۱ .
(۳۶) : هود : **۷۳** . (۳۷) : البقره : **۲۶۷** ؛ هود : **۷۳** ؛ ابراهیم : ۱ ؛ التغابن : ۶ ؛ البروج : **۸** . (۳۸) : الحدید : **۳** .
(۳۹) : الحدید : **۳** . (۴۰) : البقره : **۲۶۳** ، **۲۶۷** ؛ آل عمران : **۹۷** ؛ الانعام : **۱۳۳** ؛ الممتحنه : ۶ ؛ التغابن : ۶ .
(۴۱) : الفاتحه : **۳** ؛ البقره : **۱۶۳** ؛ طه : ۹۰ ؛ النمل : **۳۰** ؛ حم سجده : ۲ . (۴۲) : الانفال : **۴۰** ؛ التوبه : **۱۱۶** ؛
الحج : **۷۸** ؛ النسأ : **۴۵** ؛ الفرقان : ۳۱ . (**۴۳**) : النور : **۳۵** . (**۴۴**) : الحشر : **۲۳** . (**۴۵**) : الانعام : **۱۸** ، **۶۱** ؛
یوسف : **۳۹** ؛ الرعد : ۱۱ ؛ ابراهیم : **۴۸** ؛ المومن : ۱۶ . (۴۶) : النسأ : **۱۲۶** ، **۱۰۸** ؛ حم سجده : **۵۴** ؛ الطلاق : ۱۲
؛ هود : **۹۲** ؛ البقره : ۱۹ . (۴۷) : النسأ : ۶ ، **۸۶** ؛ الاحزاب : **۳۹** ؛ البقره : ۲۰۲ ؛ الرعد : ۴۰ ؛ المومن : ۱۷ . (۴۸)
: البقره : ۱۸۶ ؛ هود : ۶۱ ؛ السبا : **۵۰** . (۴۹) : هود : ۹۰ ؛ البروج : ۱۴ ؛ البقره : **۱۹۵** ، **۲۲۲** ؛ آل عمران : **۷۶** ، **۱۳۴**
؛ المایِّده : ۴۲ . (۵۰) : البقره : **۲۵۵** ؛ الحج : ۶۲ ؛ لقمان : ۳۰ ؛ سبا : **۲۳** ؛ الشوری : **۵۱** . (**۵۱**) : البقره : **۳۷** ، **۵۴**
، ۱۶۰ ؛ التوبه : ۱۰۴ ، **۱۱۸** ؛ النور : ۱۰ ؛ الحجرات : ۱۲ ؛ النسأ : ۱۶ . (**۵۲**) : الرحمن : **۲۷** ، **۷۸** . (**۵۳**) : یونس :
**۳۱** ؛ الاعراف : **۵۴** ؛ الطلاق : ۱۲ ؛ الروم : **۲۵** ؛ حم سجده : ۱۲ . (**۵۴**) : الانبیأ : **۲۲** ؛ المومنون : **۷۱** ؛ البقره :
**۲۵۵** ؛ آل عمران : ۲ ؛ طه : ۱۱۱ . (**۵۵**) : الانبیأ : **۳۵** ؛ آل عمران : **۲۶** ؛ الانعام : **۱۷** ؛ یونس : **۱۰۷** ؛ فاطر : ۲ . (**۵۶**)
: البقره : **۱۱۵** ؛ الحدید : **۴** ؛ المجادله : ۷ . (**۵۷**) : الانعام : **۵۹** ، **۷۳** ؛ التوبه : **۹۴** ؛ الرعد : **۹** ؛ المومنون :
**۹۲** ؛ العنکبوت : ۶۲ . (**۵۸**) : البقره : **۲۳۴** ؛ آل عمران : **۱۵۳** ؛ المایِّده : **۸۵** ؛ الانعام : **۱۸** ؛ التحریم : ۳ .
(**۵۹**) : فاطر : **۵۵** ؛ محمد : **۳۸** . (۶۰) : الاخلاص : ۲ ؛ البقره : **۲۶۷** ؛ آل عمران : **۹۷** ؛ الانعام : **۱۳۳** ؛ التغابن :
۶ . (۶۱) : البقره : **۱۸۶** ؛ المومن : ۶۰ ؛ النمل : **۶۲** ؛ هود : **۶۱** ؛ الصافات : **۷۵** . (۶۲) : الانفال : **۹** . (۶۳) : البقره :
**۱۵۰** ؛ المایِّده : **۳** ؛ الرعد : ۲۱ ؛ الانبیأ : **۴۹** ؛ الاحزاب : **۳۹** . (۶۴) : الجن : ۱۸ . (**۶۵**) : الفلق : ۱ ؛ الناس : **۱-۳**
. (۶۶) : الکهف : ۱۱۰ . (۶۷) : البقره : **۱۲۵** ؛ التوبه : **۲۴** ؛ المایِّده : **۵۴** ؛ آل عمران : **۳۱** . (۶۸) : الاحزاب : **۴۱** ؛
الجمعه : ۱۰ ؛ البقره : **۱۵۲** ، **۱۷۲** ؛ العنکبوت : **۱۷** ؛ لقمان : ۱۲ . (۶۹) : الملک : ۲ ؛ آل عمران : **۵۶** ؛ الاعراف :
**۵۸** ؛ التوبه : **۱۱۶** ؛ الحدید : ۲ . (۷۰) : الشوری : **۴۹** ؛ الانبیأ : ۹۰ ؛ آل عمران : **۳۸** ؛ مریم : **۵** ؛ ص : ۳۰ . (۷۱) :
الحدید : **۳** ؛ الرحمن : **۲۷** ؛ ق : **۱۵** ؛ حم سجده : ۲۱ ؛ یونس : **۷۹** . (۷۲) : الاخلاص : **۳** ؛ الفرقان : ۲ ؛
الصافات : **۱۵۱-۱۵۲** ؛ النسأ : ۱۷۱ ؛ مریم : **۳۵** ، **۹۲** . (۷۳) : الصافات : **۱۵۸** ؛ الانعام : ۱۰۱ ؛ الجن : **۳** . (۷۴) :
النسأ : **۳۴** ؛ الاسرأ : **۴۳** ؛ الرعد : **۹** ؛ الحج : ۶۲ ؛ لقمان : ۳۰ . (**۷۵**) : الانعام : **۱۲۳** ؛ الاسرأ : ۱۱۱ ؛ الفرقان : ۲
؛ الاعراف : ۱۹۰ ؛ التوبه : ۳۱ . (۷۶) : الشوری : ۱۱ ؛ الاخلاص : ۱ ؛ النحل : **۱۷** ؛ الاعراف : ۱۹۱ . (۷۷) : البقره :
**۱۶۵** ؛ المایِّده : **۵۴** ؛ التوبه : **۲۴** ؛ الانعام : ۱۶۲ . (۷۸) : الفاتحه : ۱ ؛ البقره : ۷ ؛ آل عمران : ۱۲ ؛ النسأ : **۵** ؛
الاخلاص : ۱ . (۷۹) : الفاتحه : ۱ ؛ البقره : ۲۱ ؛ آل عمران : **۵۱** ؛ النسأ : ۱ ؛ المایِّده : **۲۸** . (۸۰) : الاعراف : **۱۵۶** ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



حم سجده: **۷** ؛ المومن: **۷** ؛ الزمر: **۵۳** ؛ الانعام: ۱۲. (۸۱) : البقره: **۱۸۶** ؛ **النمل**: **۲۲** ؛ المومن: **۲۰**: الشوری:
**۲۶**. (۸۲) : آل عمران: ۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې نهم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومېږي د قرآن پوهنې ډېره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده . دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کېږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو د نهمې روژې لپاره نهم سوغات ومنئ ، ( ن. صمد )

## د قران سره مرکه ( نهمه برخه ) :

پوښتنه: پر الله تعالی کوم کوم خلک ډېر ګران دي ؟

ځواب: الله تعالی دغه خلک ډېر خوښوي:

۱ـ پاک انسانان(۱) .

۲ـ نیک عمله کسان(۲) .

۳ـ پرهیزګاره خلک (۳) .

۴ـ انصاف یا عدالت خوښونکي کسان(۴) .

۵ـ توبه کونکي انسانان(۵) .

۶ـ صبر کونکي یعنی صابران(۶) .

۷ـ پر خدای توکل کونکي کسان(۷) .

۸ـ د خدای په لاره کی جهاد کونکي انسانان(۸) .

پوښتنه: آیا را ته ویلای سې چی د الله تعالی د کومو کومو خلکو څخه بد راځي ؟

ځواب: هو ولی نه ، الله تعالی دغه انسانان هیڅ نه خوښوي:

۱ـ کافر(۹) .

۲ـ ظالم(۱۰) .

۳ـ بې ایمانه او خاین(۱۱) .

۴ـ فتنه او فساد خپرونکی(۱۲) .

۵ـ چټي یا بې ځایه مصرف کونکی(۱۳) .

۶ـ متکبر یا کبرجن(۱۴) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: په ربښتیا هم نن هره اسلامی خصوصاً افغانی ټولنه د ظالمانو ، فاسدانو ، خاینانو او کبرجنانو څخه ډکه ده نو ځکه هر څه وران دي. الله دی دغسی کسان اصلاح او فلاح کړی. په هر صورت ، اوس به راسم دې مسألې ته چی آیا په ربښتیا هم د غیب علم صرف خدای ته معلوم دی ؟
ځواب: هو باالکل همداسی ده. په آسمانو کی او پر مځکه باندی هیڅوک او هیڅ شی هم بېله خدایه له غیبه ناخبره دي (۱۵).

پوښتنه: چی داسی ده ، نو موږ خو پوهیږو چی رسولانو معجزې لرلې او په ځینو مواردو کی به له غیبه هم خبر وو . په دې حساسه مسأله کی څه وضاحت راکولای سې ؟
ځواب: الله تعالی بعضی وختونه د خپل حکمت او مصلحت پر اساس د غیب یو څه علم خپلو رسولانو ته عطا کړی دی او بس (۱۶).

پوښتنه: یوه بله مسأله چی له ډیره وخته یې په ذهن کی لرم دا ده چی ځینی پوهان او پروفیسوران ادعا کوی چی موږ په لابراتوار کی دا یا هغه ژوندی شی جوړ کړ. آیا را ته ویلای سې چی الهی مخلوق څومره قدرت لری ؟
ځواب: خورا لږ حتی هیڅ ، که ټول مخلوق هم سره یو ځای سی ، حتی یو مچ به هم جوړ نه کړای سی. (۱۷).

پوښتنه: دا خو واقعاً هم ډیر غټ چلنج دی. اوس به راسم دې ته چی آیا په ربښتیا هم ته د شِرک په خلاف یې ؟
ځواب: هو ، زه د شرک سخت مخالف او ضد یم او تر ما بل هیڅ شی هم د شرک ډیر مخالف نه دی (۱۸).
باید ووایم چی په الهي ذات او صفتونو کی هیڅوک هم نسي شریک کېدای بلکی الله وحدهُ لا شریک دی (۱۹).

پوښتنه: که راته ووایې چی د مشرک نښې کومی دي ، خوشاله به سم.
ځواب: د یو مشرک انسان پیژندنه دا ده چی کله د هغه په مخ کی د الله د توحید بیان وسی نو د هغه زړه تنګ ، منقبض او کوچنی کیږی خو که د الله څخه ماسېوا د نورو هستیو بیان وی نو خوشالی احساسوي (۲۰).

پوښتنه: آیا دا ربښتیا ده چی د عربو د هغه مهال مشرکانو الله ته عقیده لرله یعنی هغه یې مانه ؟
ځواب: هو همداسی ده ، هغوی الله د کایناتو خالق او مُدبر باله (۲۱).

پوښتنه: چی داسی ده نو د بتانو عبادت یې ولی کاوه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: هغوی دا بتان د خدای لپاره وسیله او واسطه بلله (۲۲) او د هغو په عبادت سره يې ځانونه الله ته نږدې احساسول (۲۳).

پوښتنه: هغه کومه ګناه ده چې نه بخښل کيږي ؟
ځواب: هغه شِرک دی چې هيڅ نه معافيږي (۲۴).

پوښتنه: آيا د کوم مشرک لپاره بخښنه يا مغفرت غوښتل کېدای سی ؟ ځکه ځينی کسان په بې خبرۍ يا بې تفاوتۍ سره وايي چې فلانی (کافر يا مشرک يا هندو...) دی خدای وبخښي. آيا له خدايه د کافر لپاره دغسی مغفرت غوښتل کېدای سی ؟
ځواب: يا قطعاً نه، دا ځکه چې د هغه کفر، شِرک او غير مسلمانتوب له وړاندی لا معلوم او ثابت دی چې ځای يې دوږخ دی (۲۵).

(۱): البقره: ۲۲۲؛ التوبه: ۱۰۸. (۲): البقره: ۱۹۵؛ آل عمران: ۱۳۴، ۱۴۸؛ المايِّده: ۱۳، ۹۳. (۳): آل عمران: ۷۶؛ التوبه: ۴، ۷. (۴): المايِّده: ۴۲؛ الحجرات: ۹؛ الممتحنه: ۸. (۵): البقره: ۲۲۲؛ التوبه: ۱۱۲. (۶): آل عمران: ۱۴۶. (۷): آل عمران: ۱۵۹. (۸): الصف: ۴. (۹): آل عمران: ۳۲؛ الروم: ۴۵. (۱۰): آل عمران: ۵۷، ۱۴۰؛ الشوری: ۴۰. (۱۱): النسأ: ۱۰۷؛ الانفال: ۵۸؛ الحج: ۳۸. (۱۲): المايِّده: ۶۴؛ القصص: ۷۷. (۱۳): الانعام: ۱۴۱؛ الاعراف: ۳۱. (۱۴): النحل: ۲۳. (۱۵): المايِّده: ۱۰۹؛ النمل: ۶۵؛ الانعام: ۷۳؛ الزمر: ۴۶. (۱۶): الجن: ۲۶-۲۷. (۱۷): الحج: ۷۳. (۱۸): البقره: ۲۲؛ الرعد: ۳۶؛ الكهف: ۱۱۰؛ الحج: ۲۶؛ يونس: ۱۰۶. (۱۹): الانعام: ۱۲۳؛ المومنون: ۹۱-۹۲؛ النمل: ۶۳؛ الروم: ۴۰؛ الاخلاص: ۴. (۲۰): الزمر: ۴۵؛ الاسرأ: ۴۶. (۲۱): يونس: ۳۱؛ المومنون: ۸۴-۹۰. (۲۲): يونس: ۱۸؛ الزمر: ۴۳. (۲۳): الزمر: ۳. (۲۴): النسأ: ۴۸، ۱۱۶. (۲۵): التوبه: ۱۱۳-۱۱۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې لسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنی ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنی کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخی ځوابونه وایی. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځی ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !
نو د لسمی روژې لپاره لسم سوغات ومنئ ، ( ن. صمد )

## د قران سره مرکه ( لسمه برخه ) :

پوښتنه: د ملایکو یعنی فرشتو په هکله څه نظر لرې ؟ که په دې هکله یو څه معلومات راکړې خوشاله به سم.
ځواب: ملایکی هم د الله یو مخلوق دی (۱) . پر هر مسلمان دا فرض ده چې پر هغوی به ایمان راوړي (۲) . د هغوی دنده د الله تسبیح او تقدس کول (۳) ، نبیانو او رسولانو ته د الهی پیغام رسول (۴) ، او د هغه په امر سره بیلا بیلی جوړښتی او تکوینی چاری سر ته رسول دي (۵) . ملایکی د الله د فرمان تابع دي او د هغه د هیڅ حُکم څخه سرغړوَنه نه کوی (۶) . د هغوی سره دښمني د خدای سره د دښمنۍ معنا لری (۷) . ځینی ملایکی تر نورو افضل او غوره وی او الله ته نږدې وی (۸) . د الله په حُکم سره یوې ملایکی زه نازل کړم چې جبریل نومیږی (۹) . ملایکی پر نبی کریم (ص) باندی درود وایی (۱۰) . ملک الموت یعنی د مرګ فرشته د انسان روح قبض کوی (۱۱) . په دوږخ کی د عذاب ورکولو په خاطر یوه تونד خویه ملایکه مقرره ده (۱۲) . د عربو مشرکینو دا باطله عقیده لرله چې ویل یې ملایکی د الله لونی دي (۱۳) . د الله تعالی په حکم سره ټولو فرشتو آدم علیه السلام ته سجده وکړه (۱۴) .

پوښتنه: آیا د څو ملایکو نومونه را ښودلای سې ؟
ځواب: هو ولی نه. د ځینو ملایکو نومونه دا دي: جبریل (۱۵) ، میکایل (۱۶) ، هاروت (۱۷) او ماروت (۱۸) .

پوښتنه: ما داسی هم اورېدلي چې ځینو ملایکو انسانانو ته سحر یعنی جادو هم ورښوولو. آیا دا کار منع او حرام نه دی ؟
ځواب: اصلی قصه له دې قراره ده چې دوې فرشتې وې چې هاروت او ماروت نومېدې او په بابل کی یې جادو ښودله مګر دا هر څه د امتحان لپاره وو او خلک یې تر ښوونی مخکی باخبره کول او له دې کاره ځکه چا ته زیان نه رسېدئ چې هر څه د الله په اختیار کی دي (۱۹) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: ډېره مننه. اوس به يوې بلې موضوع ته اشاره وکړم او هغه دا چې آيا تا په خپل متن کې د نبيانو عليهم السلام ذکر هم کړی دی ؟ که وی ، نو د څو پيغمبرانو نومونه را اخيستلای سې ؟
ځواب: هو ، ما د ډېرو رسولانو او انبياوو نومونه ذکر کړي دي (۲۰) ، چې څو يې په دې ډول دي:
نوح (۲۱) ، هود (۲۲) ، صالح (۲۳) ، ابراهيم (۲۴) ، اسحاق (۲۵) ، اسمعيل (۲۲) ، يعقوب (۲۷) ، داؤد (۲۹/۲۸) ، سليمان (۳۰) ، ايوب (۳۱) ، يونس (۳۲) ، ادريس (۳۳) ، لوط (۳۴) ، موسی (۳۵) ، هارون (۳۲) ، ذولکفيل (۳۷) ، اليسع (۳۸) ، زکريا (۳۹) ، الياس (۴۰) ، يحيی (۴۱) ، عيسی (۴۲) او محمد (۴۳) عليهم السلام.

پوښتنه: آيا دغه او نور ټول انبيأ انسانان وو ؟
ځواب: هو باالکل ، د الله ټول نبيان انسانان وو (۴۴). هغوی ودونه کړي وو ، او اولادونه يې لرل (۴۵).

پوښتنه: آيا دا راته ويلای سې چې د نبيانو په لړ کی ښځی هم شاملي وې که يا ؟
ځواب: يا ، نبوت صرف نارينه وو ته حاصل و ، هيڅ نبی ښځه نسته (۴۲).

پوښتنه: آيا نبوت اکتسابی و ؟
ځواب: يا قطعاً داسی نه ده ، بلکی هغه په تمامه معنی وهبی و ، يعنی د کسب څخه نه حاصلېدئ او الله چی څنګه غوښته هغسی به يې يو انسان د نبوت لپاره غوره او انتخاب کاوه (۴۷).

پوښتنه: آيا راته ويلای سې چی ټول نبيان په مرتبه او رتبه کی سره برابر وو که يا ؟
ځواب: يا داسی نه ده ، بلکی ځينو نبيانو ته پر نورو فضيلت حاصل و (۴۸).

پوښتنه: آيا په هر ملت او قوم کی پيغمبر راغلی دی ؟
ځواب: هو ، په هر قوم کی پيغمبر مبعوث سوی دی (۴۹).

پوښتنه: آيا پر ټولو نبيانو ايمان راوړل حتمی دی ؟
ځواب: هو باالکل ، پر ټولو نبيانو بايد ايمان راوړه سی (۵۰) ، بلکی د صرف يو نبی څخه انکار د ټولو د انکار معنا لری (۵۱).

پوښتنه: آيا ټولو نبيانو عين يو دعوت ورکړی و که د هر يوه بلنه له بله بېله وه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: د ټولو نبیانو دعوت عین یو شی و ، یعنی ټولو د صرف یو دین بلنه ورکوله چی هغه اسلام دی (**۵۲**) او د هغه لنډیز دا دی چی د یوازیني خدای بندګي باید ومنل سی او برعکس د غیرالله د بندګۍ څخه ډډه وسی (**۵۳**) .

پوښتنه: نو چی داسی ده ، آیا انبیأ کرام پخپله د خپل دعوت نمونې وو که یا ؟
ځواب: هو باالکل هغوی د خپل دعوت بهترینی بیلګې وې (**۵۴**) .

پوښتنه: آیا دا رښتیا ده چی د نبی اطاعت د خدای د اطاعت په معنا دی ؟
ځواب: هو ، چا چی د رسول اطاعت وکړ نو د الله اطاعت یې وکړ (**۵۵**) . دا ځکه چی هر نبی د الله نماینده او استاځی دی (**۵۶**) .

پوښتنه: آیا دا راته ویلای سې چی هر نبی د مخالفت سره مخامخ سوی دی که صرف ځینی نبیان ؟
ځواب: هر نبی د مخالت سره مخامخ سوی دی (**۵۷**) .

پوښتنه: ډیرئ خلک وایی چی د نبی او رسول تر منځ فرق سته. آیا دا رښتیا ده ؟ که وی نو هغه په څه کی دی ؟
ځواب: هو ، نبی او رسول فرق سره لری چی هغه د مرتبې او مقام له مخی دی ، یعنی د رسول درجه د نبی څخه لوړه ده (**۵۸**) .

(۱): الصافات: **۱۵۰** ؛ (۲): البقره: **۲۲۵** ؛ النسأ: **۱۳۶** ؛ البقره: **۱۷۷**. (۳): البقره: **۳۰** ؛ الرعد: **۱۳** ؛ الزمر: **۷۵**. (۴): الحج: **۷۵** ؛ فاطر: ۱ ؛ البقره: **۹۷**. (**۵**): السجده: ۱۱ ؛ النسأ: **۹۷** ؛ النحل: **۳۲** ؛ المعارج: **۴** ؛ القدر: **۴**. (۶): التحریم: ۶ ؛ النسأ: **۱۷۲** ؛ الزخرف: **۱۹**. (۷): البقره: **۹۸**. (۸): النسأ: **۱۷۲**. (۹): البقره: **۹۷** ؛ النحل: **۱۰۲** ؛ الشعرأ: **۱۴۳**. (۱۰): الاحزاب: **۵۶**. (۱۱): السجده: ۱۱. (۱۲): التحریم: ۶. (۱۳): الاسرأ: **۵۰** ؛ الصافات: **۱۵۰** ؛ الزخرف: **۱۹** ؛ النجم: **۲۷**. (۱۴): الحجر: **۳۰** ؛ البقره: **۳۴** ؛ الاسرأ: **۶۱** ؛ الکهف: **۵۰** ؛ طه: **۱۱۶**. (**۱۵**): البقره: **۹۷ـ۹۸** ؛ التحریم: **۴** ؛ النحل: **۱۰۲**. (۱۶): البقره: **۹۸**. (۱۷): البقره: **۱۰۲**. (۱۸): البقره: **۱۰۲**. (۱۹): البقره: **۱۰۲**. (۲۰): البقره: **۱۳۶** ، **۱۷۷** ؛ آل عمران: **۸۴** ؛ المایّده: **۴۴** : الاحزاب: **۷** ؛ الزخرف: **۶**. (۲۱): النسأ: **۱۶۳** ؛ هود: **۳۶** ؛ نوح: **۲۱**. (۲۲): هود: **۵۳** ؛ الشعرأ: **۱۲۴**. (۲۳): الاعراف: **۷۷** ؛ هود: **۶۲** ؛ الشعرأ: **۱۴۲**. (۲۴): البقره: **۱۲۴** ، **۱۳۶** ؛ آل عمران: **۸۴** ؛ النسأ: **۱۶۳**. (**۲۵**): الصافات: **۱۱۲** ؛ الانعام: **۸۴** ؛ البقره: **۱۳۶** ؛ آل عمران: **۸۴** ؛ النسأ: **۱۶۳**. (۲۶): مریم: **۵۴** ؛ البقره: **۱۳۶** ؛ النسأ: **۱۶۳** ؛ الانعام: **۸۴** ؛ ص: **۴۸**. (۲۷): البقره: **۱۳۶** ؛ الانعام: **۸۴** ؛ آل عمران: **۸۴** ؛ النسأ: **۱۶۳**. (۲۸): الانعام: **۸۴** ؛ المومن: **۳۴** ؛ یوسف: **۴** ، **۵** ، **۶** ، **۲۲**. (۲۹): الانعام: **۸۴** ؛ الاسرأ: **۵۵** ؛ النسأ: **۱۶۳**. (۳۰): النسأ: **۱۶۳**. (۳۱): النسأ: **۱۶۳** ؛ الانعام: **۸۴** ؛ ص: **۴۱**. (۳۲): الصافات: **۱۳۹** ؛ النسأ: **۱۶۳** ؛ الانعام: **۸۴**. (۳۳): مریم: **۵۶** ؛ الانبیأ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۵. (۳۴): الصافات: ۱۳۳ ؛ الشعرأ: ۱۲۱ ؛ الانعام: ۸۲ ؛ الانبیأ: ۷۴. (۳۵): مریم: ۵۱ ؛ البقره: ۵۳ ، ۸۷ ؛ آل عمران: ۸۴ ؛ الانعام: ۹۱ ؛ هود: ۹۲. (۳۶): النسأ: ۱۲۳ ؛ الانعام: ۸۴ ؛ یونس: ۷۵ ؛ مریم: ۵۳ ؛ المومنون: ۴۵. (۳۷): الانبیأ: ۸۹ ؛ ص: ۴۸. (۳۸): الانعام: ۸۲ ؛ ص: ۴۸. (۳۹): الانعام: ۸۵ ؛ مریم: ۲ ؛ الانبیأ: ۸۹. (۴۰): الصافات: ۱۲۳ ؛ الانعام: ۸۵. (۴۱): الانعام: ۸۵ ؛ آل عمران: ۳۹ ؛ مریم: ۱۲. (۴۲): النسأ: ۱۷۱ ؛ الانعام: ۸۵ ؛ الصف: ۲ ؛ الحدید: ۲۷ ؛ الزخرف: ۲۳. (۴۳): الاحزاب: ۴ ؛ الفتح: ۲۹ ؛ محمد: ۲. (۴۴): یوسف: ۱۰۹ ؛ النحل: ۴۳ ؛ الانبیأ: ۷ ؛ ابراهیم: ۱۱. (۴۵): الرعد: ۳۸ ؛ الاحزاب: ۵۹. (۴۶): یوسف: ۱۰۹ ؛ النحل: ۴۳ ؛ الانبیأ: ۷. (۴۷): الحج: ۷۵ ؛ یوسف: ۲ ؛ الاعراف: ۱۴۴ ؛ ص: ۴۷. (۴۸): البقره: ۱۵۳ ؛ الاسرأ: ۵۵. (۴۹): الرعد: ۷ ؛ یونس: ۴۷ ؛ النحل: ۳۶ ؛ فاطر: ۲۴. (۵۰): البقره: ۱۳۶ ، ۱۷۷ ، ۲۸۵ ؛ آل عمران: ۸۴. (۵۱): الفرقان: ۳۷ ؛ الشوری: ۱۳ ؛ آل عمران: ۱۹ ، ۸۵. (۵۲): الفرقان: ۳۷ ؛ الشوری: ۱۳ ؛ آل عمران: ۱۹ ، ۸۵. (۵۳): النحل: ۳۶. (۵۴): الانعام: ۵۰ ؛ الاعراف: ۲۰۳ ؛ هود: ۸۸ ؛ الاحقاف: ۹. (۵۵): النسأ: ۶۴ ، ۸۰ ؛ آل عمران: ۵۰ ؛ الشعرأ: ۱۰۸ ، ۱۱۰. (۵۶): الکهف: ۱۰۶ ؛ المومنون: ۴۴ ؛ الحدید: ۲۵ ؛ المجادله: ۲۱. (۵۷): آل عمران: ۸۴ ؛ الانعام: ۱۰ ، ۳۴ ؛ الانبیأ: ۴۱ ؛ سبا: ۴۵ ؛ فاطر: ۴. (۵۸): الاعراف: ۱۵۸ ؛ مریم: ۵۱ ، ۵۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې يوولسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نوميږي د قرآن پوهنې ډيره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده. دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي. هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو د يوولسمې روژې لپاره يوولسم سوغات ومنئ ، ( ن.صمد )

## د قران سره مرکه ( يوولسمه برخه ) :

پوښتنه: آيا انبيأ کرامو د خپل نبوت ، دعوت او تبليغ لپاره د خلکو څخه معاوضه يا فيس اخيست ؟
ځواب: يا هيڅکله نه ، بلکې ټولو نبيانو صرف او صرف د الله څخه اجر غوښت او بس (۱) .

پوښتنه: ځنې کسان وايي چې انبيأ عليهمُ السلام د قيامت په ورځ د حساب کتاب او پوښتنې څخه خلاص دي. آيا دا خبره صحيح ده ؟
ځواب: يا دا غلطه ده ، بلکې هر نبي به د قيامت په ورځ د خپلو اعمالو ځواب وايي او د هغوی ټولو څخه به بشپړ حساب کتاب غوښتل کيږي (۲) .

پوښتنه: آيا تا په خپل متن کې د کوم نبي دُعا هم بيان کړې ده ؟ که وی لطفأ يې يوه بېلګه راته ووايه تر څو لوستونکي ورڅخه ګټمن سی.
ځواب: هو ، ما د ځينو نبيانو دعاوی ذکر کړي دي. د مثال په توګه د يوسف (ع) دغه دعا : رَب قد آتينی مِن المُلکِ وَ عَلمنی مِن تأويل الاحادث فاطِرَ السموتِ وَ الارض انت ولِی فِی الدُنيا وَ الاخِرتِ توَفنی مُسلماً وَ الحقنِی بالصالِحين (۳) . يعنی : اې زما ربه ! تا ما ته حکومت بخښلی او معامله فهمی دې را عطأ کړې ده ، د آسمان او مځکې پيدا کونکې ! همدا ته په دنيا او آخرت کې زما کارسازه يې ، نو که ماته مرګ راسی هغه دی ستا د اطاعت په حالت کې وی او ما په خپلو نيکو بندګانو کې شامل کړه.

پوښتنه: اوس به راسم دې ته چې آيا کوم نبی ښېرا هم کړې ده که يا ؟
ځواب: هو ، کړې يې ده. کله چې نوح (ع) حتی ۹۵۰ کلنۍ ته ورسېدئ بيا يې هم خپل قوم ته دعوت ورکاوه (۴) . خو کله چې د دې سره سره د قوم اکثريت سمي لاری ته رانغلل (۵) ، نو هغه دا ښېرا ورته وکړه : وَقال نوح رَب لا تذر عَلی الارض مِن الکافِرين دَياراً انکَ اِن تذرهُم يُضلوا عِبادکَ وَلا يَلِدُوآ اِلا فاجراً کفاراً (۲) . يعنی : او نوح عرض وکړ چې اې زما ربه ! د مځکې پر مخ د کافرانو هيڅ کوم کور مه پرېږده. که ته هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا سی پریږدي نو هغوی به ستا بندګان ګمراه کړی او د هغوی را تلونکي نسلونه به هم د حق مخالف او نافرمانه سی.

پوښتنه: آیا تا د کوم نبی مُعجزه هم بیان کړې ده ؟
ځواب: هو ، الله تعالی هر نبی ته ځانګړی دلیل او نښانی عطأ کړی ده (۷) ، لکه موسی (ع) ته چی یې د لکړی (۸) او ید بیضأ (۹) نښانی ورکړي وې. صالح (ع) ته یې د یوې اوښې نښاني ورکړې وه (۱۰) ، او عیسی (ع) ته یې هم د الهی حُکم مطابق د مړو ژوندي کول عطأ کړی و (۱۱).

پوښتنه: دا چی خبره عیسی (ع) ته راغله ، آیا پوښتلای سم چی عیسی (ع) په رښتیا هم بې پلاره پیدا سوی دی ؟
ځواب: هو ، هغه بې پلاره پیدا سوی دی (۱۲).

پوښتنه: خو ځینی کسان ادعا کوی چی هغه د خدای زوی دی. آیا دا ادعا صحیح ده ؟
ځواب: یا ، دا کورټ دروا غ ده (۱۳). بلکی هغه صرف د الله بنده (۱۴) او د هغه نبی و (۱۵). الله تعالی د هیچا پلار نه دی (۱۶).

پوښتنه: بعضی انسانان په افراط سره ادعا کوی چی عیسی (ع) پخپله خدای دی ، آیا دا خبره درواغ نه ده ؟
ځواب: دا ادعا باالکل درواغ ده (۱۷). د الله څخه پرته بل هیڅ خدای نسته (۱۸).

پوښتنه: آیا ویلای سې چی الله (ج) نبیان د څه لپاره مأمور او رالیږلي دي ؟
ځواب: د انبیاوو د بعثت یا مؤظف کولو څخه مقصد خلکو ته د حق د لاری ورښوول او پر هغه باندی د الله دلیل بشپړول دی (۱۹).

پوښتنه: د رسول مخالفت کونکو ته به د الله لخوا عذاب ورکول سی که یا ؟
ځواب: هو ، پر هغوی به سخت الهی عذاب نازلیږی (۲۰).

پوښتنه: د انسانیت وروستی لارښود څوک دی ؟
ځواب: د الله آخری نبی محمد صلی الله علیه وسلم دی (۲۱) چی د ټول بشر لپاره واجب الاتباع مشر او لارښود دی (۲۲). دا ځکه چی هغه د ټولی دنیا د ښېګڼی لپاره کار وکړ (۲۳) ، خلکو ته یې هدایت وکړ (۲۴) ، هغوی ته یې د ژوندون حیاتی نظام عطا کړ (۲۵) ، په رغنده او ښه توګه یې یوه ټولنه جوړه کړه (۲۶) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: د رسول الله (ص) د سیرت په هکله تا کوم تضمین کړی دی که یا ؟ لطفاً ګرانو لوستونکو ته معلومات ورکړه.
ځواب: ډیر ښه، له هغه مهاله چی الله تر قیامته زما د ساتنی ضمانت وکړ، نو له هماغه ساعته ما هم په خپلو آیتونو کی د خپل حامل نبی (ص) سیرت د تل لپاره محفوظ او ساتلی دی (۲۷).

پوښتنه: که لطفاً د رسول الله (ص) په باره کی یو څه معلومات راکړې خوشاله به سم.
ځواب: د هغه نوم محمد (ص) دی (۲۸). هغه د الله بنده (۲۹) او رسول (۳۰) او وروستی نبی دی (۳۱). هغه د عربستان په مکه کی زوکېدلی دی (۳۲). د هغه تر زوکړی مخکی یې پلار مړ سوی و (۳۳). هغه عرب او مورنۍ ژبه یې هم عربی وه (۳۴). د هغه د نسب لړۍ اسمعیل (ع) او ابراهیم (ع) ته رسیږی (۳۵). هغه امی یعنی نالوستی و (۳۶). د هغه د ژوند لومړنی پړاو د سختیو سره مل و خو وروسته یې ژوند سم سو (۳۷).

(۱): الشعرأ: ۱۰۹، ۱۲۷، ۱۴۵، ۱۶۴، ۱۸۰؛ الشوری: ۲۳؛ القلم: ۴۶. (۲): الاعراف: ۶؛ المایّده: ۱۱۲، ۱۱۷، ۱۱۸. (۳): یوسف: ۱۰۱. (۴): العنکبوت: ۱۴. (۵): نوح: ۷؛ هود: ۳۲، ۳۶؛ الفرقان: ۳۷؛ الشعرأ: ۱۰۵؛ القمر: ۹. (۶): نوح: ۲۶، ۲۷. (۷): آل عمران: ۱۸۴؛ الروم: ۴۷؛ الحدید: ۲۵؛ فاطر: ۲۵. (۸): البقره: ۶۰؛ الاعراف: ۱۱۷؛ القصص: ۳۱؛ الشعرأ: ۳۲؛ طه: ۱۸. (۹): الاعراف: ۱۰۸؛ طه: ۲۲؛ الشعرأ: ۳۳؛ النمل: ۱۲؛ القصص: ۳۲؛ (۱۰): الاعراف: ۷۳؛ هود: ۶۴؛ الاسرأ: ۵۹؛ الشعرأ: ۱۵۵؛ الشمس: ۱۳. (۱۱): آل عمران: ۴۹؛ المایّده: ۱۱۰. (۱۲): مریم: ۱۶-۳۴؛ آل عمران: ۴۵-۴۷ و ۴۹؛ النسأ: ۱۷۱. (۱۳): التوبه: ۳۰؛ النسأ: ۱۷۱. (۱۴): مریم: ۳۰؛ النسأ: ۱۷۲؛ الزخرف: ۵۹. (۱۵): آل عمران: ۴۹؛ النسأ: ۱۷۱؛ المایّده: ۷۵؛ الصف: ۶؛ الاحزاب: ۷. (۱۶): الاخلاص: ۳؛ الفرقان: ۲؛ الصفت: ۱۵۲؛ النسأ: ۱۷۱؛ مریم: ۳۵، ۹۲. (۱۷): النسأ: ۱۷۱؛ المایّده: ۱۱۶. (۱۸): البقره: ۱۲۳، ۲۵۵؛ آل عمران: ۶۲؛ النسأ: ۸۷، ۱۷۱؛ المایّده: ۷۳؛ التغابُن: ۱۳. (۱۹): النسأ: ۱۲۵؛ البقره: ۲۱۳؛ الانعام: ۴۸؛ الکهف: ۵۶؛ الاسرأ: ۹۴. (۲۰): سبا: ۴۵؛ النحل: ۱۱۳؛ الشعرأ: ۱۳۹، ۱۸۹؛ العنکبوت: ۳۷؛ الشمس: ۱۴. (۲۱): الاحزاب: ۴۰. (۲۲): النسأ: ۶۴؛ الاعراف: ۱۵۸؛ الانبیأ: ۱۹۷؛ آل عمران: ۳۱؛ الاحزاب: ۲۱. (۲۳): یونس: ۱۰۸؛ الانبیأ: ۱۰۷؛ البقره: ۲۱؛ الاعراف: ۱۵۸؛ الحجرات: ۱۳. (۲۴): الحج: ۴۰؛ الفرقان: ۱؛ الاحزاب: ۴۵-۴۶؛ الشوری: ۵۲. (۲۵): یونس: ۵۷؛ یوسف: ۱۰۴؛ الحجر: ۹؛ ص: ۸۷؛ البقره: ۱۸۵. (۲۶): الفتح: ۲۹؛ آل عمران: ۱۱۰؛ البقره: ۱۴۳. (۲۷): الحجر: ۹؛ العنکبوت: ۴۹؛ القیامه: ۱۷. (۲۸): آل عمران: ۱۴۴؛ الاحزاب: ۴۰؛ محمد: ۲؛ الفتح: ۲۹. (۲۹): الاسرأ: ۱؛ الکهف: ۱؛ الحدید: ۹؛ الجن: ۱۹؛ النجم: ۱۰. (۳۰): آل عمران: ۱۶۴؛ المایّده: ۶۷؛ الاحزاب: ۲۱، ۴۰؛ الفتح: ۲۹؛ الحشر: ۷. (۳۱): الاحزاب: ۴۰. (۳۲): البلد: ۲؛ ابراهیم: ۳۵؛ آل عمران: ۹۶؛ التین: ۳؛ الشوری: ۷. (۳۳): الضحی: ۶. (۳۴): الدخان: ۵۸؛ الجمعه: ۲؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاعراف: **۱۵۷** ، **۱۵۸** ؛ مریم: **۹۷** ؛ الشوری: ۷. (**۳۵**) : البقره: **۱۲۸** ، **۱۲۹**. (**۳۲**) : الاعراف: **۱۵۷** ، **۱۵۸** ؛ الجمعه: ۲ ؛ العنکبوت: ۴۸. (۳۷) : الضحی: ۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې دوولسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه» نومیږي د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دایې تاسو او دا یې هم د دوولسمې روژې لپاره دوولسم سوغات ، ( ن. صمد )

## د قران سره مرکه ( دوولسمه برخه ) :

پوښتنه: که د رسول الله (ص) د بعثت په هکله معلومات راکړې ، خوشاله به سم.
ځواب: کله چې هغه غټ سو ، نو د هدایت په لټه کې سو (۱). الله تعالی هغه په نبوت سره ونازاوه او پر هغه باندې یې زه نازل کړم (۲). په لومړي سر کې هغه له تلواره کار اخیست خو الله تعالی له داسې کاره منع کړ او زما د ساتنې او ژغورنې بشپړه ډاډ یې ورکړ (۳).

پوښتنه: آیا لوی خدای د هغه (ص) د نبوت په باره کې له مخکې څخه کوم خبر راکړی و که یا ؟
ځواب: هو باالکل ، د هغه د راتلونکي نبوت په هکله په تورات ، انجیل او د عیسی (ع) د بشارت په ډول له مخکې څخه لا پیش ګویانې سوي وې (۴). د هغه بعثت د نبوت د لړۍ تر یو اوږد ځنډ وروسته را څرګند سو (۵).

پوښتنه: که لطفأ را ته ووایې چې کله حضرت محمد (ص) په رسالت مأمور سو ، نو لوی او عمده مسؤلیتونه یې څه وو ؟
ځواب: د الله تعالی د رسول کېدو په حیث د هغه لویې ذمه واری او مسؤلیتونه په دې ډول وو :
۱- خلکو ته د الله د آیتونو ویل او د هغوی متوجه کول (۶).
۲- د ایمان والاوو د نفس تزکیه او پاکوالی (۷).
۳- هغوی ته د الله د کتاب ور زده کول او د هغه د احکامو ورښوول (۸).
۴- هغوی په واقعیت او سترګو غړولو ( بصیرت ) پوهول (۹).
۵- انسانانو ته زما تشریح او تفسیر کول (۱۰).
۶- د انساني ژوندانه د لارښوونې لپاره د یوې عملي او علمي نمونې وړاندې کول (۱۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷.د اصلي دين په هکله د ټولو هغو اختلافونو د حقيقت واضح کول چې د پخوانيو انبياوو په امتونو کې منځته راغلي وو او په دې لړ کې د هر ډول ګډوډيو ښېلول ، د تشويش او وارخطايي رفع کول ، د ګمراهيو د پردو څيرل او د هدايت د لارې ځلول شامل وو (۱۲) .

۸.په دنيا کې د حق د فکري او عملي شاهد په توګه اوسېدل (۱۳) .

۹.خلک د غيرالله له پابنديو آزادول ، هغوی د غلطو عنعنو او رواجونو له ځنځيره خلاصول ، د حلال او حرام په ښه توګه تشخيص او ښېلول (۱۴) .

۱۰.خلکو ته د ښېګڼو او نيکيو د حُکم ورکول او د بديو څخه منع کول (۱۵) .

۱۱.د الله دين د انساني ژوندانه په هره برخه کې جاري او غالب کول (۱۲) .

پوښتنه: دا خو ډېر په زړه پوری معلومات وو . آيا د رسول الله (ص) د نبوت څو دلايل را ته ويلای سې ؟

ځواب: هو ولی نه. د هغه د رسالت څو لنډ دلايل به دا سې در وښيم :

۱.د هغه د نبوت تر ټولو غټ دليل ( يعنی معجزه ) زه پخپله يم (۱۷) ، او زما غوندی بل هيڅ کلام نسي وړاندی کېدای (۱۸) .

۲.هغه کوم نوی نبی نه و (۱۹) ، بلکی د ټولو نبيانو تصديق يې کاوه (۲۰) .

۳.هغه اُمی و او د چا څخه يې لوستل او ليکل نه وو زده کړي ، خو د عمر د يوې ډېری حصې تر تيرېدو وروسته يې يو دم د علم او حکمت ستر تدريس پيل کړ (۲۱) .

۴.خلکو له پخوا څخه لا هغه د يو صادق او امين شخص په توګه پيژندئ (۲۲) .

پوښتنه: که ستا خوښه وی نو زه به د رسول الله (ص) د ژوند ، مبارزې او رسالت په موضوع کی نوری پوښتنی هم وکړم. لطفاً را ته ووايه چی تر بعثت وروسته هغه (ص) څنګه خلک اسلام ته رابلل ؟

ځواب: هغه په نبوت تر مؤظف کېدو ډېر ژر وروسته خلکو ته د حق بلنه پيل کړه (۲۳) . لومړی يې خپل کهول ( بنو هاشم ) ته د حق پيغام وړاندی کړ (۲۴) . د دعوت او تبليغ دا لړۍ تر څه وخته په پټه کېده ، خو څه موده وروسته يې د مکې اوسېدونکو ته د حق پيغام په ښکاره سره ورکاوه (۲۵) .

پوښتنه: رسول الله (ص) په دې لار کی د خنډونو او ستونزو سره هم مخامخ سوی دی که يا ؟

ځواب: هو باالکل. د هغه د بلنی په نتيجه کی د حق او باطل تر منځ يوه شخړه رامنځته سوه او څه کسانو پر هغه ايمان راوړ خو د قوم اکثريت هغه درواغجن وباله او د الله د رسول والي څخه يې انکار وکړ (۲۲) . د کفارو او مشرکانو د دې انکار اصلی دليل د هغوی نفس پالنه وه چی د هغه پر خلاف يې هيڅ حقيقت نه منئ (۲۷) . ابولهب د ده خورا سخت مخالفت وکړ چی د هغه په باره کی الله دا سی فرمايلی دي: تبَت يَداْ ابی لهَب وَ تب مَا اغنی عَنهُ مَا له وَ مَا کسَب سَيَصلی ناراْ ذات لهَب وَ امرأته حَمَا لته الحَطب فِی جيدِهَا حَبل مِن مَسَد (۲۸) ، يعنی: د ابولهب لاس مات او هغه برباد سو ، نه د هغه مال د ده په درد وخوړ نه يې عايد . هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او میرمن به یې هم چې د دغو لرګیو راټولونکې ده ژر په سرو لمبو کې وسوځي یعنی هغه چې په غاړه کې به یې مظبوطه رسۍ وي.

پوښتنه: چې داسې ده، نو کافرانو او مشرکانو د ده (ص) پر ضد څه وکړل؟ که یو څه مفصلاً وفرمایې، ښه به وي.

ځواب: کفارو او مشرکینو د ده پر ضد منفي جبهه جوړه کړه (۲۹). په ده یې ملنډې وهلې (۳۰). د بدو شیانو سره یې تشبه کاوه (۳۱). بې ځایه انګېرنې یې کولې (۳۲) او د اعتراضونو او تهمتونو څپې یې پر راوړلې (۳۳). دئ یې جادوګر وباله (۳۴)، شاعر یې وباله (۳۵)، مجنون یې وباله (۳۶)، سحر ځپلی (۳۷) او کاهن (۳۸) یې وباله. پر ده یې د خبرو جوړولو تور ولګاوه (۳۹). د بد حاله او بې اولاده پیغورونه یې ورکول (۴۰). غوږ او د هرې خبرې اورېدونکی یې باله (۴۱). له ډېره مخالفته به یې دا تور لګاوه چې پر هغه د الله لخوا کوم کلام یا بل شی نه نازلیږي بلکې دا ټول د ده خپلې جوړونې او جعلیات دي (۴۲).

(۱): الضحی: ۷. (۲): الشوری: ۷؛ الفرقان: ۱؛ الانعام: ۹۲؛ یونس: ۲؛ الاسرأ: ۱۰۵. (۳): طه: ۱۱۴؛ القیامه: ۱۲ـ۱۹. (۴): الاعراف: ۱۵۷؛ الصف: ۱۲؛ البقره: ۱۲۹، ۱۵۱؛ آل عمران: ۱۲۴؛ الجمعه: ۲. (۵): المایِّده: ۱۹. (۶): آل عمران: ۱۲۴؛ البقره: ۱۵۱؛ الجمعه: ۲؛ النمل: ۹۲؛ الطلاق: ۱۱. (۷): آل عمران: ۱۲۴؛ الجمعه: ۲؛ البقره: ۱۵۱. (۸): آل عمران: ۱۲۴؛ الجمعه: ۲؛ البقره: ۱۵۱. (۹): آل عمران: ۱۲۴؛ الجمعه: ۲؛ البقره: ۱۵۱. (۱۰): النحل: ۴۴، ۶۴؛ آل عمران: ۱۲۴؛ الجمعه: ۲؛ البقره: ۱۵۱. (۱۱): الاحزاب: ۲۱؛ الحشر: ۷. (۱۲): المایِّده: ۱۵، ۱۲؛ النحل: ۲۳، ۶۴. (۱۳): البقره: ۱۴۳؛ النسأ: ۴۱؛ النحل: ۸۱؛ الحج: ۷۸. (۱۴): الاعراف: ۱۵۷. (۱۵): الاعراف: ۱۵۷. (۱۶): التوبه: ۳۳؛ الفتح: ۲۸؛ الصف: ۹. (۱۷): العنکبوت: ۵۰، ۵۱؛ الاسرأ: ۱۷، ۱۰۵؛ البقره: ۲۳؛ هود: ۱۲ـ۱۳. (۱۸): البقره: ۲۳؛ یونس: ۳۸؛ هود: ۱۳؛ الطور: ۳۴. (۱۹): الاحقاف: ۷۹؛ النسأ: ۱۲۳؛ النحل: ۳۶؛ النجم: ۵۲؛ الشوری: ۱۳. (۲۰): البقره: ۱۰۱؛ آل عمران: ۸۱؛ الصف: ۶. (۲۱): الاعراف: ۱۵۷ـ۱۵۸؛ العنکبوت: ۴۸؛ الجمعه: ۲. (۲۲): الاحزاب: ۲۲؛ یس: ۵۲؛ آل عمران: ۱۷۱. (۲۳): الشوری: ۷؛ الفرقان: ۱؛ الانعام: ۹۲؛ یونس: ۲؛ الاسرأ: ۱۰۵. (۲۴): الشعرأ: ۲۱۴. (۲۵): الحجر: ۹۴. (۲۶): الانعام: ۲۶، ۵۷، ۳۳، ۳۴، ۱۴۷. آل عمران: ۱۸۴. (۲۷): العنکبوت: ۱۸؛ فاطر: ۴، ۲۵؛ الفرقان: ۷۷؛ یونس: ۴۱؛ الحج: ۴۲. (۲۸): اللهب: ۱ـ۶. (۲۹): الفرقان: ۳۱. (۳۰): الفرقان: ۴۱؛ الانبیأ: ۳۶؛ الحجر: ۹۵؛ الانعام: ۱۰؛ الصافات: ۲ـ۱۴. (۳۱): الفرقان: ۴۱؛ الانعام: ۲۵، ۵۳؛ النحل: ۲۴. (۳۲): الفرقان: ۲۱؛ یونس: ۲۰؛ طه: ۱۳۳؛ هود: ۱۹. (۳۳): آل عمران: ۱۸۴؛ الانعام: ۵۷، ۱۴۷؛ فاطر: ۴؛ یونس: ۴۱؛ الحج: ۴۲. (۳۴): ص: ۴؛ یونس: ۲؛ الانبیأ: ۳؛ المدثر: ۲۴؛ هود: ۷. (۳۵): الانبیأ: ۵؛ الطور: ۳۰؛ الحاقه: ۴۱؛ یس: ۶۹. (۳۶): الحجر: ۶؛ الطور: ۲۹؛ القلم: ۲، ۵۱ التکویر: ۲۲؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاعراف: ۱۸۴. (۳۷): الفرقان: ۸ ؛ الاسرأ: ۴۷. (۳۸): الحاقه: ۴۲ ؛ الطور: ۲۹. (۳۹): الحاقه: ۴۴. (۴۰): الکوثر: ۳. (۴۱): التوبه: ۲۱. (۴۲): النحل: ۱۰۱ ؛ هود: ۱۳ ؛ الفرقان: ۴ ؛ السجده: ۳ ؛ الاحقاف: ۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې ديارلسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نوميږي د قرآن پوهنې ډيره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده . دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي . هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !
نو دا يې تاسو او دا يې هم د ديارلسمې روژې لپاره ديارلسم سوغات ، ( ن.صمد )

## د قران سره مرکه ( ديارلسمه برخه ) :

پوښتنه: آيا تا د دې تهمتونو او اعتراضونو مقابله کوله ؟ بل دا چې کفارو د رسول الله (ص) څخه څه معجزې او دلايل غوښتل ؟ که په دې هکله مختصر معلومات راکړې ، ښه به وي .
ځواب:هو ، ما د دې ټولو تهمتونو او اعتراضونو ځواب ځای پر ځای ويلی دی(۱) . د مکې کفارو د هغه څخه عجيبې معجزې غوښتې او ورته ويل به يې چې موږ تر هغه مهاله ستا خبره نه منو څو چې زموږ لپاره مځکه څيرې او يوه چينه ورڅخه جاري نکړې او يا هم دا چې ځانته د خرماوو او انګورو باغونه جوړ کړې او په هغو کې ويالې وبهوې ، يا دا چې لکه ته چې ادعا کوې نو دغه آسمان ټوټه ټوټه کړه او پر موږ يې راواچوه ، يا دا چې خدای او ملايکې مستيقماً زموږ سره مخامخ کړه ، يا دا چې ستا لپاره دې د سروزرو يو کور جوړ سي ، يا دا چې آسمان ته وخيژه خو بيا هم تر هغو پورې موږ يقين نه کوو تر څو چې له هغې خوا زموږ لپاره يو داسې ليکلی سند رانه وړې چې موږ يې ولولو (۲) .

پوښتنه: آيا کفارو او مشرکانو به مزاحمت ورته کاوه که يا ؟ که وي ، نو يو مثال يې راکولای سې ؟
ځواب: هو ، د حق مخالفين د هغه د بلنې اورېدلو او ځان پوهولو ته هيڅ نه چمتو کېدل ، بلکې کله چې به ده هغوی ته زما آيتونه ويل نو هغوی به غالمغال او شور کاوه او ګډوډۍ به يې جوړاوه تر څو په دغسې هنګامه کې چا ته د غور او فکر کولو موقع مساعده نسي . د دې حربې او شيطانۍ په ذريعه به نوموړو خلکو خپله جبهه پياوړې بلله(۳) .

پوښتنه: آيا څه خاص چلنجونه به يې هم ورکول که يا ؟
ځواب: هو خورا ډير . کله کله به يې د ټوکو او ملنډو په توګه ورڅخه پوښتل چې قيامت به کله راسی ؟ (۴) . کله به يې په مسخرو سره داسې دعا کوله چې اې الله ! که دا واقعي حق وي او ستا له لوري وي نو پر موږ باندې له آسمانه ډبرې راواوروه ، يا کوم بل دردناک عذاب راباندې نازل کړه (۵) . کله به يې دا اعتراض

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه چې پر دغه نبی هیڅ خزانه نه ده نازله سوې (۲). او کله به یې ویل چې د ده سره هیڅ کومه ملایکه نه لیدل کیږی (۷).
یو وخت د ډیری مودې لپاره وحی نه راغله نو کفارو به مسلسل ویل چې رب یې ورځخه خوابدی سوی دی او دئ یې همداسی پر میدان پرې ینبی دی (۸).

پوښتنه: د دې ټولو سپکاویو او خواریو په وړاندی هغه (ص) څه غبرګون ښودئ او څه به یې کول ؟
ځواب: نبی (ص) بیا هم د دې ټولو بې ادبیو او بدو خبرو د توپان په وړاندی خپل عرض وړاندی کاوه ، د حق اظهار به یې کاوه او د بد اخلاقه خلکو څخه به یې ځان ګوښه کاوه (۹). د ده ستره هیله دا وه چې خلک ایمان پر راوړی او هدایت حاصل کړی او له همدې امله به پریشان او غمجن و (۱۰).

پوښتنه: په دغسی مشکل حالت کی د هغه (ص) سره ستا مرسته او لاسنیوئ موجود و که یا ؟ که و ، نو څه دې کول ؟
ځواب: ما د کفارو د پروپاګنډو په مقابل کی د ده د اصلی حیثیت د ښه ترا څرګندولو لپاره دئ په ډیرو ښه لقبونو سره نازولی دی تر څو عامو خلکو د ده په هکله صحیح تصور کولای. ما داسی ویلی دي چې محمد (ص) د الله بنده (۱۱) ، د هغه رسول (۱۲) ، او نبی دی (۱۳). هغه نذیر (۱۴) ، بشیر (۱۵) ، احمد (۱۲) ، مبشر (۱۷) یعنی زیرئ ورکونکی ، مُذکِر (۱۸) یعنی د دین ور په یادونکی ، مُنذِز (۱۹) ، یعنی خبر ورکونکی ، داعی الا الله (۲۰) ، یعنی د الله خوا ته رابلونکی ، مُزمِل (۲۱) یعنی په کمپل کی پیچلی ، مُدثِر (۲۲) یعنی په تلتک کی پیچلی ، خاتم النبین (۲۳) ، یعنی آخری نبی ، هادی (۲۴) ، یعنی د هدایت لارښوونکی ، رحمته اللعالمین (۲۵) ، یعنی د ټول جهان لپاره رحمت ، د هدایت روښانه څراغ (۲۲) ، د حق شاهد (۲۷) ، د امت خیر غوښتونکی او غمخور (۲۸) ، د مسلمانانو لپاره رؤف (۲۹) ، یعنی د شفقت او مهربانۍ لورونکی ، او رحیم (۳۰) دی.

پوښتنه: آیا د رسول الله (ص) هڅی او دعوت نتیجه ورکوله ؟ آیا کافرانو خنډونه ورته ایجادول که یا ؟
ځواب: د ده دعوت به سَو که سَو که ټول عرب تر اغیزې لاندی راوستل چې له امله یې د اسلام جبهه ټینګه او غښتلې کېده او د کفر په ځواک کی لړښت راتی (۳۱). خو د دې سره سره باطل فکره انسانان ډیر فعال وو. هغوی د حق د بلنی څخه د خلکو د پام اړولو په خاطر د ساعتیریو محاذ خلاص کړ ، د خوشالولو او تفریح کارونو ته یې لاس واچاوه ، د عیاشۍ او لوبو ننداري یې راویستلې او د دلچسپو افسانوی کیسو بیانونه یې شروع کړل (۳۲).

پوښتنه: ډیره مننه د دې جامع وضاحت څخه. نو رسول الله (ص) به د دې مزاحمتونو په وړاندی څه کول ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: کفارو د ده سره د معاملو او موافقو هڅی هم وکړې او داسی به یې ویل چی د دغه قرآن پر ځای کوم بل قرآن راوړه یا په همدغه کی زموږ د خوښي سره سم ترمیم راوړه. په دې هکله الله تعالی خپل نبی ته وفرمایل چی « دغو خلکو ته ووایه چی زه د دې اختیار نه لرم چی په هغه کی له ځانه څه بدلون راوړم. زه صرف د هغو وحیو پیرو یم چی ما ته رالیږل کیږی. که زه د خپل رب نافرماني وکړم نو د قیامت د عذاب څخه بیریږم » (۳۳).

پوښتنه: الله (ج) د دې خنډونو او تکلیفونو په بدل کی څه کومک ورسره کاوه ؟
ځواب: الله خپل نبی ته د کفارو د دې ډول معاملو په مقابل کی د ثابت قدمۍ او د هغوی د چلونو څخه د ژغورنی تلقین وکړ او الله د ځان له لوری د هغه د ساتنی بشپړ ډاډ ورکړ (۳۴).
د حق مخالفینو د غیر الله څخه د ده د بیرولو هڅی هم وکړې خو الله تعالی په هر حالت کی دئ ثابت قدمه کړ او په هر حالت کی یې د ده د ساتنی اطمینان ورکاوه (۳۵).

پوښتنه: د اهل کتاب والاوو رویه څنګه وه ؟ آیا هغوی په دې مبارزه کی رغنده رول نه لوباوه ؟
ځواب: اهل الکتاب یعنی یهودو او عیسویانو هم د ده څخه انکار وکړ او مخالف یې سول، حال دا چی د ده په حقانیت ښه پوه وو (۳۶). د هغوی په انکار کی حسد، ضدیت، او مطلب پالنه نغښتې وه (۳۷).

(۱): الاعراف: ۱۸۴ ؛ یس: ۶۹ ؛ الحاقه: ۴۱ ؛ الطور: ۲۹ ؛ السجده: ۳. (۲): الاسرأ: ۹۰-۹۳. (۳): حم سجده: ۲۶. (۴): الاعراف: ۱۸۷ ؛ الاحزاب: ۶۳ ؛ النازعات: ۴۲. (۵): الانفال: ۳۲. (۶): هود: ۱۲. (۷): هود: ۱۲. (۸): الضحی: ۱، ۲، ۳. (۹): الاعراف: ۱۹۹. (۱۰): الکهف: ۶ ؛ الشعرأ: ۳ ؛ النحل: ۱۲۷ ؛ النمل: ۷۰ ؛ الانعام: ۳۳. (۱۱): الحدید: ۹ ؛ الجن: ۱۹ ؛ الاسرأ: ۱ ؛ الکهف: ۱ ؛ النجم: ۱۰. (۱۲): آل عمران: ۱۶۴ ؛ المایّده: ۶۷ ؛ الاحزاب: ۲۱، ۴۰ ؛ الفتح: ۲۹ ؛ الحشر: ۷. (۱۳): آل عمران: ۶۸ ؛ الاعراف: ۱۵۷، ۱۵۸ ؛ التوبه: ۷۳ ؛ الممتحنه: ۱۲ ؛ التحریم: ۱. (۱۴): الاعراف: ۱۸۸ ؛ فاطر: ۲۴ ؛ سبا: ۲۸ ؛ البقره: ۱۱۹ ؛ المایّده: ۱۹. (۱۵): الاعراف: ۱۸۸ ؛ فاطر: ۲۴ ؛ سبا: ۲۸ ؛ البقره: ۱۱۹ ؛ المایّده: ۱۹. (۱۶): الصف: ۶. (۱۷): الفرقان: ۵۶ ؛ الفتح: ۹ ؛ الاسرأ: ۱۰۵ ؛ الاحزاب: ۴۶. (۱۸): الغاشیه: ۲۱. (۱۹): الرعد: ۷. (۲۰): الاحزاب: ۴۶. (۲۱): المزمل: ۱. (۲۲): المدثر: ۱. (۲۳): الاحزاب: ۴۰. (۲۴): الشوری: ۵۲. (۲۵): الانبیأ: ۱۰۷. (۲۶): الاحزاب: ۴۶. (۲۷): النحل: ۸۹ ؛ البقره: ۱۴۳ ؛ النسأ: ۴۱ ؛ الحج: ۸. (۲۸): التوبه: ۱۲۸. (۲۹): التوبه: ۱۲۸. (۳۰): التوبه: ۱۲۸. (۳۱): الرعد: ۴۱ ؛ الانبیأ: ۴۴. (۳۲): لقمان: ۶. (۳۳): یونس: ۱۵. (۳۴): الاسرأ: ۷۴-۷۵ ؛ هود: ۱۱۲-۱۱۳. (۳۵): الزمر: ۳۶. (۳۶): البقره: ۸۹، ۱۰۹، ۱۴۴، ۱۴۶ ؛ آل عمران: ۸۶، ۹۹ ؛ الانعام: ۱۱۴ ؛ الرعد: ۴۳. (۳۷): القصص: ۵۰ ؛ آل عمران: ۱۹ ؛ البقره: ۸۹، ۱۰۹ ؛ النسأ: ۵۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې ځورلسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده . دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي . هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو داپې تاسو او دا یې هم د څوارلسمې روژې لپاره څوارلسم سوغات ، ( ن . صمد )

## د قران سره مرکه ( څوارلسمه برخه ) :

پوښتنه : آیا کفار آرام کښېناستل او مسلمانان یې آزاد پرېښوول ؟
ځواب : یا ، د مکې کفارو د رسول الله او د هغه د ملګرو ژوند ډیر تنګ کړ او هغوی یې په سختو تکلیفونو کې راګیر کړل (۱) . مؤمنان ډیر کمزوره او بې وزله وو او د دښمنانو په محاصره کې راغلي وو (۲) .

پوښتنه : آیا د دعوت او مبارزې په دې بهیر کې رسول الله (ص) د څه خاصو پیښو سره هم مخامخ سوی دی ؟
ځواب : هو ، دا مهال د رسول الله د ژوندانه یوه ډیره مهمه پیښه اسرأ یعنې معراج دی چې د هغه په ترڅ کې الله (ج) خپل نبی (ص) په یوه شپه کې د مسجد الحرام څخه یووړ او د مسجد اقصی له برکته ډکه فضا کې یې وګرځاوه . په دې ترڅ کې یې ځینې خاصې نښانې هم په ولیدلې (۳) .

پوښتنه : آیا د دې هر څه سره سره کافرانو د رسول الله (ص) ژوند د تهدید او خطر سره مخامخ نکړ ؟ که وی ، نو څه یې وکړل او رسول الله (ص) په مقابل کې څه وکړل ؟ که یو څه مفصل وضاحت راکړې ، ښه به وی .
ځواب : د مکې کفارو د ده د بندي کولو یا له وطنه شړلو او یا هم وژلو پلانونه جوړ کړل (۴) چې له امله یې رسول الله په پټه د مکې څخه هجرت کولو ته اړوت (۵) . د هجرت پر مهال د ده یو صحابی [ حضرت صدیق رضی الله عنه ] هم ورسره ملګری و . کفارو دئ تعقیباوه . دئ د خپل ملګري سره په غار کی پټ و . د اسلام دښمنان دغه غار ته بالکل نږدې راورسېدل چې دا مهال د ده ملګرئ یو څه وبیرېدئ ، خو ده هغه ته ډاډ ورکړ او داسې یې ورته وویل : « غم مه کوه ، الله زموږ سره دی » (۶) .
دئ د الله په مرسته او نصرت سره مع الخیر یثرب ( مدینې ) ته ورسېدئ (۷) او هلته د تګ پر مهال یې پر لارې د یو مسجد [ قبا ] بنسټ هم کښېښود (۸) . ده څه موده وروسته د مکې څخه د راغلو مهاجرینو او مدینې د پاک زړو انصارو تر منځ ورورې رامنځته کړه (۹) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: آیا په مدینه کی د انصارو د اخوت او رغبت سره سره کفارو څه منفی غبرګون ښکاره نکړ ؟
ځواب: په مدینه کی د یهودو او عیسویانو څخه علاوه د منافقینو ډله هم د ده سخت مخالف وو (۱۰).
هغوی د حق رټلو او سپکولو لپاره ډیر زور وواهه خو د هغوی دغه پوف کولو د حق څراغ مړ نه کړ بلکی هغه ته یې نوره رڼا او تازګي هم ورکوله او د حق پلویانو نور ښه منظم قوت هم اخیست او پسی غښتلي کېدل (۱۱).
په مکه کی مسلمانان خورا کمزوره او بې ترتیبه او د دښمنانو په محاصره کی وو. خو مدینې ته له راتګه وروسته الله تعالی هغوی ته فتح او نصرت عطأ کړ، بیاوړي او خوشاله یې کړل (۱۲).

پوښتنه: کله چی مدینې ته له هجرته وروسته رسول الله (ص) او مسلمانان آرام او ډاډه سول، مابعده اقدامات یې څه وو ؟
ځواب: مابعده اقدامات یې دعوت او جهاد و. رسول الله په ډیرو غزاوو کی برخه واخیسته چی په هغو کی د بدر غزا (۱۳)، د احزاب غزا (۱۴)، بیعتِ رضوان (۱۵) یعنی د حُدیبیه سوله، د مکې فتح (۱۲) او د حُنین غزا (۱۷) شاملی دي.

پوښتنه: اوس به د هغه (ص) شخصی ژوند ته راسم. که لطفأ د رسول الله (ص) د میرمنو او اولادونو په هکله معلومات راکړې، بې مناسبته به نه وی.
ځواب: هغه څو مایني لرلې (۱۸) او اولادونه یې هم درلودل چی په هغو کی لوڼی هم وې (۱۹). خو هیڅ کوم زوی یې ډیر عمر ته و نه رسېدئ (۲۰).

پوښتنه: هغه (ص) چیری او څنګه رحلت وکړ ؟
ځواب: هغه د خپل عمر په پای کی حج وکړ او د حج خطبه یې هم وویله (۲۱). تر هغه لږ موده وروسته وفات سو (۲۲).

پوښتنه: که د رسول الله (ص) د مقام او حیثیت په باره کی مختصرأ معلومات راکړې ښه به وی تر څو لوستونکي پوه سی چی تا په خپل متن کی په دې اړه څه ارشاد فرمایلی دی.
ځواب: ډیر ښه. هغه انسان و (۲۳)، ملایکه نه و (۲۴). هغه د الله بنده و (۲۵)، رسول (۲۲) او وروستی نبی یې و (۲۷). هغه معصوم و (۲۸). د انسانیت یوه بشپړ نمونه وه (۲۹). په هغه کی خدایی اشتراک نه و (۳۰). هغه د ځان د عبادت کولو لپاره نه و راغلی (۳۱)، بلکی د دې لپاره مؤظف و چی خلک صرف او صرف د خدای عبادت ته راوبولی (۳۲). هغه هم د نورو نبیانو غوندی مؤظف سوی و، او د قیاموت په ورځ به د خپلو اعمالو مسؤل او ځواب ویونکی وی (۳۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: دا چې لوی خدای رسول الله (ص) په نبوت او رسالت سره مبعوث کړ، او تا په دې هکله زیات ارشادات هم وفرمایل، نو آیا پر مسلمانانو د رسول الله (ص) اطاعت واجب دی که یا ؟ که وی، د سرغړونی په صورت کی ستا فیصله څه ده ؟
ځواب: رسول الله د ټولو انسانانو لپاره واجب الاطاعت لارښود دی (۳۴). د هغه هره پریکړه د الله پریکړه ده چې سرغړونه یې د پوښتنی وړ جرم ګڼل کیږی (۳۵). د هغه اطاعت د خلکو لپاره یو امتحان دی (۳۶). د هغه د اوامرو سرغړونکی به د قیامت په ورځ افسوس او پښېماني وکړی (۳۷). هغه زما یو مستند مفسر او تشریح کونکی دی (۳۸). په قانون جوړولو کی د هغه سنت زما غوندی یو قانونی مأخذ دی (۳۹). د ده فیصله تر قیامته هم نسی بدلېدای (۴۰). د ده د حُکم څخه سرغړوَنه د کفر او منافقت نښه ده (۴۱). د ده پیروي د ایمان اصلی معیار دی (۴۲).

(۱): الاعراف: ۱۸۸ ؛ التوبه: ۲۱. (۲): الانفال: ۲۲. (۳): الاسرأ: ۱. (۴): الاسرأ: ۱. (۵): الانفال: ۳۰. (۵): الاسرأ: ۵۰ ؛ التوبه: ۱۳ ، ۴۰. (۶): التوبه: ۴۰. (۷): الاسرأ: ۵۰ ؛ التوبه: ۱۰۱. (۸): التوبه: ۱۰۸. (۹): آل عمران: ۱۰۳ ؛ الانفال: ۷۲ ، ۷۴. (۱۰): التوبه: ۲۴ ، ۱۰۱ ؛ الاحزاب: ۱ ، ۱۲ ؛ الانفال: ۴۹ ؛ المنافقون: ۸. (۱۱): التوبه: ۳۲ ، ۳۳ ، ۱۰۰ ؛ الصف: ۸ ، ۹ ؛ الفتح: ۲۹. (۱۲): الانفال: ۲۲. (۱۳): آل عمران: ۱۲۳. (۱۴): الاحزاب: ۹-۲۵. (۱۵): الفتح: ۱۸. (۱۶): الحدید: ۱۰ ؛ النصر: ۱. (۱۷): التوبه: ۲۵ ، ۲۶ ، ۲۷. (۱۸): الاحزاب: ۶ ، ۲۸ ، ۵۳ ، ۵۹ ؛ التحریم: ۱-۲. (۱۹): الاحزاب: ۵۹ ؛ الرعد: ۳۸. (۲۰): الاحزاب: ۴۰. (۲۱): التوبه: ۳. (۲۲): الزمر: ۳۰ ؛ آل عمران: ۱۴۴ ؛ الحجر: ۹۹. (۲۳): التوبه: ۱۲۸ ؛ الکهف: ۱۱۰ ؛ الفرقان: ۷ ؛ الاسرأ: ۱۰ ، ۹۳ ؛ الانبیأ: ۷ ، ۸. (۲۴): الانعام: ۵۰. (۲۵): الحدید: ۹ ؛ الجن: ۱۹ ؛ الاسرأ: ۱ ؛ الکهف: ۱ ؛ النجم: ۱۰. (۲۶): آل عمران: ۱۶۴ ؛ المایِّده: ۶۷ ؛ الاحزاب: ۲۱ ، ۴۰ ؛ الفتح: ۲۹ ؛ الحشر: ۷. (۲۷): الانفال: ۶۴ ، ۶۵ ، ۷۰ ؛ التوبه: ۷۳ ؛ الاحزاب: ۲۸ ، ۴۵ ، ۵۰ ؛ الممتحنه: ۱۲ ؛ التحریم: ۱. (۲۸): الفتح: ۲. (۲۹): القلم: ۴ ؛ الاحزاب: ۲۱. (۳۰): یونس: ۱۵ ، ۴۹ ؛ الانعام: ۱۷ ، ۵۰ ، ۵۷ ، ۵۸ ؛ الاعراف: ۱۸۸ ؛ الرعد: ۴۰ ؛ الزمر: ۴۱. (۳۱): آل عمران: ۷۹. (۳۲): الانبیأ: ۲۵ ؛ الانعام: ۱۰۲ ؛ یونس: ۳ ؛ النجم: ۱۲ ؛ النسأ: ۳۶. (۳۳): البقره: ۱۴۵ ؛ النسأ: ۸۴ ؛ المایِّده: ۶۷ ، ۱۱۶ ، ۱۱۷ ، ۱۱۸ ؛ الاعراف: ۲. (۳۴): النسأ: ۶۴ ، ۶۵. (۳۵): الاحزاب: ۳۶. (۳۶): البقره: ۱۴۳. (۳۷): الفرقان: ۲۷. (۳۸): النحل: ۴۴ ، ۶۴ ؛ آل عمران: ۱۶۴ ؛ الجمعه: ۲ ؛ البقره: ۱۵۱. (۳۹): النسأ: ۶۵ ، ۱۰۵ ؛ النحل: ۴۴ ، ۶۴ ؛ الاحزاب: ۲۱ ، ۳۶. (۴۰): الاحزاب: ۴۰ ؛ الحشر: ۷ ؛ الاعراف: ۱۵۷. (۴۱): النسأ: ۶۱. (۴۲): النسأ: ۶۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې پنځلسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده . دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وايي . هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو داېې تاسو او دا یې هم د پنځلسمې روژې لپاره پنځلسم سوغات ، ( ن . صمد )

## د قران سره مرکه ( **پنځلسمه برخه** ) :

پوښتنه : کله کله په کفري نړۍ کې د خاص تعصب او حسد له مخې د رسول الله (ص) په هکله عجیب او غریب کارتونونه او د سپکاویو نور ډول ډول اهانتونه کیږي . نو آیا ښه به نه وي چې د دغه عظیم شخصیت اصلي خویونه او کړه وړه راته ووایې تر څو اول موږ او بیا نوره نړۍ هغه (ص) ښه ترا و پیژني ؟

ځواب : دا چې الله تعالی پخپله رسول الله ته دایمي شهرت او حیثیت عطا کړی دی نو کفار به څنګه دا عالي مقام راټیټ کړای سي ؟ (۱) . د هغه اخلاق او ځانګرتیاوې فوق العاده عالي وو (۲) . هغه صادق او امانت کار یعنی امین و (۳) ، ډارن نه و (۴) ، متین او باعزمه و (۵) . په هر حالت کې یې پر خدای ډاډ او توکل درلود (۶) . هغه د لوړې حوصلې څښتن و (۷) . هغه د خپل حتی خورا بد دښمن لپاره هم د خیر دعا کوله (۸) . خورا نرم طبیعته و ، خُلق تنګه او په زړه سخت نه و (۹) . خلکو ته د الهي هدایت په رسولو کې خورا جدي او مصمم و او د حق د بلنې د منکرینو د ګمراهۍ پر رویه او سرغړونه به یې افسوس کاوه (۱۰) . خورا ډیر عابد او پرهیزګاره و ، او د شپې به په وینښه وینښه کې د الله په ذکر او عبادت مشغول و (۱۱) . ساده ګي یې ډیره خوښه وه او د تکلیف رواداره نه و (۱۲) . د غریبو او بې وزلو خلکو سره یې ناسته ولاړه کوله او هغوی به یې ډاډمن کول او تشویقول (۱۳) . د خپلو اُمتیانو سره یې بې حده ډیره مینه لرله ، په هر حال کې یې د هغوی ښېګڼه غوښته ، د هغوی زیان یې خپل زیان باله او د هغوی ډیر غمخور و او بې حده ډیر مشفق او همدرد و (۱۴) . مطلب دا چې د اخلاقو او خویونو له مخې د هغه شخصیت زما د تعلیماتو تر ټولو عالي او غوره نمونه ده (۱۵) . دئ د ټول بشر لپاره د خورا ښو اخلاقو لوړترین معیار دی (۱۶) .

پوښتنه : په رښتیا هم هر مسلمان او غیر مسلمان باید دغو عیني واقعیتونو ته تسلیم سي او پر سترګو یې ومني . بله پوښتنه می دا ده چې کولای سې د هغه (ص) څو ښېګڼې او فضایل هم را ته ووایې ؟

ځواب : رسول الله له هره حیثه یو بشپړ او بې سارئ انسان و (۱۷) . الله تعالی هغه د ټولې نړۍ لپاره د رحمت په توګه مؤظف او رالیږلی دی (۱۸) . هغه بهترین خوی او سلوک درلود (۱۹) . الله تعالی هغه د تل لپاره د شهرت او حیثیت څخه برخمن کړ (۲۰) . هغه ته کوثر ( یعنی عظیم خیر ) عطأ سو (۲۱) . هغه اُمي و (۲۲) ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی په خپل کتاب ، حکمت او پراخ علم سره ونازاوه (۲۳) . پر هغه د الله خاص فضل او کرم و (۲۴) .
په ده سره د اسلام دین بشپړ سو (۲۵) . هغه د هدایت او لاربښوونی لمر او سپوږمۍ دی (۲۶) . د ټولو انبیأ
کرامو څخه الله تعالی دا ژمنه اخیستې وه چی که ستاسو په زمانو کی ده تشریف راوړ ، نو تاسو به ایمان
پر راوړئ او تایید او تصدیق به یې کوئ (۲۷) . هغه هم د نورو نبیانو غوندی د خپل نبوت د چارو لپاره د
چا څخه عوض نه غوښت (۲۸) . د هغه بعثت د مؤمنانو لپاره یو ستر احسان دی (۲۹) . هغه خورا پوه او
لایق و (۳۰) . پر هغه باندی الله خپل خاص رحمت رالیږی ، د الله ملایکی پر هغه باندی درود وایی او ما
ټولو مسلمانانو ته امر کړی دی چی هغوی هم ټول پر ده باندی درود ووایی (۳۱) . د هغه بیعت الله ته بیعت
دی او د هغه لاس د الله د لاس نمایندګي کوی (۳۲) . د هغه اطاعت د الله اطاعت دی (۳۳) . د هغه پیروی د
الهی محبت اصلی معیار دی (۳۴) . د هغه د ژوند طرزالعمل د ټولو انسانانو لپاره اُسوهً حسنه یعنی بیلګه
او سرمشق دی (۳۵) .

پوښتنه: آیا دا ټولی الهی پیرزوینی او عطاینی په دې معنا دي چی هغه (ص) د هر ډول سهوی او خطا څخه
خلاص و ؟
ځواب: یا داسی نه ده بلکی د هغه څخه هم د یو انسان په توګه څو کوچني سؤ تفاهُمات پیښ سوي دي چی
الله تعالی ډیر ژر ورمعاف کړي دي (۳۶) .

پوښتنه: ما داسی هم اورېدلي چی پرهر مسلمان د رسول الله (ص) ګرانښت د خپلی کورنۍ تر خورا نږدې
اعضاوو هم باید زیات وی ، او د هغه (ص) بشپړ متابعت باید وسی. آیا په رښتیا هم پر هر مسلمان د
رسول الله (ص) مطلق اطاعت او متابعت واجب دی ؟
ځواب: هو ، باالکل همداسی ده او زما آیتونه همداسی امر کوی. د هغه څو ځانګړي آداب داسی دي چی
مراعات او پاملرنه یې پر هر مسلمان لازمه ده ، یعنی:
۱ـ د هغه بشپړ او بېله قید او شرطه اطاعت کول (۳۷) ؛
۲ـ د هغه عزت ، تعظیم او درناوی کول (۳۸) ؛
۳ـ هغه پر خپل ځان باندی آن تر خپل ځان ، مال ، میرمنی او اولادونو ، خپلوانو او د دنیا تر هر شي ډیر
ګرانول او محبوب ګرځول (۳۹) ؛
۴ـ د هغه سپیڅلي میرمنی (ازواج مطهرات) د خپلو میندو غوندی ګڼل (۴۰) ؛
۵ـ د هغه د نوم په ذکر یا اورېدلو سره پر هغه درود او سلام ویل (۴۱) ؛
۶ـ د هغه په مجلس کی مسلمانانو ته په نرمۍ او آرامۍ سره د مجلس اجازه وه خو په زوره او لوړ ږغ د خبرو
اجازه نه وه ، دا ځکه چی په دغسی کار سره د هغوی د ټولو اعمالو د ضایع کېدلو امکان و (۴۲) ؛
۷ـ د هغه په تکلیفول او آزارول منع وو (۴۳) ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸ـ د هغه څخه بې مقصده او بې ځایه پوښتنې منع وې (۴۴) ؛
۹ـ د هغه کور ته ورتګ او د ډوډۍ دعوت او نور خاص آداب وو چې د هغو مراعاتول ضروري وو (۴۵) ؛
۱۰ـ هغه ته د کور څخه د راوتلو لپاره ږغ کول ناجایز و (۴۶) ؛
۱۱ـ د هغه په مجلس کې چې به کومه ټولنیزه مسأله یا معامله تر بحث لاندې وه ، نو د هغه له اجازې پرته ولاړېدل او تلل جایز نه وو (۴۷) ؛

پوښتنه: آیا دا ربښتیا ده چې رسول الله (ص) د ټول بشر لپاره ټاکلی و او هر څوک (یعنې کافر او مسلمان) باید تر قیامته د هغه اطاعت او پیروي وکړي ؟ آیا دا صحیح ده چې پر هغه (ص) باندې ایمان راوړل د خلاصون اصلي شرط دی ؟
ځواب: هو باالکل همدا سې ده. د هغه د نبوت چارې په کوم خاص نسل یا قوم یا زمانې پورې محدودې نه دي بلکې د هغه نبوت او هدایت په هره زمانه کې د ټول بشریت لپاره عام دی (۴۸) ، همدا علت دی چې د هغه د بعثت څخه نیولې تر قیامت پورې پر هر چا د هغه اطاعت واجب او لازم دی (۴۹) . الله هغه د ټول جهان لپاره د رحمت په حیث ټاکلی او رالیږلی دی (۵۰) . هغه د هدایت په هکله د لمر او سپوږمۍ غوندې ځرګند مقام لري چې رڼا یې د ټول عالم لپاره ده (۵۱) . د هغه خطاب ټولو انسانانو ته دی (۵۲) . پر هغه ایمان راوړل د خلاصون شرط دی (۵۳) . د هغه اُسوهٔ حسنه د ټول بشر لپاره مثال او نمونه ده (۵۴) .

(۱) : النشرح: ۴ . (۲) : القلم: ۴ . (۳) : الاحزاب: ۲۲ ؛ یس: ۵۲ ؛ آل عمران: ۱۲۱ . (۴) : التوبه: ۴۰ . (۵) : الاحقاف: ۳۵ . (۶) : آل عمران: ۱۵۹ ؛ النسأ: ۸۱ ؛ الفرقان: ۵۸ ؛ التوبه: ۱۲۹ ؛ الاحزاب: ۳ ، ۴۸ . (۷) : الاحقاف: ۳۵ ؛ الاعراف: ۱۹۹ ؛ المایّده: ۱۳ ؛ الحجر: ۸۵ ؛ الزخرف: ۸۹ . (۸) : التوبه: ۸۰ ؛ المنافقون: ۶ . (۹) : آل عمران: ۱۵۹ . (۱۰) : الکهف: ۶ ؛ الشعرأ: ۳ ؛ النحل: ۱۲۷ ؛ الانعام: ۳۳ . (۱۱) : هود: ۱۲۳ ؛ الشعرأ: ۲۱۷ـ۲۱۹ ؛ المزمل: ۲۰ . (۱۲) : ص: ۸۶ . (۱۳) : الانعام: ۵۲ ؛ الشعرأ: ۲۱۵ . (۱۴) : التوبه: ۱۲۸ . (۱۵) : الاحزاب: ۲۱ ؛ القلم: ۴ . (۱۶) : الاحزاب: ۲۱ ؛ القلم: ۴ . (۱۷) : الاحزاب: ۲۱ ؛ القلم: ۴ . (۱۸) : الانبیأ: ۱۰۷ . (۱۹) : القلم: ۴ . (۲۰) : النشرح: ۴ . (۲۱) : الکوثر: ۱ . (۲۲) : الاعراف: ۱۵۷ـ۱۵۸ ؛ الجمعه: ۲ . (۲۳) : النسأ: ۱۱۳ . (۲۴) : النسأ: ۱۱۳ . (۲۵) : المایّده: ۳ . (۲۶) : الاحزاب: ۴۶ . (۲۷) : آل عمران: ۸۱ . (۲۸) : الانعام: ۹۰ ؛ یوسف: ۱۰۴ ؛ الفرقان: ۵۷ ؛ سبا: ۴۷ ؛ ص: ۴۷ . (۲۹) : آل عمران: ۲۴ . (۳۰) : البقره: ۲۷۳ . (۳۱) : الاحزاب: ۵۶ . (۳۲) : الفتح: ۱ ؛ الانفال: ۱۷ . (۳۳) : النسأ: ۸۰ . (۳۴) : آل عمران: ۳۱ . (۳۵) : الاحزاب: ۲۱ . (۳۶) : التوبه: ۴۳ ؛ الانفال: ۲۷ ؛ التحریم: ۱ ؛ الاحزاب: ۳۷ ؛ عبس: ۱ـ۱۰ . (۳۷) : آل عمران: ۱۳۲ ؛ الانفال: ۲۰ ؛ محمد: ۳۳ ؛ الاعراف: ۱۵۷ ؛ الحشر: ۷ . (۳۸) : الفتح: ۹ ؛ الاعراف: ۱۵۷ . (۳۹) : الاحزاب: ۶ ؛ التوبه: ۹ . (۴۰) : الاحزاب: ۶ . (۴۱) : الاحزاب: ۵۶ . (۴۲) : الحجرات: ۲ـ۳ . (۴۳) : الاحزاب: ۵۷ ؛ التوبه: ۶۱ . (۴۴) : البقره: ۱۰۸ . (۴۵) : الاحزاب: ۵۳ . (۴۶) : الحجرات: ۴ـ۵ . (۴۷) : النور: ۶۲ . (۴۸) : الاعراف: ۱۵۸ ؛ سبا: ۲۸ ؛ الانعام: ۱۹ ؛ الاحزاب: ۴۰ ؛ التکویر: ۲۷ـ۲۸ . (۴۹) : آل عمران: ۱۳۲ ؛ الانفال: ۲۰ ؛ الاحزاب: ۴۰ ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاعراف: **۱۵۷** ؛ الحشر: ۷. (**۵۰**): الانبیأ: ۱۰. (**۵۱**): الاحزاب: **۴۲**. (**۵۲**): یوسف: **۱۰۴** ؛ الفرقان: ۱ ؛
الاعراف: **۱۵۷** ؛ الحجر: **۹** ؛ التکویر: **۲۷**. (**۵۳**): النسأ: **۴۷**. (**۵۴**): الاحزاب: ۲۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې شپاړلسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنې ډېره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده . دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي . هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دایې تاسو او دا یې هم د شپاړسمې روژې لپاره شپاړسم سوغات ، ( ن . صمد )

## د قران سره مرکه ( شپاړسمه برخه ) :

پوښتنه : دا سې ویل کیږي چې تا د یوې خاصې ورځې په هکله مکرراً او پرله پسې د بیرې خبرداریځ ورکړی دی ، که وي ، نو دا کومه ورځ ده ؟
ځواب : هو همدا سې ده او دا د قیامت ورځ ده چې هلته به هیڅوک هم د چا په درد و نه خوری (۱) .

پوښتنه : آیا په هغه ورځ به څه خاصه پیښه وسی ؟ یعنې ولې باید د محشر له ورځې وبیریږو ؟
ځواب : د قیامت ورځ د اصلي امتحان ورځ ده ، یعنې په دغه ورځ به د هر انسان څخه د هغه د یو یو عمل پوښتنه کیږي (۲) . د هغه ښه او بد ټول اعمال به وتلل سی (۳) . وروسته چې د چا نیکۍ او ښه کړنې زیاتې وي هغه ته به جنت عطأ سی (۴) ، او د چا بدۍ چې زیاتې وي نو هغه به د دوږخ په اور کې اچول کیږي (۵) .

پوښتنه : آیا د دې معنا دا ده چې انساني کړنې یا اعمال د هغه په ژوند کې ثبت او ریکارډ کیږي ؟
ځواب : هو ، الله تعالی د هر انسان د اعمالو د ساتنې او لرنې بشپړ انتظام کړی دی او د قیامت په ورځ به هغه ټول معلوم وي او حساب به ورسره کیږي (۶) .

پوښتنه : آیا د قیامت په ورځ به هر انسان یو یو د الله حضور ته وړاندې کیږي که ټول په ګډه ؟
ځواب : لکه څنګه چې هر انسان په یوازې او انفرادي توګه دې دنیا ته راځي ، نو هماغسې به د الله حضور ته هم یوازې او تنها ور وړاندې کیږي (۷) .

پوښتنه : دا چې هر انسان یوازې د الله سره مخامخ کیږي ، نو د ګنهکارانو ، مجرمانو او جنایت کارانو پر ضد به شاهدي څوک ورکوي ؟
ځواب : په قیامت به د هر مجرم خپل د بدن اعضاوې پر هغه شاهدي ورکوي ، یعنې د هغوی غوږونه ، سترګې ، پښې او پوستکی ( جلد ) به پر هغو اعمالو شاهدي ورکوي چې کړي یې وي (۸) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: کله چې د قیامت په ورځ الله یو په یو د هر انسان سره د هغه د اعمالو محاسبه وکړي ، نو د کامیابۍ یا ناکامۍ خبر به مخامخ ورته وواییي ؟ مطلب دا چې اړونده شخص به څنګه پوه سي چې زه دوږخي یم که جنتي ؟
ځواب: الله به د اړونده نفر په مخکې د هغه د اعمالو کتاب ( اعمال نامه ) خلاصوي چې هر څه به واضح پکښې ثبت او درج وي (۹) ، او هغه کس ته چې یې په ښي ( راسته ) لاس کې ورکړي نو هغه به وپوهیږي چې زه جنتي یم او ډیر به خوشاله سي (۱۰) . خو که چا ته په کیڼ ( چپه ) لاس کې ورکول سي نو هغه به افسوس وکړي او پوه به سي چې زیانمن دي (۱۱) . خو هر چا ته که د شا لخوا وسپارل سي نو هغه به سخت برباد یږي او د دوږخ په لمبو کې به غورځول کیږي (۱۲) .

پوښتنه: د محشر پر میدان به د انسانانو څیرې څنګه وي ؟ یعنې انساني څیرو به کوم حالت غوره کړی وي ؟
ځواب: په هغه ورځ به ځیني څیرې سپیني وي او ځیني به توري آن تکې توري وي چې هغوی به ګنهکاران وي (۱۳) .

پوښتنه: آیا د قیامت ورځ له مخکې څخه ټاکلې او معلومه وي که نابېره راځي ؟
ځواب: د قیامت ورځ ناڅاپه را رسیږي او هیڅوک به هم بېله خدایه له مخکې څخه خبر نه وي (۱۴) .

پوښتنه: آیا هغه ساعت به ژر وي که وروسته ؟ یعنې د هغه لپاره به ځانګړي ترتیبات نیول کیږي که څنګه ؟
ځواب: یا ، هغه ساعت به ډیر ژر وي ، حتی د سترګو په رپ کې به راورسیږي (۱۵) .

پوښتنه: آیا د دې معنا دا ده چې د قیامت د غه ګړي به ډیر نږدې وي او هیڅ موقع یا فرصت به چا ته ورنکړه سي ؟
ځواب: هو ، باالکل همدا سې ده . ځکه د هغه ګړي په هکله انسانانو ته همدا اوس خبر او فرصت ورکړه سوی دی (۱۶) .

پوښتنه: دا خو په رښتیا هم سخت امتحان دی . تا مخکې د جنت او دوږخ خبره وکړه . اوس به را سم دې ته چې جنت څه شي دی ؟
ځواب: جنت د آرام ځای یا مقام دی (۱۷) چې په آخرت به یې الله تعالی خپلو نیکو بندګانو ته د هغوی د ښه اعمالو په عوض کې عطأ کوي (۱۸) . په جنت کې به د هغوی د خپلو غوښتنو مطابق هر ډول آسانتیاوې او نعمتونه مهیا وي (۱۹) ، او دوی به د تل لپاره همالته و اوسیږي (۲۰) .

پوښتنه: ډیر ښه ، آیا دا راته ویلای سې چې دوږخ څه شي دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: دوږخ د اور يوه کنده ده (۲۱) چې په آخرت کې به الله تعالی نافرمانان او کافران د سزاوار بللو په نتيجه کې هغه ته اچوي (۲۲). هغوی به د تل لپاره په همدې دوږخ کې پاته وي (۲۳). هغوی به همدا اور د خوراکي موادو په توګه خوري (۲۴) او هيڅکله به هم نه مړه کيږي (۲۵).

پوښتنه: دغه سزا او جزا ولی دومره ضروري ده؟
ځواب: دا ځکه چې په دې ډول هر انسان ته د خپل عمل بدله ورکړه سي (۲۶).

پوښتنه: آيا د قيامت په ورځ به الله تعالی وليدل سي؟
ځواب: هو، په آخرت کې به نيک او ښه انسانان د الله تعالی په ليدو مشرف سي (۲۷)، خو بد او مجرم انسانان به د الله د ليدو څخه محروم وي (۲۸).

(۱): البقره: ۱۲۳. (۲): الاعراف: ۲؛ الانبيأ: ۴۷؛ الزلزال: ۷-۸؛ ابراهيم: ۴۱؛ البقره: ۲۸۴. (۳): الاعراف: ۸؛ الانبيأ: ۴۷. (۴): القارعه: ۲؛ المومنون: ۱۰۲؛ الاعراف: ۸. (۵): القارعه: ۸؛ المومنون: ۱۰۳؛ الاعراف: ۹. (۶): الانعام: ۹۵. (۷): الزلزال: ۷-۸؛ لقمان: ۲؛ ق: ۱۷-۱۸؛ الحاقه: ۱۸. (۸): حم سجده: ۱۹، ۲۰، ۲۱؛ يس: ۶۵. (۹): الاسرأ: ۱۳. (۱۰): الحاقه: ۱۹، ۲۰، ۲۱؛ الانشقاق: ۷، ۸، ۹. (۱۱): الحاقه: ۲۵، ۲۶. (۱۲): الانشقاق: ۱۰، ۱۱، ۱۲. (۱۳): آل عمران: ۱۰۶؛ الزمر: ۶۰؛ يونس: ۲۷. (۱۴): الانعام: ۳۱؛ يوسف: ۱۰۷؛ الحج: ۵۵؛ يس: ۵۰؛ الزخرف: ۶۶؛ محمد: ۱۸. (۱۵): النحل: ۷۷؛ القمر: ۵۰. (۱۶): الاحزاب: ۶۳؛ الشوری: ۱۷؛ القمر: ۱. (۱۷): الدخان: ۵۱-۵۲؛ الفرقان: ۱۵، ۲۴، ۷۵، ۷۶. (۱۸): الاحقاف: ۱۴؛ الفرقان: ۱۵؛ البينه: ۹۸؛ آل عمران: ۱۳۶؛ الدهر: ۱۲. (۱۹): حم سجده ۳۰، ۳۱، ۳۲؛ النحل: ۳۱؛ الفرقان: ۱۶؛ الزمر: ۳۴؛ الشوری: ۲۲. (۲۰): البقره: ۲۵، ۸۲؛ آل عمران: ۱۵؛ الاعراف: ۴۲؛ يونس: ۲۶؛ هود: ۲۳. (۲۱): الفرقان: ۶۵-۶۶؛ آل عمران: ۱۹۷؛ النسأ: ۹۷؛ الرعد: ۱۸؛ العنکبوت: ۶۸. (۲۲): حم سجده: ۲۷؛ الاسرأ: ۹۷-۹۸؛ الکهف: ۱۰۵، ۱۰۶؛ فاطر: ۳۶. (۲۳): البقره: ۳۹، ۲۵۷؛ آل عمران: ۱۱۶؛ المومنون: ۱۰۳؛ الجن: ۲۳؛ البينه: ۶. (۲۴): الانفال: ۱۴؛ الحج: ۲۲؛ فاطر: ۷؛ الزخرف: ۷۴؛ الملک: ۶. (۲۵): الدخان: ۵۶. (۲۶): الجاثيه: ۲۲؛ البقره: ۲۸۱؛ آل عمران: ۲۵، ۱۹۵؛ القلم: ۳۵، ۳۶؛ الزلزال: ۶، ۷، ۸. (۲۷): القيامه: ۲۲، ۲۳. (۲۸): المطففين: ۱۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې اوولسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومېږي د قرآن پوهنې ډېره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده. دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي. هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دا يې تاسو او دا يې هم د اووه لسمې روژې لپاره اووه لسم سوغات ، ( ن.صمد )

## د قران سره مرکه ( اووه لسمه برخه ) :

پوښتنه: تا مخکې راته وويل چې د محشر پر ميدان به د ځينو انسانانو څيرې سپينې او د ځينو دا به توری آن تکې توری وی. خو اوس به د موضوع سره په تړاو در څخه وپوښتم چې هغه ګړئ به د انسانانو څيرې د روحياتو له پلوه څنګه وی ؟ يعنې کوم کوم حالتونه به ولری ؟

ځواب: ډيره ښه پوښتنه دی وکړه او ځواب يې هم په غور سره واوره.

١ـ ظالمان او مجرمان به له ورايه د خپلو څيرو څخه وپيژندل سی ، هغوی به د سر تر وريښتانو او پښو ونيول سی (١) ؛

٢ ـ ځينې څيرې به د ايمان په نور منوری وی نو ځکه به خوشاله او خندانې وی (٢) ؛

٣ ـ ځينې څيرې به تر او تازه وی او د الله خوا ته به ګوری (٣) ؛

۴ ـ نيک عمله به د ډير فضل او کرم څخه برخمن وی او په جنت سره به ونازول سی (۴) ؛

۵ ـ ځينې څيرې به غمجنې وی او په دې به پوهيږی چې دا سی عذاب به پر راځی لکه ملا چې يې ورماتوی (۵) ؛

پوښتنه: الله دی ظالمان او جنايت کاران اوس لا اصلاح کړی ، ځکه نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله. آيا د موضوع په ارتباط راته ويلای سې چې د محشر په ورځ به انسانان په څو ډلو کی د الله حضور ته حاضريږی ؟

ځواب: هغه ګړئ به ټول انسانان پر درو برخو ويشل کيږی (٦). هغه کسان چې ( د عرش عظيم ) راسته يا ښی خوا ته وی نو هغوی به جنتی انسانان وی (٧) ، هغه کسان چې کيڼ يا چپه خوا ته وی بدبخته او دوږخيان به وي (٨) ، خو دريېمه ډله هغه خاص ، خورا ښه او د عملی او علمی کمالاتو څښتنان دي چې الله ته به نږدې ځای ولری (٩).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: الله تعالی د قیامت ورځی ته څه اهمیت ورکړی دی ؟ یعنی لوی خدای د دغی ورځی سترتیا څنګه را معرفی کوی ؟
ځواب: دا په رښتیا هم ډیره مهمه او عظیمه ورځ ده او ما په خپل متن کی پر دغه ورځ مسلسل ټینګار کړی دی تر څو انسانان ورته متوجه سی او همدا علت دی چی الله په دغه ورځ قسم اخلی او فرمایی چی زما دې د قیامت په ورځ قسم وی (۱۰) .

پوښتنه: د پورته ټول بیان څخه داسی ثابتیږی چی د قیامت ورځ ډیره مهمه ، ډیره عظیمه او ډیره صمیمه ورځ ده. آیا پوښتلای سم چی تا دغه ورځ په نورو نومونو سره هم بللې او متصف کړې ده که یا ؟ که وی ، نو څو بیلګې یې راته ویلای سې ؟
ځواب: هو باالکل. ما دغه سرنوشت ټاکونکې ورځ په نورو نومونو سره هم بللې ده چی شمیر یې تر شپیتو هم اوړی ، خو یو څو بیلګې به یې در وښیم تر څو ښه ورته متوجه سې او غور پکښی وکړې:
۱- یوم الدین ، یعنی د انصاف یا عدالت ورځ (۱۱) ؛
۲- یوم الاخر ، یعنی وروستۍ ورځ (۱۲) ؛
۳- یوم القیامه ، یعنی د قیام یا راولاړېدو ورځ (۱۳) ؛
۴- یوم الیم ، یعنی د درد او عذاب ورځ (۱۴) ؛
۵- یوم البعث ، یعنی د راپورته کېدو ورځ (۱۵) ؛
۶- یوم تشقق الارض ، یعنی د مځکی د چاودلو ورځ (۱۶) ؛
۷- یوم التغابُن ، یعنی د ګټی او زیان یا کامیابۍ او ناکامۍ ورځ (۱۷) ؛
۸- یوم تقیلا ، یعنی سخته ورځ (۱۸) ؛
۹- یوم الجمع ، یعنی د راټولېدو ورځ (۱۹) ؛
۱۰- یوم الحساب ، یعنی د حساب ورځ (۲۰) ؛
۱۱- یوم الحسرة ، یعنی د غم ورځ (۲۱) ؛
۱۲- یوم الحق ، یعنی د حق یا حقیقت ورځ (۲۲) ؛
۱۳- یوم الخروج ، یعنی د راوتلو ورځ (۲۳) ؛
۱۴- یوم عسر ، یعنی مشکله او ستونځمنه ورځ (۲۴) ؛
۱۵- یوم عسیر ، یعنی سخته یا بده ورځ (۲۵) ؛
۱۶- یوم عظیم ، یعنی ستره او عظیمه ورځ (۲۶) ؛
۱۷- یوم الفصل ، یعنی د فیصلې ورځ (۲۷) ؛
۱۸- یوم مشهود ، یعنی د شاهدۍ ورځ (۲۸) ؛
۱۹- یوم معلوم ، یعنی ټاکلې او معلومه ورځ (۲۹) ؛
۲۰- یوم الموعود ، یعنی وعده کړل سوې ورځ (۳۰) ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱- یوم الوعید ، یعنی د تهدید ورځ (۳۱) ؛
۲۲- یوم یبعثون ، یعنی د راپاڅېدلو ورځ (۳۲) ؛

پوښتنه: دا خو په رښتیا هم عجیب مهم معلومات وو. لوی الله دې موږ ټوله دغه برخلیک ته اکونکي ورځې ته د نیکو عملونو سره راهنمايي کړي ، ځکه اوس لا فرصت او وخت لرو دا سې نه چې اعمال مو بې حاصله تم سي. بله پوښتنه مې دا ده چې د محشر پر میدان کامیاب انسانان څوک دي ؟
ځواب: د محشر پر میدان بریمن انسانان هغه کسان دي چې د نورو سره یې مرسته او نیک عملونه کړي وي نو ځکه الله عوض ورکوي (۳۳).

پوښتنه: نو الله به په دغه حساس حالت کې پر ښه او نیک عملو خلکو څه زیرئ وکړي ؟
ځواب: الله به صالحو او نیکو مؤمنانو ته ووايي چې پر تاسو دې د جنت زیرئ وي چې تر هغه لاندې ویالې بهیږي او د تل لپاره پکښې اوسیږئ او د لوی بریالیتوب او مراد اصلي ځای همدا دی (۳۴).

پوښتنه: اوس به د موضوع بل اړخ مطرح کړم او هغه دا چې آیا د محشر پر میدان به گنهگاران او مجرمان یو تر بله په جنجال او جګړو بوخت وي که یا ؟ که وي ، نو یو بل ته به څه سره وايي ؟
ځواب: هغوی به یو بل دغسې ملامت او متهم کوي: کمزوره کسان به غټانو او مشرانو ته په فریاد سره وايي چې موږ خو ستاسو تابع وو ، نو اوس خو مو له دغه عذابه وژغورئ. خو هغوی په ورته ووايي چې که الله موږ ته هدايت کړی وای نو بیا به مو تاسو ته لارښوونه کوله ، نو ځکه اوس هر څه له وخته تیر دي او هیڅ شی گټه نلري. شیطان به دغ پر وکړي چې اوس خو فیصله سوې ده ، الله تاسو ته رښتیانۍ او ما درواغجنه وعده درکړې وه ، لاکن تاسې بیا هم د الله خبره نه بلکې زما خبره واورېده. نو ځکه ما مه ملامتوئ بلکې خپل ځانونه ملامت کړئ او فعلاً به په ګډه عذاب زغمو (۳۵).

(۱): الرحمن: ۴۱. (۲): عبس: ۳۸-۳۹. (۳): القیامه: ۲۲-۲۳. (۴): یونس: ۲۲. (۵): القیامه: ۲۴-۲۵. (۶): الواقعه: ۷. (۷): الواقعه: ۸. (۸): الواقعه: ۹. (۹): الواقعه: ۱۰-۱۴. (۱۰): القیامه: ۱. (۱۱): الفاتحه: ۴ ؛ الحجر: ۳۵ ؛ الانفطار: ۱۷-۱۸ ؛ البقره: ۱۷۴. (۱۲): البقره: ۸ ، ۲۲ ، ۱۲۲ ؛ النسأ: ۴ ؛ العنکبوت: ۲۳. (۱۳): البقره: ۸۵ ، ۱۱۳ ؛ آل عمران: ۷۷ ؛ النسأ: ۱۴۱ ؛ الانعام: ۱۲ ؛ القیامه: ۱ ، ۲. (۱۴): هود: ۲۲ ؛ الزخرف: ۲۵. (۱۵): الروم: ۵۲. (۱۶): ق: ۴۴. (۱۷): التغابُن: ۹. (۱۸): الانسان: ۲۷. (۱۹): الشوری: ۷ ؛ التغابن: ۹. (۲۰): ص: ۱۲ ، ۲۲ ، ۵۳ ؛ الغافر: ۲۷. (۲۱): مریم: ۳۹. (۲۲): النسأ: ۳۹. (۲۳): ق: ۴۲. (۲۴): القمر: ۸. (۲۵): المدثر: ۹. (۲۶): الانعام: ۱۵ ؛ یونس: ۱۵ ؛ مریم: ۳۷ ؛ الزمر: ۱۳ ؛ المطففین: ۵. (۲۷): الصفت: ۲۱ ؛ الدخان: ۴ ؛ المرسلت: ۱۴ ؛ النبأ: ۱۷. (۲۸): هود: ۱۰۳. (۲۹): الواقعه: ۵۰. (۳۰): البروج: ۲. (۳۱): ق:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰. (۳۲): الاعراف: ۱۴؛ الحجر: ۳۲؛ المومنون: ۱۰۰؛ الشعرأ: ۸۷؛ الصفت: ۱۴۴؛ ص: ۷۹. (۳۳): آل عمران: ۱۸۵. (۳۴): الحدید: ۱۲. (۳۵): ابراهیم: ۲۱-۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې اتلسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومېږي د قرآن پوهنې ډېره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کېږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دایې د اتلسمې روژې لپاره اتلسم سوغات ، ( ن. صمد )

## د قران سره مرکه ( اتلسمه برخه ) :

پوښتنه: د قیامت په ورځ به د انسان د بې وسۍ او ناتوانۍ حالت څنګه وي ؟
ځواب: د هیچا او هیڅ شي په فکر کې به نه وي بلکې صرف د ځان په غم کې به وي (۱) .

پوښتنه: کله چې د محشر پر میدان کافران او منکران د الله تعالی په وړاندې ودرېږي ، نو لوی خدای به څه پوښتنه ورڅخه وکړي ؟
ځواب: الله به د کافرانو او منکرانو څخه وپوښتي چې څنګه سو ؟آیا دا بیرته راژوندي کېدل او راټولېدل مو حقیقت نه دي ؟ هغوی به فریاد وکړي چې هو کې. خو الله به دردناک عذاب پر مسلط کړي (۲) .

پوښتنه: آیا راته ویلای سې چې د محشر پر میدان به د جنتي خلکو او دوږخي خلکو د روانېدو صحنه څنګه وي ؟
ځواب: نیک او پرهیزګاره انسانان به د میلمنو غوندې د الله لخوا ورو بلل سي ، خو ګنهکاران به په ځغلولو او کشولو دوږخ ته شړل کیږي (۳) .

پوښتنه: کله چې دوږخیان مخ پر دوږخ د شړلو په حال کې وي ، نو پر لاری به خپل تر منځو شخړه سره ولری که یا ؟ که وي ، نو څه به سره وایي ؟
ځواب: هغوی به اعتراف وکړي چې هو کې ، موږ کافران وو. یوه ډله به پر بله ډله لعنت ووایي او الله ته به شکایت وکړي چې دغو کسانو موږ ګمراه کړي وو ، دوی ته د اور شدید عذاب ورکړه. خو الله به دواړو خواوو ته سخت عذاب ورکړي نو ځکه به لو مړنۍ ډله هغې بلې ته ووایي چې تاسو خو زموږ لپاره ډېر عذاب غوښت ، اوس تاسې هم زموږ تر څنګ د دې ستر اور میلمانه سئ (۴) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: تا مخکې راته وویل چې ما په خپل متن کې د قیامت ورځ د غم ، حسرت ، پښیمانۍ ، افسوس او عذاب ورځ بللې ده. آیا په مجموع کې د منکرانو ، کافرانو ، ظالمانو او ګنهکارانو عام حالت راته ویلای سې چې په څه مصیبت به اخته وي ؟ او څه افسوس او پښیماني به کوي ؟
ځواب: ډیر مهم سوال دی وکړ ، نو په ښه غور ورته ځیر سه:
د قیامت ورځ د کفارو ، منافقانو ، مجرمانو ، ظالمانو او ګنهکارانو لپاره د غم او ناورین سخته ورځ او د پښیمانۍ صحنه ده (۵) . د غسې انسانان به د نهیلۍ او پښیمانۍ اوښکې تویوي ، لاسونه به موښي ، سر به وهي ، چیغې او کریږې به وهي چې زما پر ځای زما اولاد ، زما میرمن ، زما ورور ، زما کورنۍ ، زما قوم او د نړۍ ټول انسانان ونیسه خو ما پریږده (۶) . مړینې ته به ناريې وهي ، بیرته ژوند به وغواړي ، پر خپلو غلطیو او ګناهونو به اعتراف وکړي (۷) . د الله او د هغه د رسول د اطاعت یقین به ورکړي ، د نیک او مؤمن کېدو ژمنه به وکړي. خو دا ټولې زارۍ او پښیمانۍ به ځای و نه نیسي ، دا ځکه چې هر شی او هر کار خپل وخت لري خو په دې ورځ به هغه ټول پای ته رسېدلي وي. هغوی به وایي چې کاشکې زما اعمال نامه نه راکول کېدای ، زه نه پوهېدای چې زما حساب څه دی ، کاشکې په دنیا کې مړینه وروستۍ پریکړه وای (۸) ؛ کاشکې د جزا ورځ لیری وای (۹) ؛ کاشکې مځکه وچاودی او زه په هغه کې ورک سم (۱۰) ؛ کاشکې الله زما په عذاب کې صرف یوه ورځ راکمه کړي (۱۱) ؛ کاشکې زه خاوری وای (۱۲) ؛ ډیر افسوس ، د قیامت په هکله چې سخته غلطي راڅخه سوې ده (۱۳) .

پوښتنه: الله دې هر انسان ته هدایت او هر مسلمان ته عنایت ولوروی. ما داسې اورېدلي دي چې دوږخ څو طبقې لري ، آیا دا خبره رښتیا ده ؟ که وي ، نو څو طبقې دي ؟
ځواب: هو ، دوږخ اووه طبقې لري چې د لوړی څخه مخ پر کښته په دې ډول دي:
۱- جهنم (۱۴) ؛
۲- السعیر (۱۵) ؛
۳- لظی (۱۶) ؛
۴- حُطمه (۱۷) ؛
۵- سقر (۱۸) ؛
۶- جحیم (۱۹) ؛
۷- هاویه (۲۰) ؛

پوښتنه: الله دې هر مؤمن د دوږخ له اوره وساتي او د هدایت په نور دې یې منور کړي تر څو له د غسې دایمي مصیبته خلاص او په امان سي. تا مخکې وویل چې د قیامت ورځ ډیر ستر او ستونځمن ساعت دی چې آسمان او مځکه به د خپل اوسني حالت څخه بدلون مومي. نو آیا پوښتلای سم چې په هغه ورځ به آسمان په څه حالت کې وي ؟ او مځکه به څنګه بدلیږي ؟ یعنې دواړو ته به څه ورپیښیږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: هو ، آسمان او مځکه دواړه د خپل او سني حالت څخه بدلون مومی (۲۱) . آسمان به لوګی یعنی دود ونیسی (۲۲) ، سخت به وریږدی (۲۳) ، څیری به سی او وبه چاودی (۲۴) . مځکه به سخته وښوری (**۲۵**) ، یعنی مځکه او غرونه به سخت وریږدی (۲۲) او سخته زلزله به وسی (۲۷) . هر څه به یې د سترګو په رپ کی دباندی راووزی (۲۸) او هواره به سي (۲۹) .

پوښتنه: نو په دغسی یو غیر تصوری او بحرانی حالت کی به د سمندرونو څه حال وی او دومره ډیری اوبه به یې چیری ځی ؟
ځواب: د سمندرونو اوبه به دونه تودې سی چی و به ایشی (۳۰) او د جوش په حال کی به سره ګډی سی (۳۱) .

پوښتنه: د داسی صحنې انځورول خو بالکل د انسانی دماغ څخه بهر او په رښتیا هم د بیری وړ دی . آیا راته ویلای سې چی د لمر او سپوږمۍ حال به څه وی ؟ ځکه ، هغه دواړه خو هم د همدې آسمان یوه کوچنۍ حصه ده . آیا هغوی به پر خپل او سني حالت پاته وی او که به تغییر مومی ؟
ځواب: لمر او سپوږمۍ به هم اساسی بدلون مومی ، یعنی لمر به راخطا کیږی (۳۲) ، سپوږمۍ به خسوف ونیسی (۳۳) ، او لمر به ورسره یو ځای سی (۳۴) .

پوښتنه: لوی الله دی هر مسلمان په دغه سخت امتحان کی بریالی کړی او سر له اوسه باید توبه ورته برابره کړی تر څو له دوږخه په امان او د جنت میلمه سی . آیا دا رښتیا ده چی د جنت باغونه څو ډوله دي او هر یو یې خپل نوم لری ؟ که وی ، نو یو څو نمونه یې راښوولای سې تر څو هر مؤمن تیر هیر کړی ، رښتیانۍ توبه وکړی او سر له اوسه هغه ته د ورتګ لپاره واقعی چمتوینه ونیسی ؟
ځواب: هو ، جنت څو خورا ښکلي ، جذاب او له تصوره وتلی په زړه پوری باغونه لری چی مهم یې دا دي:
۱-روضت الجنة (**۳۵**) ؛
۲-جنة الخلد (۳۲) ؛
۳-جنة عالیه (۳۷) ؛
۴-جنت عدن (۳۸) ؛
۵-جنت الفدوس (۳۹) ؛
۲-جنة الماوی (۴۰) ؛
۷-جنت نعیم (۴۱) ؛

(۱) : عبس: **۳۴-۳۷** . (۲) : الانعام: ۳۰ . (۳) : مریم: **۸۵-۸۷** . (۴) : الاعراف: **۳۷ -۳۹** . (**۵**) : الفرقان: **۲۷** . (۲) : المعارج: ۱۱-۱۴ . (۷) : المومن: ۱۱ . (۸) : الحاقه: **۲۵-۳۰** . (۹) : آل عمران: ۳۰ . (۱۰) : النسأ: **۴۲** . (۱۱) :

(c) ketabton.com: The Digital Library



المومن: ۱۱. (۱۲): النسأ: ۴۰. (۱۳): الانعام: ۳۱. (۱۴): ابراهیم: ۲۸ـ ۲۹ ؛ النسأ: ۹۳ ؛ مریم: ۸۲ ؛ النسأ: ۲۱. (۱۵): الاسرأ: ۹۷ ؛ الحج: ۴ ؛ لقمن: ۲۱ ؛ الملک: ۱۱. (۱۲): المعارج: ۱۲. (۱۷): الهُمزه: ۴ـ ۷. (۱۸): القمر: ۴۹ ؛ المدثر: ۲۲ـ ۲۹ ، ۴۲. (۱۹): الانفطار: ۱۴ ؛ المایِّده: ۱۰ ، ۸۲ ؛ الحدید: ۱۹ ؛ الطور: ۱۸. (۲۰): القارعه: ۸ـ۱۱. (۲۱): ابراهیم: ۴۸. (۲۲): الدُخان: ۱۰. (۲۳): الطور: ۹. (۲۴): الحاقه: ۱۲ ؛ التکویر: ۱۱ ؛ الانشقاق: ۱ ؛ الرحمن: ۳۷. (۲۵): الواقعه: ۲. (۲۲): المزمل: ۱۴. (۲۷): الزلزال: ۱. (۲۸): ق: ۴۴ ؛ الانشقاق: ۴. (۲۹): الکهف: ۴۷ ؛ الانشقاق: ۳. (۳۰): التکویر: ۲. (۳۱): الانفطار: ۳. (۳۲): التکویر: ۱. (۳۳): القیامه: ۸. (۳۴): القیامه: ۹. (۳۵): الشوری: ۲۲. (۳۲): الفرقان: ۱۵. (۳۷): الحاقه: ۲۲ ؛ الغاشیه: ۱۰. (۳۸): التوبه: ۷۲ ؛ الرعد: ۲۳ ؛ النحل: ۳۱ ؛ الکهف: ۳۱. (۳۹): الکهف: ۱۰۷ ؛ المومنون: ۱۱. (۴۰): النجم: ۱۵ ؛ السجده: ۱۹. (۴۱): الشعرأ: ۲۲ ؛ الواقعه: ۸۹ ؛ المعارج: ۳۸ ؛ یونس: ۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې نولسم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وايي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دايې د نولسمې روژې لپاره نولسم سوغات ، ( ن. صمد )

## د قران سره مرکه ( نولسمه برخه )

پوښتنه: نو د دې لپاره چې هر څوک د جنت څخه برخمن سي او د دوږخ له اوره نجات ومومي ، باید څه وکړي ؟

ځواب: هر څوک چې پر یوازیني الله ، د هغه پر ملایکو ، د هغه پر نبیانو ، د هغه پر کتابونو او د آخرت پر ورځ ایمان راوړي(۱) ، او خلک نیکو او ښه کارونو ته راوبولي ، د ښه اعمالو امر وکړي او د بدو یا ناوړه اعمالو څخه یې منع کړي نو هغوی بریمن او د فلاح او مراد څښتنان یعنی جنتیان دي(۲) .

پوښتنه: آیا ستا د احکامو پیروي او اطاعت حتمي دی ؟
ځواب: هو باالکل ، پر هر مسلمان فرض دی چې زما اوامر او احکام په منی(۳) .

پوښتنه: آیا ستا د کومې فیصلې څخه سرغړونه کېدای سي ؟
ځواب: یا قطعاً نه ، زما د هرې پریکړې منل او عملي کول حتمي دي او په هغه کې استثنأ ځای نلري(۴) .

پوښتنه: که احیاناً داسې مسأله چې تا اشاره نه وي ورته کړې یا دې نه وي حل کړې نو باید څه وسي ؟
ځواب: په داسې حالت کې د رسول الله(ص) پر سُنت باید عمل وسي ، دا ځکه چې زما تر ټولو معتبره او مستنده تشریح همالته ده(۵) .

پوښتنه: که احیاناً داسې مسأله چې په سنت کې هم واضح نه وي ، نو بیا څه شي ته باید مراجعه وسي ؟
ځواب: په داسې حالت کې باید د امت د علماوو د اجماع پیروي وسي(۶) .

پوښتنه: آیا خپل څو اوامر او احکام راته ویلای سې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: هو ولی نه. ما دوه ډوله احکام جاری کړي دي ، یو اوامر دي چې د هغو پر کولو مې حُکم او امر کړی دی ، دوهم نواهی دي چې د هغو کول مې منع کړي دي. دغو دواړو ته امر باالمعروف نهی عن المنکر ویل کیږي. زما څو اوامر یا احکام چې کول یې حتمی دي دا دي:

۱ـ د لمانځه ټینګه پابندي (۷) .
۲ـ د روژې په میاشت کې روژه لرل (۸) .
۳ـ زکات ورکول (۹) .
۴ـ حج کول (۱۰) .
۵ـ د مور او پلار سره ښه چلند کول (۱۱) .
۶ـ فیصله په حق او عدالت سره کول (۱۲) .
۷ـ دعوت او تبلیغ کول (۱۳) .
۸ـ شاهدي په رښتیا سره ورکول (۱۴) .
۹ـ صحیح تول کول (۱۵) .
۱۰ـ د وعدې مراعاتول (۱۶) .

زما څو نواهی یا منکرات چې باید ډډه ځنې وسی ، دا دي:

۱ـ شِرک کول (۱۷) .
۲ـ دروا غ ویل (۱۸) .
۳ـ غیبت کول (۱۹) .
۴ـ په وزن ، اندازه او تول کې کمیً کول (۲۰) .
۵ـ شراب څښل (۲۱) .
۶ـ قمار یا جُوا کول (۲۲) .
۷ـ سود کول (۲۳) .
۸ـ زنا کول (۲۴) .
۹ـ چټي مصرف یا اِسراف کول (۲۵) .
۱۰ـ د یتیمانو مال یا حق خوړل (۲۶) .

پوښتنه: دا خو ډیر ضروري او اړین معلومات وو. آیا پوښتلای سم چې د کومو شیانو خوړل حرام دي ؟
ځواب: د یو مسلمان لپاره د خنځیر ( خوک ) د غوښو خوړل ، مردار شیان ، وینه او هر هغه شی چې د الله تعالی د نوم یادولو څخه پرته ذبح سوئ وی ، د دې ټولو خوړل حرام دی (۲۷) .

پوښتنه: تا په خپلو پورتنیو حُکمونو کې له ټولو نه پر کوم حُکم ډیر ټینګار کړی دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: ما تر ټولو د لمانځه پر ادا کولو ډیر تأکید کړی دی او دا امر می په سلګونو واره تکرار کړی دی (۲۸).

پوښتنه: اوس به راسم دې پوښتنی ته چی د عبادت فلسفه څه ده ؟
ځواب: عبادت په اصل کی د الله تعالی د نعمتونو څخه د بنده د شکر څرګندونه ده (۲۹).

پوښتنه: آیا راته ویلای سې چی عبادت په څه شي پوری تړلی یا مربوط دی ؟
ځواب: عبادت هم د هر عمل غوندی د نیت په اخلاص پوری تړلی دی (۳۰).

پوښتنه: آیا د لمانځه تر ادا کولو مخکی اودس تازه کول حتمی دی ؟
ځواب: هو باالکل همدا سی ده (۳۱).

پوښتنه: نو چی داسی ده ، اودس څنګه باید تازه سی ؟
ځواب: د اوداسه لپاره لومړی باید دواړه لاسونه تر بندونو پوری په اوبو پرېولل سی ، بیا د سر یوه حصه مسح کیږی او په پای کی دواړی پښېې پرېولل کیږی (۳۲).

پوښتنه: که احیاناً د اوداسه لپاره اوبه پیدا نسی ، نو باید څه وکړو ؟
ځواب: په هغه صورت کی تیمُم باید وسی (۳۳).

پوښتنه: تیمم څنګه کیږی ؟
ځواب: په پاکه خاوره سره مخ او دواړه لاسونه مسح کیږی (۳۴).

(۱): البقره: **۱۳۲** ، **۱۷۷** ، **۲۸۵** . (۲): آل عمران: **۱۰۴** . (۳): الانعام: **۱۵۵** ؛ الاعراف: **۳** ؛ المایّده: **۴۴** ، **۴۵** ، **۴۷** ؛ لقمن: **۲۱** ؛ الزمر: **۵۵** . (۴): النور: **۵۱** ؛ المایّده: **۴۹** ؛ محمد: **۲۳** . (۵): النسأ: **۲۵** ، **۱۰۵** ؛ النحل: **۴۴** ، **۲۴** ؛ الاحزاب: **۲۱** ، **۳۶** ؛ الحشر: **۷** . (۶): النسأ: **۵۹** ، **۸۳** ، **۱۱۵** . (۷): النور: **۵۲** ؛ الروم: **۳۱** ؛ الحج: **۷۸** ؛ الانعام: **۷۲** . (۸): البقره: **۸۳** ، **۱۸۵** . (۹): النور: **۵۲** ؛ الحج: **۷۸** ؛ المزمل: **۲۰** ؛ المجادله: **۱۳** . (۱۰): آل عمران: **۹۷** ؛ الحج: **۲۶-۲۷** . (۱۱): الاسرأ: **۲۳** ؛ الاحقاف: **۱۵** ؛ النسأ: **۳۶** . (۱۲): المایّده: **۸** ؛ النسأ: **۵۸** ؛ النحل: **۹۰** . (۱۳): آل عمران: **۱۰۴** ، **۱۱۰** ؛ البقره: **۱۴۳** ؛ التوبه: **۷۱** . (۱۴): المایّده: **۸** ؛ النسأ: **۱۳۵** . (۱۵): الاسرأ: **۳۵** ؛ الرحمن: **۹** ؛ الانعام: **۱۵۳** . (۱۶): المایّده: **۱** ؛ الاسرأ: **۳۴** ؛ الانعام: **۱۵۳** . (۱۷): النسأ: **۳۶** ؛ الانعام: **۱۴** ، **۱۵۲** ؛ الروم: **۳۱** . (۱۸): الحج: **۳۰** ؛ الفرقان: **۷۲** . (۱۹): الحجرات: **۱۲** . (۲۰): الرحمن: **۹** ؛ المطففین: **۳** ؛ هود: **۸۴** . (۲۱): المایّده: **۹۰-۹۱** . (۲۲): المایّده: **۹۰-۹۱** . (۲۳): البقره: **۲۷۵** ، **۲۷۸** ؛ آل عمران: **۱۳۰** . (۲۴): الاسرأ: **۳۲** ؛ الفرقان: **۶۸** ؛ الممتحنه: **۱۲** . (۲۵): الاعراف: **۳۱** ؛ الانعام: **۱۴۱** ؛ الفرقان:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷. (۲۶): الانعام: **۱۵۲** ؛ الاسرأ: **۳۴** ؛ النسأ: ۱۰. (۲۷): البقره: **۱۷۳** ؛ **النحل**: **۱۱۵**. (۲۸): البقره: **۳** ، **۱۵۳** ، **۱۷۷** ، **۲۳۸** ، **۲۷۷** ؛ النسأ: ۱۰۲ ؛ **المایَّده**: **۲** ؛ هود: **۱۱۴** ؛ **الحج**: ۴۱. (**۲۹**): **العنکبوت**: **۱۷** ؛ الکوثر: ۱-۲ ؛ قریش: ۱-۴ ؛ **النحل**: ۱۱۴ ؛ **الزخرف**: ۲۴. (۳۰): الزمر: ۲ ، ۳ ، ۱۱ ، ۱۴ ؛ الحج: ۳۷. (۳۱): المایَّده: ۲. (۳۲): المایَّده: ۲. (۳۳): المایَّده: ۲. (۳۴): المایَّده: ۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې شلم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده . دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي . هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دایې د شلمې روژې لپاره شلم سوغات ، ( ن . صمد )

## د قران سره مرکه ( شلمه برخه )

پوښتنه : آیا د لمونځ ادا کول فرض دی ؟
ځواب : هو باالکل ، پر هر مسلمان د لمانځه ادا کول فرض دی ( ۱ ) .

پوښتنه : آیا د یو مساپر لپاره په لمانځه کې قصر ( لړېدنه ) جایز ده که یا ؟
ځواب : هو باالکل جایز ده ( ۲ ) .

پوښتنه : آیا تر لمانځه مخکې اذان باید وسی که یا ؟
ځواب : هو اذان باید وسی ( ۳ ) .

پوښتنه : آیا تا د جمعې د لمانځه د ادا کولو حُکم هم کړی دی ؟
ځواب : هو ، کړی مې دی ( ۴ ) .

پوښتنه : آیا د جنازې لمونځ هم حتمي دی ؟
ځواب : هو ، د هر مسلمان تر وفات وروسته هغه ته باید د جنازې لمونځ ورکړه سی خو د یو غیر مسلمان لپاره د جازې د لمانځه اجازه نسته ( ۵ ) .

پوښتنه : د روژې په باره کې څه حُکم کوې ؟
ځواب : پر مسلمانانو د روژې په میاشت کې روژه لرل فرض دی ( ۶ ) .

پوښتنه : آیا پوښتلای سم چې د روژې نیولو حکمت څه دی ؟
ځواب : روژه د تقوا یا پرهېزګارۍ د حصول تر ټولو ښه ذریعه ده ( ۷ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: آیا دا رښتیا ده چې د زکات ورکول اختیاري دی ؟
ځواب: یا ، پر هر هغه مسلمان چې اړونده حد یا نصاب یې پوره کړی وی ، د زکات ورکول فرض دی (۸) .

پوښتنه: نو د زکات ګټې څه دي ؟
ځواب: د زکات څو فایدې په لاندې ډول دي:
۱ـ په هغه سره د بېوزلو او مسکینانو اړتیاوې پوره کیږی (۹) .
۲ـ په هغه سره شتمني په یو ځای کې نه زخیره کیږی (۱۰) .
۳ـ په هغه سره مال او شتمنی پاک کیږی (۱۱) .
۴ـ په هغه سره الله ته نږدېکت ډیریږی (۱۲) .

پوښتنه: زکات کومو کسانو ته ورکول کېدای سی ؟
ځواب: زکات دغو کسانو او مراجعو ته ورکول کېدای سی: غریبان ، فقیران ، زکات ټولونکي ، مساپر ، هغه غیر مسلمانان چې په زړونو کې یې د دین سره مینه پیدا کول مقصد وی ، د مریانو د آزادولو لپاره ، د پوروړو د پور ادا کولو لپاره ، او د الله په لاره کی (۱۳) .

پوښتنه:آیا پر پخوانیو امتونو هم لمونځ ، روژه او زکات فرض وو که صرف پر محمدی امت باندی ؟
ځواب: پر ټولو پخوانیو امتونو هم لمونځ ، روژه او زکات فرض وو (۱۴) .

پوښتنه:آیا د حج کول هم حتمی دی که یا ؟
ځواب: هو ، پر هر هغه مسلمان چی مالی وس یې ولری په ژوند کی یو ځل د بیت الله حج فرض دی (۱۵) .

پوښتنه: اوس به یوه بله مسأله مطرح کړم او هغه دا چې آیا جهاد هم فرض دی که یا ؟
ځواب: هو ، پر مسلمان د الله په لاره کی جهاد فرض دی (۱۶) .

پوښتنه: الهی ذکر څنګه باید وسی او ګټی یې څه دي ؟
ځواب: ذکر باید په هغه طریقه سره وسی چی الله او رسول یې هدایت فرمایلی دی (۱۷) . باید متوجه اوسې چې د الله حمد او ثنا (۱۸) ، تسبیح (۱۹) ، تکبیر (۲۰) ، شکر (۲۱) ، لمونځ (۲۲) او زما تلاوت (۲۳) ټول په الهی ذکر کی شامل دي. د الله ذکر هر وخت او په هر حالت کی باید وسی (۲۴) . هغه انسان چې د الله ذکر نه کوی شیطان پر مسلط کیږی (۲۵) او ژوند یې لنډ او تنګ وی (۲۶) . د الهی ذکر څخه زړه ډاډمن کیږی (۲۷) .

پوښتنه: ډیر په زړه پوری او ګټور معلومات وو . آیا راته ویلای سې چی کوم ډول دُعا قبلیږی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: هره دعا چې د الهی اطاعت د جذبې څخه په اخلاص سره وسی الله یې قبلوی (۲۸).

پوښتنه: آیا تا کومه دعا ښوولې هم ده ؟
ځواب: هو باالکل ، ما ډیری دعاوی ښوولی دي چی د هغو څخه یوه یې دا ده:
رَبنا آتِنا فِی الدُنیا حَسَنته وَفِی الاخِرَت حَسَنته وَقِنا عَذابَ النار. یعنی: اې زما ربه ! په دنیا او آخرت دواړو کی ښېګڼه را عطأ کړه او د دوږخ له اوره مې وژغوره (۲۹).

(۱): البقره: ۳ ، ۱۵۳ ، ۲۳۸ ، ۲۷۷ ؛ النسأ: ۱۰۳ ؛ المایِّده: ۶ ؛ هود: ۱۱۴ ؛ الحج: ۴۱. (۲): النسأ: ۱۰۱. (۳): المایِّده: ۵۸ ؛ الجمعه: ۹. (۴): الجمعه: ۹. (۵): التوبه: ۸۴. (۶): البقره: ۱۸۳ ، ۱۸۵. (۷): البقره: ۱۸۳. (۸): التوبه: ۶۰ ؛ البینه: ۵ ؛ البقره: ۱۱۰ ؛ الحج: ۷۸ ؛ النور: ۵۶. (۹): المعارج: ۲۴-۲۵ ؛ البقره: ۱۷۷. (۱۰): الحشر: ۷. (۱۱): التوبه: ۱۰۳ ؛ الیل: ۱۸ ، ۲۷. (۱۲): التوبه: ۹۹. (۱۳): التوبه: ۶۰. (۱۴): الانبیأ: ۷۳ ؛ البقره: ۱۸۳ ، ۸۳ ؛ المایِّده: ۱۲ ؛ مریم: ۳۱ ، ۵۵. (۱۵): آل عمران: ۹۷ ؛ الحج: ۲۶-۲۷. (۱۶): الحج: ۳۹-۴۰ ؛ البقره: ۱۹ ، ۲۱۶ ، ۲۴۴ ؛ التوبه: ۲۹ ، ۷۳ ، ۱۲۳ ؛ النسأ: ۷۴-۷۵. (۱۷): البقره: ۱۲۸ ، ۱۹۸ ، ۱۸۵ ، ۲۳۹ ؛ الحج: ۳۷. (۱۸): الاسرأ: ۱۱۱ ؛ الحجر: ۹۸ ؛ التوبه: ۱۱۲ ؛ طه: ۱۳۰ ؛ الروم: ۱۸. (۱۹): طه: ۳۴ ؛ آل عمران: ۴۱ ؛ الواقعه: ۷۴ ، ۹۶ ؛ الاعلی: ۱ ؛ النصر: ۳. (۲۰): الاسرأ: ۱۱۱ ؛ المدثر: ۳. (۲۱): البقره: ۱۵۲ ، ۱۷۲ ؛ النحل: ۱۱۴ ؛ العنکبوت: ۱۷ ؛ الزمر: ۶۶. (۲۲): طه: ۱۴ ؛ الجمعه: ۹ ؛ العنکبوت: ۴۵ ؛ الاعلی: ۱۵ ؛ النسأ: ۱۴۲. (۲۳): فاطر: ۲۹ ؛ البقره: ۱۲۱ ؛ الاحزاب: ۳۴. (۲۴): آل عمران: ۱۹۱ ؛ النسأ: ۱۰۳ ؛ الدهر: ۲۵. (۲۵): المجادله: ۱۹. (۲۶): طه: ۱۲۴. (۲۷): الرعد: ۲۸ ؛ الاحزاب: ۳۵ ؛ الزمر: ۲۳. (۲۸): ابراهیم: ۳۹ ؛ الاعراف: ۵۵ ؛ البقره: ۱۸۶ ؛ الاحقاف: ۱۵. (۲۹): البقره: ۲۰۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې يوويشتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نوميږي د قرآن پوهنې ډيره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده. دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي. هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دايې د يوويشتمې روژې لپاره يوويشتم سوغات ، ( ن.صمد )

## د قران سره مرکه (يوويشتمه برخه ) :

پوښتنه: نن الحمدلله غير مسلمانانو ته هم دا ثابته سوې ده چې ستا متن کاملأ د اخلاقي او بشري معيارونو څخه ډک دی ، او ځکه نو هغوی جوپه جوپه مسلمانان کيږي. آيا کولای سې چې خپلې څو اخلاقي ښوونې را ته ووايې تر څو دوستان سرلوړي او دښمنان سرځوړي سی ؟

ځواب: هو ، دا خو واضح حقيقت دی چې زما متن د روزنيزو او اخلاقي ارزښتونو ، ښوونو او معيارونو څخه ډک دی چې څو نمونې به يې دا سی دروښييم:

١ـرښتيا ويل او د درواغو څخه ډډه کول (١) .
٢ـ د چا له غيبته ځان ساتل (٢) .
٣ـ شاهدي په رښتيا سره ورکول (٣) .
۴ـ يو پر بل عيب نه تړل يا د چا عيب نه لټول (۴) .
۵ـ د هر ډول بې حيايي څخه ځان ساتل (۵) .
۶ـ پر چا بد ګوماني نه کول (۶) .
٧ـ په هر حالت کې عدالت او انصاف کول (٧) .
٨ـ په چا ملنډې يا ريشخند نه وهل (٨) .
٩ـ ښه خبرې او مجلس کول (٩) .
١٠ـ څوک په بد يا ناوړه نوم سره نه بلل (١٠) .
١١ـ د ستونزو پر مهال صبر کول (١١) .
١٢ـ پر چا ظلم نه کول (١٢) .
١٣ـ خيانت نه کول (١٣) .
١۴ـ پر نعمت باندې شکر کول (١۴) .
١۵ـ حسد او غرور نه کول (١۵) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶ـ د چا مال ناحقه يا د رشوت په توګه نه اخيستل (۱۶).
۱۷ـ د عفوی او معافۍ څخه کار اخيستل (۱۷).
۱۸ـ قهر او غصه نه کول (۱۸).
۱۹ـ وعده خلافي نه کول (۱۹).
۲۰ـ د نيکيو يا ښېګڼو خپرول او د بديو څخه ځان ژغورل يا له منځه وړل (۲۰).

پوښتنه: ډير ارزښتمن او ضروری معلومات دي راکړل. آيا تا د مجلس د آدابو ښوونه هم کړې ده ؟
ځواب: هو ، ما ايمان والاوو ته مجلسی آداب هم ورښوولي دي. مثلاً که يو ځای ډير خلک ناست وی او د دباندی څخه نور کسان راسي نو له مخکی څخه ناستو کسانو ته لازمه ده چی يو تر بله ډير سره نږدې سی او نوو کسانو ته ځای ورکړی (۲۱). په مجلس کی غالمغال او ناري د مجلس د آدابو خلاف کار دی (۲۲).

پوښتنه: آيا تا د تقوا غوره کولو هڅونه هم کړې ده که څنګه ؟
ځواب: هو ، ما خلکو ته حُکم کړی دی چی په هر حالت کی د الله څخه وبيرېږی او د هغه د نافرمانۍ د ناوړه پايلی څخه ځانونه وژغوری (۲۳).

پوښتنه: آيا بُتانو ته د ښکنځلو اجازه سته که يا ؟
ځواب: يا ، قطعاً د نورو اديانو او بتانو د سپکاوي اجازه نسته (۲۴).

پوښتنه: پر وعده څوک ټينګ دئ او څوک يې خلاف دئ ؟
ځواب: الله پر خپله وعده ډير ټينګ دی او شيطان ډير وعده خلافه دی (۲۵).

پوښتنه: آيا کوم ناوړه يا غلط بيان جايز دی ؟
ځواب: يا هيڅکله نه. بلکی الله به د هر ډول غلط بيان پوښتنه کوی (۲۶).

پوښتنه: تر ټولو ښه کسان (خلايق) څوک دي ؟
ځواب: هغه دي چی حق ومنی او د ايمان او صالح يعنی ښه عمل لاره غوره کړی (۲۷).

پوښتنه: نو تر ټولو بد کسان څوک دي ؟
ځواب: هغه کسان چی د حق تر راتللو وروسته بيا هم د هغه په وړاندی ړانده ، کاڼه او ګونګيان وی ، يعنی انکار ورڅخه وکړی (۲۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: تا مخکې د عيب څخه د ځان ژغورنې اصل ته اشاره وکړه. خو تر کومه ځايه چې عملاً ليدل کيږي تقريباً ټوله اسلامي نړۍ منجمله ډيرئ افغانان د غيبت سره دومره زيات روږد سوي چې آن معتاد يا عمليان يې ګرځېدلي دي. د دغسې کسانو لپاره ستا تنبيه څه ده ؟ او هغوی بايد له دې مصيبته د خلاصون په خاطر څه وکړي ؟

ځواب: ما واضحاً امر کړی دی چې د يو بل غيبت مه کوئ او آيا تاسو غواړئ چې د خپل مړه ورور غوښې وخورئ ؟ نو که په رښتيا هم مسلمانان ياست بايد له دغه شنيع او کرغيړن عمله جداً ځانونه وژغورئ (۲۹) . که د غيبت کوم مجلس شروع وی نو د مخنيوی او ځان ژغورنې ډيره ښه چاره يې دا ده چې بايد له دغسې مجلسه ووزئ او تر هغو پورې بيرته ورنسئ چې غيبت پای ته نه وی رسېدلی ، که نه غيبت ويونکي او د هغه اورېدونکي دواړه يو برابر ګنهکاران دي (۳۰) .

پوښتنه: په همدې ارتباط عُلمأ او پوهان وايي چې غيبت او چُغلی ( نمامی ) د ترازو دوې پلې دي ، يعنې دا چې غيبت او چغلی اکثراً سره تړلي وی. په دې هکله ستا اخلاقی ښوونه څه ده ؟ آيا دغسې ارتکاب د شيطان د وظيفې مخته وړنه نه ده ؟

ځواب: ما په شديدو الفاظو سره د هر هغه انسان اطاعت منع کړی دی چې ډير قسمونه اخلی ، د بل چا عيب لټوی او په چغليو بوخت وی ، دا ځکه چې دغسې کسان د مسلمانانو خپل منځي محبت په عداوت سره بدلوی (۳۱) . نو د سمون ښه طريقه يې دا ده چې که يو فاسق انسان دغسې خبر درته راوړي ، په هغه هکله تحقيق او ګروېږنه وکړه بلکې په پټو سترګو يې مه منه (۳۲) .

(۱) : الاحزاب: **۳۵** ، ۷۰ ؛ النسأ : **۹** ؛ آل عمران: ۱۷ . (۲) : الحجرات: ۱۲ . (۳) : المايّده: ۸ ؛ النسأ : **۱۳۵** . (۴) : الحجرات: ۱۱ . (**۵**) : الاعراف: **۲۳** ؛ الانعام: **۱۵** ؛ الشوری: **۳۷** ؛ النحل: **۹۰** ؛ النسأ : **۵** . (۶) : الحجرات: ۱۲ . (۷) : المايّده: ۸ ، ۴۲ ؛ النسأ : **۵۸** ، **۱۳۵** ؛ الشوری: **۱۵** ؛ النحل: **۹۰** . (۸) : الحجرات: ۱۱ . (۹) : الاسرأ : **۵۳** ؛ النسأ : **۵** ، **۹** ؛ الاحزاب: ۷۰ . (۱۰) : الحجرات: ۱۱ . (۱۱) : البقره: **۴۵** ، **۱۵۳** ؛ آل عمران: ۲۰۰ ؛ الانفال: **۴۶** . (۱۲) : البقره: **۲۷۹** ؛ آل عمران: **۵۷** ، ۱۴۰ ؛ الاعراف: **۴۴** ؛ الشوری: **۴۴** . (۱۳) : الانفال: **۲۷** ، **۵۸** ؛ يوسف: **۵۲** . (۱۴) : البقره: **۱۵۲** ، **۱۷۲** ؛ النحل: **۱۴۴** ؛ العنکبوت: ۱۷ . (**۱۵**) : الفلق: **۵** ؛ النسأ : **۵۴** ، **۳۲** ؛ النحل: **۲۳** ؛ المومن: **۳۵** ؛ لقمن: ۱۸ . (۱۶) : البقره: ۱۸۸ . (۱۷) : البقره: ۱۰۹ ، **۲۳۷** ؛ النسأ : **۱۴۹** ؛ الاعراف : **۱۹۹** ؛ التغابن: ۱۴ ؛ النور: ۲۲ . (۱۸) : الشوری: **۳۷** . (۱۹) : الاسرأ : **۳۴** ؛ النحل: **۹۱** ؛ الانعام: **۱۵۲** ؛ المايّده: ۱ ؛ الرعد: ۲۰ . (۲۰) : آل عمران: ۱۰۴ ، ۱۱۰ ؛ البقره: **۱۴۳** ؛ التوبه: ۷۱ . (۲۱) : المجادله: ۱۱ . (۲۲) : لقمن: ۱۹ . (۲۳) : آل عمران: ۱۰۲ ؛ البقره: ۱۹۴ ؛ النسأ : ۱ ، ۱۳۱ ؛ الانعام: ۷۲ . (۲۴) : الانعام: ۱۰۸ . (**۲۵**) : ابراهيم: ۲۲ ؛ الزمر: ۲۰ ؛ الروم: ۲ ؛ النسأ : ۱۲۰ ؛ الاسرأ : ۶۴ . (۲۶) : الاسرأ : ۳۶ . (۲۷) : البينه: ۷ . (۲۸) : البينه: ۷ ؛ الانفال: ۲۲ ، **۵۵** . (۲۹) : الحجرات: ۱۲ . (۳۰) : النسأ : ۱۴۰ . (۳۱) : القلم: ۱۱-۱۲ . (۳۲) : الحجرات : ۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې دوه ويشتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه» نوميږي د قرآن پوهنې ډيره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده. دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي. هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دا يې د دوه ويشتمې روژې لپاره دوه ويشتم سوغات ، ( ن. صمد )

## د قران سره مرکه ( دوه ويشتمه برخه ) :

پوښتنه: نن هر چا منجمله کفارو ته هم دا ثابته سوې ده چې تا د کورنۍ او ټولنې په اړه ټول اساسي مسايل څيړلي او حل لارې دې ويلي دي. خو دا چې ځينې کسان اغماض کوي او نور بې خبره دي ، ګناه يا مسؤليت د هغوی خپل دی. په دې اړه تا د کورنيز او ټولنيز ژوندانه په هکله څه هدايتونه لورولي دي ؟

ځواب: ما د انساني ټولنې د سمون او ښېګڼې لپاره ډير هدايات کړي چې څو يې دا دي:

۱ـ ټول انسانان د انساني شرافت له مخې برابر دي دا ځکه چې ټول د آدم (ع) اولاد دي. د رنګ ، نسل ، ژبې او سيمې له مخې هيڅ ډول توپير او امتياز جايز نه دی (۱).

۲ـ د فضيلت او ښېګڼې معيار تقوا ، ايمان او ښه ( يعنې نيک يا صالح ) عمل دی (۲).

۳ـ انسانان د ايمان او کفر له مخې دوه ډوله دي چې يوه ډله يې ايمان لرونکي او بله يې بې ايمانه دي (۳).

۴ـ ما د يو ښه ټولنيز ژوندانه د جوړښت لپاره نر او ښځې ته د نکاح امر کړی دی (۴). ميړه او ميرمن بايد خپل تر منځ په مينه او الفت سره ژوند وکړي (۵). دواړه يو بل ته د لباس حثيت لري (۶). هغوی دواړه يو بل سره تسکين کوي (۷). دواړه يو پر بل مساوي حقوق لري (۸). نارينه د کهول پالندوی او منتظم دی (۹). هغه مسؤليت لري چې د خپلې ميرمنې او اولادو لپاره به نفقه ، اوسېدنځای او نوري لومړنۍ آسانتياوې برابروي (۱۰). ښځه د کور ملِکه ده (۱۱). هغه بايد د نامحرمو کسانو څخه سَتر وکړي (۱۲). نارينه ته د څلورو ميرمنو سره تر نکاح پورې اجازه سته خو که د هغوی تعداد تر يوې ډيروي نو د ټولو سره به مساوي او برابر سلوک کوي (۱۳). نارينه په خورا اړين او خاص حالت کې خپلې ميرمنې ته طلاق ورکولای سي (۱۴). ماندينه د ميړه څخه خُلع اخيستلای سي يعنې د مَهر د پريښوولو په صورت کې طلاق غوښتلای سي (۱۵).

۵ـ پر والدينو فرض ده چې اولادو ته صحيح روزنه ورکړي او دين ور وښيي (۱۶).

۶ـ اولادونه بايد د والدينو خدمت وکړي او ښه سلوک ورسره وکړي (۱۷).

۷ـ صلهٔ رحمی ـ د خپلوانو سره ښه رويه ضروري ده (۱۸).

۸ـ د مسکينانو او بېوزلو د اړتياوو پوره کول د شتمنو مسؤليت دی (۱۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹ـ د ګاونډیانو (۲۰) او مساپرو سره هم باید ښه سلوک وسی (۲۱).

پوښتنه: ډیره مننه د دې خورا اساسي او ضروري معلوماتو څخه. اوس به راسم دې ته چې آیا تا دې خورا مهمی مسألې ته هم اشاره کړې چې د کومو کومو ښځو سره نکاح نا روا یعنی حرامه ده ؟
ځواب: هو ، ما دې مسألې ته واضحاً اشاره کړې ده چې د کومو کومو ښځو سره نکاح نسی کېدای چې هغه دا دي:
مور ، لور ، خور ، عمه ، خاله ، وریره ، خورځه ، هغه مور چې شیدې یې رَودل سوې وي ، رضاعی یعنی د شیدو شریکه خور ، د مایني مور یعنی خواښې ، د بل میړه څخه د مایني لور یعنی بچه اندره ، د زوی ماینه یعنی مرېور ، پر عین مهال د دوې خویندی ، یعنی چې میرمن ژوندۍ وی د هغې د خور سره نکاح حرامه ده (۲۲).

پوښتنه: ماشوم ته تر کله باید مور خپلی شیدې ورکړي ؟
ځواب: د یو ماشوم د شیدو خوړلو موده دوه کاله ده (۲۳).

پوښتنه: آیا د حیض یعنی ښځینه میاشتنۍ ناروغۍ پر مهال د مایني سره جنسي عمل روا دی ؟
ځواب: یا قطعاً نه ، بلکی ناروا دی (۲۴).

پوښتنه: آیا راته ویلای سې چې ټولنیزی معاملې څنګه باید تر سره سی ؟
ځواب: هغه باید د خپل منځی سلا مشورو پر اساس تر سره سی (۲۵).

پوښتنه: د مسلمانانو خپل منځي اړیکی باید څنګه وی ؟
ځواب: باید ورورګلویزه وی. دا ځکه چې ما واضحاً ویلی چې مسلمانان سره ورونه دي (۲۶). هغوی باید یو تر بله سره خواخوږي ، رواداره او دوستان وی (۲۷). که احیاناً د مسلمانانو تر منځ شخړه پیښه سی ، نو د هغوی تر منځ باید د سولې راوستلو کوښښ وسی (۲۸). هیڅ مسلمان اجازه نه لری چې پر بل مسلمان ورور باندی مسخرې او ټوکی وکړي یا هغه ته پیغور ورکړي او یا هم هغه په بد او ناوړه نوم سره وبولی (۲۹). یا دا چې پر هغه شک او بد ګوماني وکړي یا د هغه د حالاتو پلټنه او جاسوسی وکړي او یا یې هم غیبت وکړي (۳۰).

پوښتنه: دا خو بهترین او اړین معلومات وو. آیا راته ویلای سې چې ستا په نظر د یوې نمونه ای یا مثالی اسلامی ټولنی ځانګړتیاوی باید څه وی ؟
ځواب: زما په نظر د یوې مثالی ټولنې بېلګې او خصوصیات په دې ډول دي:
۱ـ هغه باید د چا مستعمره نه بلکی آزاده او خپلواکه وی (۳۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ په هغه کی باید امن او آرامي موجوده وی (۳۲) .
۳ـ د هغې افراد باید په کفر او شرک مبتلا نه وی بلکی ایمان لرونکي وی (۳۳) .
۴ـ پر هغه باید صرف او صرف الله واکمن وی ، یعنی الهی احکام پر مسلط وی (۳۴) .
۵ـ په هغه کی باید خدایی قانون نافذ وی (۳۵) .
۶ـ د هغې افراد باید لمونځ ادأ کړی او زکات ورکړی (۳۶) .
۷ـ د هغې افراد باید د ښېگنې او اخلاقو یوه ټوټه وی او نور هم د ښېگنو او اخلاقو خوا ته راوبولی. هغوی پخپله باید د بدیو څخه ځانونه وساتی او هم د بدیو او خرابیو څخه د نورو د منع کولو هڅی وکړی (۳۷) .
۸ـ د هغې د حکومت ټولی چاری باید د خپل منځي مشورو له مخی اجرا سی (۳۸) .
۹ـ د هغې مشر باید د ټولنی تر ټولو نیک عمله او صالح انسان وی (۳۹) .
۱۰ـ د هغې او سېدونکي باید ټول د قانون پابنده او مراعاتونکي وی (۴۰) .
۱۱ـ په هغه کی باید هیڅوک هم تر قانون پورته نه وی یعنی څوک باید تر قانون اضافه امتیاز و نه لری (۴۱) .
۱۲ـ په هغې کی باید د رشوت او فساد (۴۲) ، سود (۴۳) ، بې حیایی (۴۴) ، بد اخلاقی (۴۵) ، قمار (۴۶) ، او شراب غوندی لعنتونه نه وی (۴۷) .
۱۳ـ په هغې کی هر چا ته باید د ژوندانه لومړنۍ اړتیاوی مهیا وی (۴۸) .
۱۴ـ په هغې کی باید د رایی آزادي او د رغنده انتقاد پوره آزادي موجوده وی (۴۹) .

(۱) : الحجرات: ۱۳ ؛ النسأ : ۱ ؛ الاسرأ : ۷۰ . (۲) : الحجرات: ۱۳ . (۳) : التغابُن: ۲ . (۴) : النسأ : ۳ ، ۲۵ ؛ النور: ۳۲ . (۵) : النسأ : ۱۹ ؛ الروم: ۲۱ . (۶) : البقره: ۱۸۷ . (۷) : الاعراف: ۱۸۹ ؛ الروم: ۲۱ . (۸) : البقره: ۲۲۸ . (۹) : النسأ : ۳۴ . (۱۰) : الطلاق: ۶ ؛ النسأ : ۳۴ . (۱۱) : الاحزاب: ۳۳ . (۱۲) : الاحزاب: ۵۹ ؛ النور: ۳۱ . (۱۳) : النسأ : ۱۳ ، ۱۲۹ . (۱۴) : البقره: ۲۲۹ ، ۲۳۱ ، ۲۳۲ ، ۲۳۷ ؛ الطلاق: ۱ . (۱۵) : البقره: ۲۲۹ . (۱۶) : مریم: ۵۵ ؛ لقمن: ۱۳ـ ۱۹ ؛ البقره: ۱۳۲ . (۱۷) : النسأ : ۳۶ ؛ البقره: ۸۳ ؛ الاسرأ : ۱۲۳ ؛ العنکبوت: ۸ ؛ لقمن: ۱۴ . (۱۸) : النسأ : ۳۶ ؛ البقره: ۸۳ ، ۱۷۷ ؛ النحل: ۹۰ ؛ الاسرأ : ۲۶ ؛ الروم: ۳۸ . (۱۹) : الاسرأ : ۲۶ ؛ البقره: ۸۳ ، ۱۷۷ ؛ النسأ : ۳۶ ؛ الروم: ۳۸ . (۲۰) : النسأ : ۳۶ . (۲۱) : الاسرأ : ۲۶ . (۲۲) : النسأ : ۲۳ . (۲۳) : البقره: ۲۳۳ ؛ لقمن: ۱۴ . (۲۴) : البقره: ۲۳۲ . (۲۵) : الشوری: ۳۸ ؛ آل عمران: ۲۵۹ . (۲۶) : الحجرات: ۱۰ ؛ التوبه: ۱۱ ؛ آل عمران: ۱۰۳ ؛ الاحزاب: ۵ ؛ البقره: ۱۷۸ . (۲۷) : التوبه: ۷۱ ؛ الفتح: ۲۹ ؛ المایِّده: ۵۴ ؛ الانفال: ۱ . (۲۸) : الحجرات: ۹ . (۲۹) : الحجرات: ۱۹ . (۳۰) : الحجرات: ۱۲ . (۳۱) : النور: ۵۵ ؛ الحج: ۴۱ ؛ الانفال: ۲۶ . (۳۲) : الاعراف: ۵۶ ؛ النور: ۵۵ ؛ البقره: ۲۰۵ ؛ القصص: ۸۳ ؛ ص: ۲۸ . (۳۳) : آل عمران: ۱۱۰ ؛ الروم: ۳۱ ؛ النور: ۵۵ ؛ فاطر: ۳۹ ؛ الصف: ۱۱ . (۳۴) : آل عمران: ۲۶ ، ۱۸۹ ؛ المایِّده: ۱۷ ؛ الانعام: ۵۷ ؛ الاعراف: ۵۴ ؛ التین: ۸ . (۳۵) : المایِّده: ۴۴ ، ۴۵ ، ۴۷ ؛ الاعراف: ۳ ؛ النور: ۵۵ ؛ الزمر: ۵۵ . (۳۶) : البقره: ۳ ، ۱۷۷ ، ۲۷۷ ؛ الروم: ۳۱ ؛ لقمن: ۴ ؛ البینه: ۵ . (۳۷) : آل عمران: ۱۱۰ ، ۱۰۴ ؛ التوبه: ۷۱ ، ۱۱۲ ؛ النحل: ۹۰ ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحج: ۴۱ . (۳۸) : الشوری: ۳۸ ؛ آل عمران: **۲۵۹** . (۳۹) : الحجرات: ۱۳ . (۴۰) : النسأ : **۵۹** . (۴۱) : القصص: ۴ . (۴۲) : البقره: ۱۸۸ . (۴۳) : البقره: **۲۷۵** ، ۲۷۹ . (۴۴) : الاعراف: **۳۳** ؛ الانعام: **۱۵۱** ؛ الشوری: ۳۷ ؛ النحل: ۹۰ ؛ النسأ : ۲۲ . (۴۵) : النحل: ۹۰ ؛ آل عمران: ۱۰۴ ، ۱۱۰ ، ۱۱۴ ؛ الاعراف: **۱۵۷** ؛ التوبه: ۷۱ ، ۱۱۲ ؛ الحج: ۴۱ . (۴۶) : المایّده: ۹۰ ـ ۹۱ ؛ البقره: ۲۱۹ . (۴۷) : البقره: **۲۱۹** ؛ المایّده: ۹۰ ـ ۹۱ . (۴۸) : الذریت : ۱۹ ؛ المعارج: **۲۵** . (۴۹) : البقره: **۲۵۲** ؛ یونس: **۹۹** ؛ آل عمران: ۱۱۰ ؛ التوبه: ۷۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې درويشتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومېږي د قرآن پوهنې ډېره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده . دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي . هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دايې د درويشتمې روژې لپاره درويشتم سوغات ، ( ن . صمد )

## د قران سره مرکه ( درويشتمه برخه ) :

پوښتنه: آيا تا د انساني ټولنې د اقتصادي ژوندانه په هکله هم څه احکام لورولي دي ؟ که وي لطفاً يې راته ووايه.

ځواب: ما د انسان د سپمايېزه-ټولنيزه ژوندانه اړونده ځينې اصول او مقررات وضع کړي چې لنډيز يې په دې ډول دی:

۱-د هر انسان لپاره د ځمکې د رزق د وسايلو څخه د خپلې برخې اخيستلو طبيعي حق خوندي دی (۱) .

۲-په رزق کې هم د الله د نورو نعمتونو غوندې مساوات نسته ، يعنې الله چا ته ډېر او چا ته هم لږ ورکوي (۲) .

۳-د هر انسان لپاره د ځاني او خصوصي مالکيت لرلو حق خوندي دی (۳) .

۴-نسل وژنه حرامه ده ، که هغه حتی د ډېرې لوږې او غربت د خطر له امله هم وي (۴) .

۵-صرف د حلالې طريقې څخه د مال او شتمنۍ ګټل روا دي ، بلکې د ناجايزه لارې څخه يې حصول حرام او منع دی (۵) .

۶-د سود کاروبار حرام دی او هغه د الله او رسول سره د جنګ معنا لري (۶) .

۷-پر نصاب لرونکو يعنې هغو کسانو چې تر اړتيا اضافه مال او شتمني ولري ، د زکات ادا کول فرض دي (۷) . حال دا چې د ځمکې پر حاصلاتو بيا عُشر يعنې د لسمي برخې ورکړه فرض ده (۸) .

۸-د حلالې طريقې څخه ګټلې عايد بايد يوازې په جايز ډول مصرف سي او اضافه خرڅي بايد ونسي . اِسراف او تبذير دواړه ناجايز دي (۹) .

۹-بايد د سپما څخه کار واخيستل سي (۱۰) .

۱۰-ما د شتمنۍ ارتکاز يعنې ټول د څو کسانو په اختيار کې راتلل سخت غندلی دی (۱۱) .

۱۱-د هر نفر تر مړينې وروسته د هغه پاته جايداد بايد د هغه د وارثانو تر منځ په ټاکلې اندازه وويشل سي (۱۲) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: د دې حياتی معلوماتو څخه ډېره مننه. آيا دا رښتيا ده چی ته د پانگوالي سره هم مخالف يې ؟
ځواب: هو ، دا صحيح ده او پورته مې هم اشاره ورته وکړه. زه د سرمايداړانه ذهنيت سخت مخالف يم (۱۳). زما په نظر د ناروا لارو څخه عايد ترلاسه کول ، د هغه غونډول او ساتل او د الله په لاره کی يې نه مصرفول حرام دی. د دغسی اعمالو کونکي به د دوږخ د سخت عذاب سزاوار وی او په اور کی به کړيږی (۱۴).

پوښتنه: يو ښه کارگر يا مزدور څوک دی ؟
ځواب: يو ښه کارگر يا کارکونکی هغه څوک دی چی:
۱ـ که د کوم کار اهل وی ، نو په هغه کی بايد نا اهل نسي (۱۵).
۲ـ امين او اعتمادی وی ، بلکی خاين او خطا ايستونکی نه وی (۱۲).

پوښتنه: د يو کارگر يا مزدور سره د هغه د کارفرما ( سبټ يا باس ) رويه بايد څنگه وی ؟
ځواب: د يو کارفرما لخوا د خپل کارگر يا مزدور سره لاندينی سلوک بايد وسی:
۱ـ د هغه څخه بايد د هغه له طاقته زيات کار وا نه خيستل سی (۱۷).
۲ـ پر هغه بايد ظلم او زيادتی ونسی (۱۸).
۳ـ د معاش يا مُزد ټاکل بايد د کارگر يا مزدور په موافقه تر سره کړي (۱۹).

پوښتنه: اوس به يوه بله حساسه مسأله وپوښتم او هغه دا چی آيا د خلافت استقرار واجب دی ؟
ځواب: هو ، په يوه اسلامی ټولنه کی د خلافت شته والی واجب دی دا ځکه چی له دې پرته هغه سوچه اسلامی ټولنه نسی کېدای (۲۰).

پوښتنه: ستا سياسی ښوونی يا تعليمات کوم دي ؟
ځواب: زما د سياسی ښوونو مهم ټکي دا دي:
۱ـ واک او حاکميت صرف د الله سره دی (۲۱). د ټولو اختياراتو او صلاحيتونو اصلی څښتن صرف الله دی (۲۲).
۲ـ د الله او رسول حُکمونه اساسی قانون يعنی تر ټولو ستر قانون دی (۲۳) چی د هغه منل او اطاعت پر هر مسلمان لازمی او حتمی دی (۲۴).
۳ـ د دولت او حکومت هره مسأله او معامله بايد په خپل منځي سلامشورو سره حل او رفع سی (۲۵).
۴ـ پر ولس باندی د سياسی واکمن ( يعنی خليفه او سياسی مشر ) اطاعت لازم دی خو شرط يې دا دی چی هغه به پخپله د خدای او رسول احکام عملی کوی او د معروفاتو ( يعنی د اسلام مطابق ښه کارونو ) امر به کوی (۲۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵-د خپل منځي شخړو او تربګنیو وروستۍ او غوڅه پریکړه د الله او رسول حُکم دی ، نه بل څه(۲۷) .**
**۶-د حکومت او دولت بنسټیز هدفونه دا دي:**
الف-په هېواد کې د امنیت او ثبات قایمول(۲۸) .
ب-د ظلم او فساد له منځه وړل(۲۹) .
ج-عدالت او انصاف عملي کول(۳۰) .
د-حُدود الله یعنې الهي شریعت نافذول او د هغه حمایه او ساتنه کول(۳۱) .
ی-په پراخو ذریعو سره د ښېګڼو او نیکیو زیاتول ، د بدیو او ناخوالو محوه کول(۳۲) .

پوښتنه: په یو اسلامي حکومت کې د اتباعو یعنې رعیت اساسي حقوق کوم دي ؟
ځواب: په اسلامي حکومت کې خلکو ته زیات اساسي حقوق مهیا دي چې څو یې په لاندې ډول دي:
۱-د ځان ، مال او عزت ساتنې حق(۳۳) .
۲-د رایې د آزادۍ ، د وجدان د آزادۍ او د انتقاد د آزادۍ حق(۳۴) .
۳-د خپل خصوصي ژوندانه د تحفظ حق(۳۵) .
۴-د ظلم پر خلاف د ږغ پورته کولو حق(۳۶) .
۵-دا حق چې هر تبعه صرف د خپلو اعمالو مسؤل دی او د بل چا د عمل مسؤل او سزاوار نه دی(۳۷) .
۶-د ښېګڼې او سوکالۍ د کارونو لپاره د ټولنیزې آزادۍ حق(۳۸) .
۷-دا حق چې د هر محتاج تبعه د ژوندانه اساسي اړتیاوې باید تأمین سي(۳۹) .
۸-د مذهبي آزار څخه د ژغورنې حق(۴۰) .
۹-دا حق چې حکومت به د خپل رعیت د فرد فرد سره یو ډول رویه او چلند کوي(۴۱) .

(۱): الاعراف: ۱۲. (۲): النحل: ۷۱ ؛ النسأ: ۳۲ ؛ الرعد: ۴۲ ؛ الاسرأ: ۳۰ ؛ العنکبوت: ۶۲. (۳): البقره: ۱۸۸ ؛ النسأ: ۲۹. (۴): الانعام: ۱۵۱ ؛ الاسرأ: ۳۱. (۵): البقره: ۱۲۸ ، ۱۸۲ ؛ النسأ ۲۹ ، ۱۰۰. (۶): البقره: ۲۷۵ ، ۲۷۹. (۷): التوبه: ۶۰ ؛ البینه: ۵ ؛ البقره: ۵ ، ۱۱۰ ؛ الحج: ۷۸ ؛ النور: ۵۶. (۸): الانعام: ۴۱ ؛ البقره: ۲۲۷. (۹): الانعام: ۱۴۱ ؛ الاعراف: ۳۱ ؛ الاسرأ: ۲۶-۲۷. (۱۰): الفرقان: ۶۷ ؛ الاسرأ: ۲۹ ؛ الاعراف: ۳۱ ؛ الانعام: ۱۴۱. (۱۱): الحشر: ۷ ؛ التوبه: ۳۴-۳۵. (۱۲): النسأ: ۷ ، ۳۳. (۱۳): التوبه: ۳۴ ، ۳۵ ؛ آل عمران: ۱۸۰ ؛ المعارج: ۱۸ ؛ الهُمزه: ۱-۹. (۱۴): التوبه: ۳۴-۳۵ ؛ آل عمران: ۱۸۰. (۱۵): القصص: ۶۲. (۱۶): القصص: ۶۲. (۱۷): القصص: ۶۷. (۱۸): القصص: ۶۷. (۱۹): القصص: ۶۷. (۲۰): آل عمران: ۱۰۴ ؛ الحج: ۴۱ ؛ التوبه: ۱۰۲ ؛ النور: ۲ ؛ البقره: ۱۷۸. (۲۱): آل عمران: ۶۲ ، ۱۸۹ ؛ المایّده: ۱۷ ؛ الاعراف: ۵۴ ؛ الانعام: ۵۷. (۲۲): آل عمران: ۲۶ ، ۱۵۴ ؛ یس: ۸۳ ؛ البقره: ۲۰ ؛ المایّده: ۱۲۰. (۲۳): الاحزاب: ۳۶. (۲۴): آل عمران: ۱۳۲ ؛ النسأ: ۵۹ ؛ المایّده: ۹۲ ؛ الانفال: ۴۶ ؛ محمد: ۳۳. (۲۵): الشوری: ۳۸ ؛ آل عمران: ۲۵۹. (۲۶): النسأ: ۵۹ ؛ الدهر: ۲۴. (۲۷): النسأ: ۵۹. (۲۸): المایّده: ۳۳ ؛ النور: ۵۵. (۲۹): المایّده: ۳۳ ؛ القصص

(c) ketabton.com: The Digital Library



: ۸۳. (۳۰) : الحدید : **۲۵**. (۳۱) : التوبه: ۱۱۲ ؛ البقره: ۱۸۷ ، ۲۳۰ ؛ النسأ : ۱۳. (۳۲) : الحج: ۴۱ ؛ التوبه: ۱۱۲. (۳۳) : الاسرأ : ۳۳ ؛ البقره: ۱۸۸ ؛ النسأ : ۲۹ ؛ الحجرات: ۱۱-۱۲. (۳۴) : البقره: **۲۵۶** ؛ یونس: ۹۹ ؛ آل عمران: ۱۱۰ ؛ التوبه: ۷۱. (**۳۵**) : النور: ۲۷-۲۸. (۳۶) : النسأ : ۱۴۸. (۳۷) : الانعام: **۱۲۵** ؛ الاسرأ : **۱۵** ؛ هود : **۳۵** ؛ فاطر: ۱۸ ؛ النجم: ۳۸. (۳۸) : آل عمران: ۱۰۴. (۳۹) : الذریت: ۱۹ ؛ المعارج: **۲۵**. (۴۰) : الانعام: ۱۰۸. (۴۱) : القصص: ۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې څلورويشتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نوميږي د قرآن پوهنې ډيره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده . دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي . هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دا يې د څلرويشتمې روژې لپاره څلرويشتم سوغات ، ( ن . صمد )

## د قران سره مرکه ( څلرويشتمه برخه ) :

پوښتنه : آيا راته ويلای سې چې اسلامی حکومت پر خپلو اتباعو څه حقوق لری ؟

ځواب : پر خپل رعيت يا اتباعو باندی د اسلامی حکومت حقوق ، يا په بل عبارت د اتباعو مسؤليتونه دا دي :

١ـ د معروف ( نيکو احکامو ) په اجرا کی بايد د حکومت اطاعت وکړی (١) .

٢ـ د هېواد د قانون درناوی او د هغه مراعات وکړی (٢) .

٣ـ په امنيت او آرامۍ کی خنډونه ايجاد نکړی (٣) .

۴ـ د خوښيو او ښېګڼو په هر کار کی د حکومت سره مرسته وکړی (۴) .

پوښتنه : اوس به راسم دې ته چې د اسلامی حکومت بهرنۍ تګلاره بايد څنګه وی ؟

ځواب : د اسلامی حکومت د بهرنۍ تګلارې بنسټيز اصول دا دي :

١ـ د دوه اړخيزه تړونونو او ژمنو درناوی او د هغو ساتنه بايد وکړی (۵) .

٢ـ په هره مسأله او معامله کی بايد صداقت او رښتنولي موجوده وی (٦) .

٣ـ د فتنې او فساد څخه بايد ډډه وکړی (٧) .

۴ـ امنيت خوښوَنه او سوله بايد تأمين کړی (٨) .

۵ـ د غير مُعانِد ( يعنی غير دښمنو ) هېوادو سره بايد ښه اړيکی ولری (٩) .

٦ـ نړيوال عدالت او انصاف بايد مستقر کړی (١٠) .

پوښتنه : ستا په نظر د مشرتوب معيار بايد څنګه وی ؟ ځکه نن په اسلامی هېوادو کی دا معيار د هر چا څخه ورک او ګډوډ سوی دی .

ځواب : زما په نظر د مشرتوب مستحق هغه څوک دی چې :

١ـ د ايمان لرونکی وی (١١) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـد خورا ډير علمي او عملي صلاحيت څښتن وي (۱۲).
۳ـتر هر څه د الهي احکامو ډير پابند او متقي انسان وي (۱۳).
۴ـمخلص وي (۱۴).
۵ـخاين او ظالم نه وي (۱۵).

پوښتنه: آيا تا نړيوال قانون هم بيان کړی دی ؟
ځواب: هو ، ما چې کوم بين المللی قانون بيان کړی ، د هغه څو مهم مواد په دې ډول دي:
۱ـپر ټوله مځکه بايد د فساد او بدۍ څخه ډډه وسی (۱۶).
۲ـد خپل منځی تړونو او معاهدو ساتنه او څارنه بايد وسی (۱۷).
۳ـامن او سوله بايد ولټوی (۱۸).
۴ـپه هره معامله کی بايد صداقت او حقيقت نغښتی وی (۱۹).
۵ـد غير معاند ( هغه چی دينی دښمنی نه پالی ) هېوادو سره بايد ښه اړيکی ټينګی سی (۲۰).
۶ـنړيوال عدالت او انصاف بايد مستقر سی (۲۱).

پوښتنه: آيا راته ويلای سې چی د مسلمانانو سره چا ډير عداوت کړی دی ؟
ځواب: د مسلمانانو سره تر هر چا يهودانو او مشرکانو ډير عداوت کړی دی (۲۲).

پوښتنه: آيا عيسويانو ( يعنی نصاراوو ) دښمني نه ده ورسره کړې ؟
ځواب: يا ، دا ځکه چی هغوی عالمان او زاهدان لرل چی لويې او تکبر يې نه کاوه (۲۳).

پوښتنه: آيا مسلمانان د کافرانو سره دوستي کولای سی ؟
ځواب: دا ډيره باريکه او حساسه مسأله ده او بايد مغالطه پکښی ونسی ، مطلب دا چی مسلمانان د هغو کافرانو سره دوستي او مولات نسی کولای چی د الله ، رسول او اسلام يا مسلمانانو دينی دښمنان وی يا جنګ ورسره کوی (۲۴). که هر مسلمان يا مسلمانان دغسی وکړی نو ګنهکاران ، ظالمان او د هغوی غوندی کسان دي (۲۵). خو د هغو عادی کفارو سره چی دينی جنګ يا دښمنی نه کوی ، د دوستۍ او نيکۍ ممانعت نسته (۲۶).

پوښتنه: د قصدی يا عمدی وژنی سزا څه ده ؟
ځواب: قصاص دی يعنی قاتل بايد ووژل سی (۲۷).

پوښتنه: د غلا سزا څه ده ؟
ځواب: د جُرم د اثبات په صورت کی د غلا سزا د لاس پرې کول دی (۲۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: دا چې ځینی حکومتونه ستا دغه احکام په دې او هغه پلمه سره نه عملی کوی ، یعنی قاتل نه قصاص کوی ، د غله لاس نه پرې کوی او هغه په اصطلاح د بشری حقوقو څخه تیرئ بولی او دا سی نور الهی اوامر نه مراعاتوی ، خو ځانونه په اصطلاح اسلامی حکومتونه هم بولی. په دې هکله ستا حُکم څه دی ؟

ځواب: ما واضحاً ویلی دي چې زما ټول متن به مراعات کیږی او که صرف یوه کوچنۍ برخه هم تعمیل نسی معنا یې دا ده چې زما ټول متن یې و نه مانه او هغه ظالم او ګنهکار دی چې الهی سزا به ورکړه سی (۲۹).

پوښتنه: د دې اساسی معلوماتو څخه ډیره مننه. آیا پوښتلای سم چې د زنا سزا څه ده ؟
ځواب: د جرم د ثبوت په صورت کی د زانی سړي او زانی ښځی سزا سل سل دورې وهل دي (۳۰).

پوښتنه: د قذف ( یعنی د زنا د تهمت ) سزا څه ده ؟
ځواب: د قذف مرتکب باید اتیا دُرې ووهل سی او د هغه شاهدي له اعتباره لویږی (۳۱).

پوښتنه: آیا د ذمیانو ( یعنی په اسلامی ټولنه کی د غیر مسلمانانو ) څخه د جزیې اخیستل روا دی ؟
ځواب: هو ، د اسلامی حکومت لخوا د خپلو غیر مسلمانو اتباعو څخه د جزیې اخیستل جایز دی (۳۲).

پوښتنه: آیا راته ویلای سې چې د اسلام د دین اطاعت او پیروی آسانه ده که ګرانه ؟
ځواب: د اسلام د دین منل او اطاعت بالکل اسانه او بې تکلیفه دی (۳۳).

پوښتنه: آیا تا د دعوت او تبلیغ حُکم هم کړی دی ؟
ځواب: هو ، ما په هره ممکنه وسیله سره د دعوت او تبلیغ امر کړی دی تر څو ښېګنه او نیکي خپره سی او بدي ورکه سی (۳۴).

پوښتنه: آیا د اسلام څخه پرته بل دین هم د الله په نزد ښه او د قبول وړ دی ؟
ځواب: یا قطعاً نه ، د الله د خوښې وړ او غوره دین صرف همدا اسلام دی (۳۵) ، د دې څخه پرته بل هر دین د الله ناخوښه دی (۳۶).

(۱): النسأ: ۹. (۲): الانعام: ۸۵. (۳): المایّده: ۳۳ ، ۲۴ ؛ النور: ۵۵ ؛ القصص: ۸۳. (۴): المایّده: ۲.
(۵): الاسرأ: ۲۴ ؛ النحل: ۹۱ ؛ البقره: ۱۷۷. (۲): النحل: ۹۴. (۷): الاعراف: ۵۲ ؛ القصص: ۸۳ ؛ المایّده: ۲۴. (۸): الانفال: ۲۱ ؛ الاعراف: ۵۲. (۹): الممتحنه: ۸. (۱۰): المایّده: ۸۵. (۱۱): الحجرات: ۱۳ ؛ البقره:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ۳. (۱۲): البقره: **۲۴۷**. (۱۳): **الحجرات**: ۱۳. (۱۴): **الحجرات**: ۱۳. (**۱۵**): البقره: **۱۲۴**. (۱۲): الاعراف: **۵۲** ؛ **القصص**: **۸۳** ؛ المایِّده: **۲۴**. (۱۷): الاسرأ: **۳۴** ؛ **النحل**: **۹۱** ؛ البقره: **۱۷۷**. (۱۸): الانفال: **۲۱** ؛ الاعراف: **۵۲**. (۱۹): **النحل**: **۹۴**. (۲۰): **الممتحنه**: ۸. (۲۱): المایِّده: **۸۵**. (۲۲): المایِّده: **۸۲**. (**۲۳**): المایِّده: **۸۲**. (۲۴): الممتحنه: ۱ ؛ آل عمران: **۱۱۸ـ ۱۱۹**. (**۲۵**): النسأ: **۱۳۸ـ ۱۳۹** ؛ **المجادله**: **۲۲**. (**۲۶**): **الممتحنه**: **۸ـ ۹**. (**۲۷**): البقره: **۱۷۸** ، **۱۷۹**. (**۲۸**): المایِّده: **۳۸**. (**۲۹**): البقره: **۴۱** ، **۸۵** ، **۲۰۲** ؛ النور: **۵۱** ؛ المایِّده: **۴۹** ؛ **محمد** : **۳۳** ؛ آل عمران: **۱۱۹** ؛ التوبه: **۸۲**. (۳۰): النور: ۲. (۳۱): النور: **۴** ، **۵**. (**۳۲**): التوبه : **۲۹**. (**۳۳**): **الحج**: **۷۸** ؛ البقره: **۱۸۵**. (**۳۴**): آل عمران: ۱۱۰ ، ۱۰۴ ، ۱۱۴ ؛ المایِّده: **۷۸** ، **۷۹** ؛ التوبه: **۷۱** ، **۱۱۲** ؛ الحج: **۴۱** ؛ الاعراف: **۱۹۹**. (**۳۵**): آل عمران: **۱۹** ؛ المایِّده: **۳** ؛ الانعام: **۱۲۵** ؛ الزومر: **۲۲**. (**۳۶**): آل عمران: **۸۵**.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې پنځه ویشتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنې ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده . دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وایي . هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دایې د پنځه ویشتمې روژې لپاره پنځه ویشتم سوغات ، ( ن.صمد )

Nsamad57@hotmail.com

## د قران سره مرکه ( پنځه ویشتمه برخه ) :

پوښتنه: آیا ته غواړې چې یو څوک د اسلام دین جبراً ومنې یعنی په زوره مسلمان سي ؟

ځواب: یا هیڅکله نه ، زه د دین په چارو کی هیڅ ډول جبر او زور نه خوښوم(۱) ، بلکې هر څوک آزاد دی چې زما هدایتونه په شعوری توګه ومنی او یا یې هم رد کړی(۲) .

پوښتنه: چې داسی ده ، نو بیا دین ته ستا د دعوت او بلنې طریقه څنګه ده ؟

ځواب: ښه مسأله دې مطرح کړه . زه خپل دعوت داسی وړاندی کوم:

۱- په خواخوږۍ او خیرغوښتونکې جذبه سره (۳) .

۲- په حکمت او پوهه سره (۴) .

۳- په درنښت او عزت سره (۵) .

۴- په نرم بیان او ګفتار سره (۲) .

۵- په ښه اخلاقو او خوږه ژبه سره (۷) .

۲- د خبرو په معقوله طریقه سره (۸) .

۷- د مخاطب د مذهبی احساساتو د زیانمنولو څخه پرته (۹) .

۸- د مناقشه ای حالت د غوره کولو څخه پرته (۱۰) .

۹- د مخاطب په ژبه ، تر څو هغه ښه و پوهوم (۱۱) .

۱۰- د مخاطب طاقت او استعداد ، غوښتنې او روحیاتو ته په بشپړ پام سره (۱۲) .

۱۱- دین ته د بلنې کار د ګډ فکری اساس او عقیدې څخه راپیلوم (۱۳) .

۱۲- د بېلا بیلو میتودونو او لارو چارو په ذریعه یې پوهوم (۱۴) .

۱۳- د هر ډول چاپلوسۍ ، لحاظ او مراعات څخه پرته (۱۵) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴ـ د مخالفینو د ملامتولو او پېغور او بد رد ویلو له ډاره پرته (۱۲) .
۱۵ـ د دښمنانو پر خلاف د جهاد په اعلانولو سره (۱۷) .
۱۲ـ د ځان ښودلو د لارو چارو څخه پرته (۱۸) .
۱۷ـ د خپل کور څخه په راپیلولو سره (۱۹) .
۱۸ـ لومړی د انسانانو د اغیزمنو څیرو او طبقو په مخاطب کولو سره (۲۰) .
۱۹ـ په صبر ، حوصله ، عزم او ثبات سره (۲۱) .
۲۰ـ پر بریالیتوب په یقین سره (۲۲) .
۲۱ـ د خپلی بلنی د عملی نمونې په وړاندی کولو سره (۲۳) .

پوښتنه: ډیره مننه د دې خورا دلچسپی او معلوماتی څرګندونی څخه چی پوهېدنه یې پر هر مسلمان واجب او لازمی ده. بله پوښتنه می دا ده چی د حق په لاره کی د څه ډول ازموینو سره مخامخ کېدای سو ؟
ځواب: د حق په لاره کی ډیر امتحانونه راتلای سی چی ځینی یې دا دي:
۱ـ د دښمن څخه بېره (۲۴) .
۲ـ لوږه او تنده (۲۵) .
۳ـ اقتصادی ستونزی (۲۲) .
۴ـ ځانی او مالی قربانۍ (۲۷) .

پوښتنه: آیا د پلار ـ نیکه هر څه په پټو سترګو منل روا دي ؟
ځواب: یا هیڅکله نه ، بلکی حق باید ومنل سی او بس (۲۸) .

پوښتنه: آیا داسی څوک سته چی په حق تر پوهېدلو وروسته یې بیا هم د هغه مخالفت کړی وی ؟
ځواب: هو ډیر مثالونه یې سته. لکه فرعون او د هغه ملګرو چی د موسی (ع) څرګند مخالفت کاوه حال دا چی موسی (ع) یې پر حق باله (۲۹) . بل مثال یې دا چی یهویان ښه پوهېدل چی رسول الله (ص) پر حق دی مګر بیا یې هم مخالف ورسره کاوه (۳۰) .

پوښتنه: اوس به یوه بله ډیره مهمه مسأله وپوښتم چی نن خورا باب سوې ده او هغه دا چی ډیرئ کسان قوم پالنه کوی. آیا تا قومیت او ملیت جایز ګڼلی دی که یا ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: دا په رښتيا هم ډېره مهمه پوښتنه ده ، خو زه به درته ووايم چې ما قوميت او مليت په تمامه معنی رد کړی دی او د دې کار سخت مخالف يم او ما ټول مسلمانان هم له دې کاره سخت منع کړي دي (۳۱) .

پوښتنه: آيا تا کومه مناقشه يا مناظره هم بيان کړې ده که څنګه ؟
ځواب: يا ، زما د بلنی طريقه مناقشه نه ده (۳۲) ، بلکی ما يوازی مُحاجه (۳۳) يا مجادله غوره بللې ده چې هماغه د بحث معقوله طريقه ده (۳۴) او صرف په همدې مې اکتفا کړې ده . ځکه ، زما د بلنی هدف تلقين او هدايت دی (۳۵) . د بيلګې په ډول ما د ابراهيم (ع) او يو مغرور پاچا محاجه داسی بيان کړې ده :
ابراهيم (ع) هغه ته د دعوت په ورکولو سره داسی وويل: زما رب هغه دی چې څوک ژوندئ کوی او مړ کوی يې . مغرور پاچا : ژوندی کونکی او مړ کونکی خو زه يم . ابراهيم (ع) : که داسی ده نو الله خو لمر د ختيځ څخه راخيژوی ، خو ته هغه د لويديځ څخه راوخيژوه .
د دې سوال په اورېدو سره کافر پاچا وارخطا او سرګړئ سو او وبيربدئ (۳۶) .

پوښتنه: پر يوه ډېره مهمه موضوع تر اوسه مفصلاً نه يو رغبدلي او هغه نفاق او منافقت دی . آيا راته ويلای سې چې نفاق څه او منافق څوک دی ؟
ځواب: نفاق د مسلمانانو بې اتفاقه کول ، هغوی د الهی احکامو په هکله زړه نازړه کول او په زړونو کی د اسلام په هکله شک ورپيدا کول دی چې نوښتګر يې منافق دی ، يعنی دا چې منافقين د نفاق عاملين دي او ځای به يې دوزخ وی (۳۷) . ښه دا ده چې منافق په لنډه توګه درو پيژنم :
۱ ـ په الهی احکامو ملنډې وهل ، په ظاهره د غسی کار ساعتيرئ بلل د نفاق نښه ده چې کړونې يې منافقين دي (۳۸) .
۲ ـ په هغو مؤمنانو د ملنډو وهل يا پر خندل چې د الهی دين لپاره ځانی او مالی قربانۍ ورکوی د منافقانو عمل دی چې سخت عذاب ورته ګوری (۳۹) .
۳ ـ د قرآن او سنت په نافذولو کی پلمې ، حيلې او عذرونه وړاندی کول او د غير الله پريکړو ته مراجعه کول يا ترجيح ورکول منافقت دی چې انجام يې ظلمت دی (۴۰) .
۴ ـ د الله په لار کی د جهاد څخه ځان پټول ، د نورو بېرول او بې زړه کول ، او چټی بهانې جوړول د نفاق نښه ده او عاملين يې منافقين دي (۴۱) .
۵ ـ د ځانی عزت ، نوم او برم حاصلولو په خاطر د کفارو سره ملګرتوب او دوستي او برعکس د مسلمانانو پرې ښودل د منافقت علامه ده (۴۲) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶ـ د اسلامي احکامو په باره کې شک او تذبذب د منافقت نښه ده ، او د خدای غولول ، تظاهر ، ریا ، نه پر اسلام پوره یقین لرل او نه هم پر کفر ځان پوره عیارول ټول د منافق اعمال دي چې سزا به یې د اور لمبې وی (۴۳) .

۷ـ د ځان ساتلو او امتیاز حاصلولو په غرض د یهودو او نصاراوو ( یعنی عیسویانو ) سره دوستي د منافقت نښه ده چې د دې سختې ګناه عذاب د اور عتاب دی (۴۴) .

(۱) : البقره: **۲۵۶** . (۲) : الکهف: ۱۹ ؛ الفرقان: **۵۷** ؛ المزمل: ۱۹ ؛ المدثر : ۳ ، **۵۵** ؛ الدهر : ۲۹ . (۳) : النحل : ۱۲۵ . (۴) : النحل: **۱۲۵** ؛ الانعام: ۶۸ . (۵) : عبس: **۵ـ۱۶** . (۶) : طه: **۴۴** ؛ آل عمران: **۱۵۹** . (۷) : حم سجده: **۳۴** ؛ المومنون: ۹۶ . (۸) : النحل: **۱۲۵** ؛ العنکبوت: **۴۶** . (۹) : الانعام: ۱۰۸ . (۱۰) : الحج: **۲۷ـ۲۹** . (۱۱) : ابراهیم: ۴ . (۱۲) : النسأ : **۶۳** ؛ طه: **۴۰** ؛ الاسرأ : ۱۰۶ . (۱۳) : آل عمران: **۶۴** . (۱۴) : الانعام: **۱۰۵** . (۱۵) : الانعام: **۷۴** ؛ المایّده : **۵۴** ؛ طه: ۲۴ . (۱۶) : المایّده : **۵۴** . (۱۷) : التوبه: **۷۳** ، **۴۱** ، **۴۴** ؛ التحریم : **۹** ؛ الفرقان: **۵۲** ؛ الصف: ۴ . (۱۸) : الانبیأ : **۱۵۷** . (۱۹) : الشعرأ : **۲۱۴** ؛ الانعام: **۷۴**. (۲۰) : طه: **۲۴** ؛ النازعات : ۱۷ ؛ البقره: **۲۵۸** ؛ قریش: ۱ـ۴ . (۲۱) : هود : **۴۹** ؛ الاعراف: ۱۲۸ ؛ حم سجده : **۳۰** ؛ الاحقاف: ۱۳ ، **۳۵** ؛ آل عمران: ۲ . (۲۲) : هود : **۴۹** ؛ الاعراف: ۱۲۸ ؛ آل عمران: **۱۳۹** . (۲۳) : الاحزاب: ۲۱ ؛ هود : **۸۸** ؛ البقره: **۴۴** ؛ الصف: ۲ ، ۳ . (۲۴) : البقره: **۱۵۵** . (۲۵) : البقره: **۱۵۵** . (۲۶) : البقره: **۱۵۵** . (۲۷) : البقره: **۱۵۵** . (۲۸) : البقره: ۱۷۰ ؛ المایّده: ۱۰۴ ؛ الاعراف: ۲۸ ؛ الانبیأ : **۵۳** ؛ الشعرأ : ۷۴ . (۲۹) : النمل: ۱۴ . (۳۰) : البقره: **۸۹** ، **۱۴۴** ، **۱۴۶** ؛ الانعام: ۲۰ ، ۱۱۴ . (۳۱) : آل عمران: **۱۰۳** ، **۱۰۵** ؛ الشوری: ۱۳ ؛ الانعام: **۱۵۳** ، **۱۵۹** ؛ الروم: ۳۲ . (۳۲) : الحج: **۲۷ـ۲۹** . (۳۳) : البقره: **۲۸۵** . (۳۴) : النحل: **۱۲۵** ؛ العنکبوت: ۴۶. (۳۵) : القصص: **۴۳** ؛ الزمر : **۲۷** ؛ ابراهیم: **۲۵** ؛ الاسرأ : ۴۱ ؛ یونس: ۳ . (۳۶) : البقره: **۲۸۵** . (۳۷) : التوبه: **۶۵ـ۶۶** ؛ النسأ : **۱۳۸ـ۱۳۹** . (۳۸) : التوبه: **۶۵ـ۶۶** . (۳۹) : التوبه: ۷۹ . (۴۰) : النسأ : ۶۰ـ۶۱ . (۴۱) : الاحزاب: ۱۳ . (۴۲) : النسأ : **۱۳۸ـ۱۳۹** . (۴۳) : النسأ : ۱۴۲ - ۱۴۳ . (۴۴) : المایّده: **۵۱ـ۵۲** .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې شپږ ویشتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومیږي د قرآن پوهنی ډیره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنی کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخی ځوابونه وایي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دايې د شپږویشتمی روژې لپاره شپږویشتم سوغات ، ( ن. صمد )

Nsamad57@hotmail.com

## د قران سره مرکه ( شپږویشتمه برخه ) :

پوښتنه: آیا تا د پخوانیو اُمتونو بیان کړی دی ؟ که وی ، دوه-درې مثالونه يې راکولای سې ؟

ځواب: هو ، ما د ډیرو پخوانیو امتیانو بیان کړی دی لکه د نوح قوم(۱) ، د عاد قوم(۲) ، د ثمود قوم(۳) او داسی نور.

پوښتنه: آیا تا د کوم بت نوم هم اخیستی دی ؟

ځواب: هو ، ما د ځینو بتانو نومونه هم ذکر کړي دي ، مثلاً: لات(۴) ، عُزی(۵) ، منات(۲) ، وَد ، سواع ، یعوث ، یعوق ، نسر(۷) او نور.

پوښتنه: آیا تا د کوم کافر نوم هم ذکر کړی دی که یا ؟

ځواب: هو ، ما د څو کافرانو نومونه ذکر کړي دي لکه فرعون ، قارون ، هامان(۸) ، ابولهب(۹) او نور.

پوښتنه: ځینی خلک وایی چې د فرعون جسد تر ننه هم خوندي دی ، آیا دا ربښتیا ده ؟ او تا په دې هکله څه ویلی دي که یا ؟

ځواب: هو ، دا ربښتیا ده او د فرعون جسد الله تعالی تر قیامت پوری همداسی ساتلی دی تر څو خلک د هغه له بد انجامه عبرت واخلي (۱۰).

پوښتنه: اوس به راسم دې ته چې آیا تا د کومی ښځی نوم هم ذکر کړی دی که یا ؟

ځواب: هو ، ما د مریم یعنی د عیسی (ع) د مور نوم څو واره ذکر کړی دی (۱۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: آیا تا د کوم مسجد نوم هم ذکر کړی دی ؟
ځواب: هو ، ما د ځینو مسجدونو نومونه ذکر کړي دي لکه مسجدِ حرام (۱۲) په مکه کی ، مسجدِ اقصی (۱۳) په بیت المقدس کی او نور.

پوښتنه: آیا کولای سم چی د کعبې په باره کی لنډ معلومات درڅخه وغواړم ؟
ځواب: هو ولی نه ، کعبه یعنی د الله دغه کور په مکه کی دی (۱۴). د نړۍ تر ټولو لومړنی عبادت ځای همدا دی (۱۵). دا د برکت او هدایت مرکز دی (۱۲). په دې کی د الله تعالی ډیری نښانې شته دي (۱۷). په دې کی د ابراهیم ځای یعنی مقام ابراهیم هم موجود دی (۱۸). ابراهیم (ع) او اسمعیل (ع) کعبه له سره ودانه کړه (۱۹). کعبه د امن او سولی ځای دی (۲۰). دا سپیڅلی (۲۱) او عزتمن (۲۲) ځای دی. دا د حج او الهی عبادت لپاره د انسانانو ټولیزه ځای دی (۲۳). پر هر استطاعت لرونکي مسلمان باندی (په ژوند کی یو ځل) لازمه ده چی د دې کور حج وکړی (۲۴). د هغه انتظام او پالنه د پرهیزګارو خلکو دنده ده (۲۵). د حج څخه علاوه د دې کور عُمره هم کېدای سی (۲۲). د حج په مراسمو کی د کعبې طواف (۲۷) ، د صفا او مروا د غونډیو تر منځ ګړندئ تګ راتګ (۲۸) ، د عرفات په میدان کی راغونډېدل (۲۹) ، قربانی (۳۰) او په مشعر حرام (۳۱) یا مزدلفه کی تم کېدل هم شامل دي.

پوښتنه: آیا تا د کوم شتمن نوم هم یاد کړی دی که یا ؟
ځواب: هو ، ما د موسی (ع) د قوم د یو ډیر لوی شتمن یعنی قارون نوم ذکر کړی دی (۳۲).

پوښتنه: د موضوع په ارتباط می یوه بله پوښتنه په زړه کی راوګرځېده او هغه دا چی ستا د نزول څخه مخکی د عربو حالت څنګه و ؟ که یو څه وضاحت راکړې خوشاله به سم.
ځواب: زما د راتګ یعنی نازلېدو څخه مخکی نه یوازی عربی ټاپو وزمه بلکی ټوله نړۍ په فتنه او فساد کی ډوبه وه (۳۳). هره خوا د کفر ، شِرک ، وهم او شک پالنې او د ګمراهۍ تیاره خپره وه (۳۴). هیڅ کوم مرکزی حکومت واکمن نه و ، بلکی خلک پر قبیلو او قومونو ویشل سوي وو (۳۵) او خپل تر منځو په نښتو او جګړو اخته وو (۳۲).
عوام ټول په غربت او مفلیسۍ کی را ګیر وو (۳۷). په ټولو کی د قریشو ټبر ډیر متمَول او شتمن و (۳۸) ، دا ځکه چی کورنی او بهرنی تجارت ټول د دوی په واک کی و (۳۹). د هغوی سوداګریز کاروانونه په هماغه نا امن حالت کی داسی ژغورلي وو لکه په دوه دیرش غاښونو کی چی ژبه ده (۴۰). د دې کار لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



علت دا و چې دا خلک د عربو مذهب سالاران (۴۱) ، د کعبې متولیان یا ساتونکي (۴۲) او حاجیانو ته د څښلو د اوبو ورکونکي وو (۴۳). همدا علت و چې د دوی د قافلو سره هیچا هم غرض نه درلود او هغوی بېله کومې بیرې او خطر څخه سفر کاوه (۴۴).
د عربو ډیره او پراخه سیمه بې حاصله او ریګستاني وه (۴۵). ځای ځای به خو د خرما ونې ولاړې وې او یا به هم د انګورو باغونه لیدل کېدل (۴۶). د څارویو له منځه اوښ ډیر عام و او خلک پر هغه سپرېدل ، د هغه غوښې یې خوړلې او په هغه سره یې بارونه له یوه ځایه بل ته انتقالول (۴۷).
میشتېدنه دوه ډوله وه: لومړی حَضَری یعنی ښاری ژوند او دوهم بَدَوی یعنی د کوچیانو غوندی کلیوالي ژوند (۴۸). باید ووایم چې په عربو کی قومي او نژادي تعصب خورا ډیر و (۴۹). هغوی جګړه مار او زړه ورخلک وو (۵۰). هغوی په خپلې ژبې ډیر ویاړ کاوه او غیر عربو ته یې عجم (یعنی ګونګیان) ویل (۵۱). هغه مهال شعر او شاعري ډیر رواج درلود (۵۲).
هغوی د شراب څښلو او قمار کولو ناوړه عادتونه هم لرل (۵۳). شک او ګومان پالنه خورا ډیره وه (۵۴). د سود کاروبار ډیر پکښې عام و (۵۵). هغوی د لور وژنې په ناولي دود هم مبتلا وو او ځینو کسانو به خپلې لونې تر زوکېدو وروسته ژوندۍ ښخولې (۵۶).
کعبه د عربو مذهبی مرکز و (۵۷). له هرې خوا به عرب هر کال دلته د حج او طواف لپاره راتلل (۵۸). د هغه د سترتیا او برم اندازه له دې نه ښه ترا معلومېدای سی چې یو غیر متمدن قوم د حسد ، دښمنۍ او قومی ګټو له امله د هغې د نړولو لپاره د فیلانو یو غټ لښکر تهیه کړ او حمله یې پر وکړه ، خو الله تعالی د دغو خلکو د دې ناولی پلان د شنډولو په خاطر یو ډول خاص مرغان (ابابیل) ډلی ډلی راولیږل چې پر دغو یرغلګرو یې ډبرینی تیږې را و اورولې او هغوی ټول یې تباه او برباد کړل او په دې ډول د الله د دغه مرکزیت او مرجعیت ورانونکي پخپله محوه او تباه سول (۵۹).
ابراهیم (ع) عربو ته د الهی توحید پیغام ورکړی و خو هغوی د ده پیغام هېر او له پامه غورځولی و (۶۰).
هغوی د خدای لمانځنې پر ځای شِرک او بت پرستۍ ته مخه کړې وه (۶۱). د لات ، منات ، عزی او نورو بې شمیره بتانو عبادت یې کاوه (۶۲) او د هغوی لمانځل یې تر الله پوری د رسېدو ذریعه بلله (۶۳). هغوی یوازینی خدای د کایناتو خالق او د عالم چلونکی باله (۶۴). خو د قیامت ، جزا او نبوت څخه منکر وو (۶۵). په عربو کی عیسویان (۶۶) ، یهودیان (۶۷) او اور لمانځونکي (۶۸) هم موجود وو.

پوښتنه: ستا د دې جامع تفصیل څخه ډیر مننددوی یم. که اوس راته ووایې چې ستا تاریخی فلسفه څه ده ، یعنی ستا لخوا د پورتنیو ذکر سوو پیښو له بیانه اصلی مطلب څه دی؟
ځواب: زما د تاریخ فلسفه هماغه عبرت او درس دی. ما پخوانۍ پیښې صرف د دې لپاره ذکر کړې دي تر څو خلکو ته عبرت او نصیحت وګرځی او د هغو په رڼا کی خپله آینده سمه کړی (۶۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۱) : الاعراف: ۵۹ ؛ هود : ۲۵ . (۲) : الاعراف: ۶۵ ؛ هود : ۵۰ . (۳) : الاعراف: ۷۳ ؛ هود : ۶۱ . (۴) : النجم: ۱۹
(۵) : النجم: ۱۹ . (۶) : النجم: ۲۰ . (۷) : نوح: ۲۳ . (۸) : العنکبوت: ۳۹ . (۹) : تبت: ۱ . (۱۰) : یونس: ۹۲ . (۱۱)
: آل عمران: ۳۶ ؛ النسأ : ۱۷۱ ؛ المايّده: ۱۷ ، ۵۰ ؛ التحریم: ۱۲ . (۱۲) : البقره: ۱۴۴ ؛ المايّده: ۲ ؛ الانفال: ۳۴
؛ التوبه: ۷ ؛ الاسرأ : ۱ . (۱۳) : الاسرأ : ۱ . (۱۴) : آل عمران: ۹۶ . (۱۵) : آل عمران: ۹۶ . (۱۶) : آل عمران: ۹۶ .
(۱۷) : آل عمران: ۹۷ . (۱۸) : آل عمران: ۹۸ . (۱۹) : البقره: ۱۲۷ . (۲۰) : البقره: ۱۲۵ـ۱۲۶ ؛ القصص: ۵۷ . (۲۱)
: التوبه: ۲۸ . (۲۲) : البقره: ۱۹۱ ؛ المايّده: ۲ ، ۹۷ ؛ القصص: ۵۷ . (۲۳) : البقره: ۱۲۵ . (۲۴) : آل عمران: ۹۷
؛ الحج: ۲۷ . (۲۵) : الانفال: ۳۴ . (۲۶) : البقره: ۱۵۸ . (۲۷) : البقره: ۱۲۵ ؛ الحج: ۲۹ . (۲۸) : البقره: ۱۵۸ .
(۲۹) : البقره: ۱۹۸ . (۳۰) : الحج: ۳۴ ، ۳۶ ، ۲۸ . (۳۱) : البقره: ۱۹۸ . (۳۲) : القصص: ۲۷ـ۸۲ . (۳۳) :
الروم: ۴۱ ؛ ال عمران: ۱۰۳ ؛ قریش: ۴ . (۳۴) : الانعام: ۱۰۶ ، ۱۴۳ ، ۱۴۴ ؛ آل عمران: ۱۰۳ ، ۱۵۱ ، ۱۲۴ . (۳۵)
: الحجرات: ۳ . (۳۶) : مریم: ۹۷ ؛ آل عمران: ۱۰۳ ؛ الروم: ۴۱ ؛ قریش: ۴ . (۳۷) : قریش: ۴ ؛ ابراهیم: ۳۷ .
(۳۸) : قریش: ۴ . (۳۹) : قریش: ۱ـ۲ . (۴۰) : قریش: ۴ . (۴۱) : قریش: ۳ . (۴۲) : التوبه: ۱۹ . (۴۳) : التوبه:
۱۹ . (۴۴) : قریش: ۱ـ۴ . (۴۵) : ابراهیم: ۳۷ . (۴۶) : الانعام: ۹۹ ، ۱۳۶ ، ۱۴۱ ؛ المومنون: ۱۹ ؛ یس: ۳۴ـ
۳۵ ؛ الانبیأ ک ۱۵ و ۱۲ . (۴۷) : الغاشیه: ۱۷ ؛ الانعام: ۱۴۲ ، ۱۴۴ ؛ الاعراف: ۴۰ ؛ النحل: ۵ـ۷ . (۴۸) :
الاحزاب: ۲۰ ؛ التوبه: ۹۰ ، ۹۷ ، ۱۲۰ . (۴۹) : الفتح: ۲۶ . (۵۰) : مریم: ۹۷ ؛ النسأ : ۱۰۴ . (۵۱) : حم سجده :
۴۴ ؛ النحل: ۱۰۳ ؛ الشعرأ ک ۱۹۸ . (۵۲) : الحاقه: ۴۱ ؛ الطور : ۳۰ ؛ الشعرأ : ۲۲۴ الصفت: ۳۶ . (۵۳) :
البقره: ۲۱۹ ؛ المايّده: ۹۰ـ۹۱ . (۵۴) : الانعام: ۱۴۳ ، ۱۴۴ ؛ الاسرأ : ۴۰ ؛ النسأ : ۱۱۷ ؛ الزخرف: ۱۹ . (۵۵) :
البقره: ۱۷۵ ؛ آل عمران: ۱۳۰ ؛ الروم: ۳۹ . (۵۶) : الانعام: ۵۱ ؛ الاسرأ : ۳۱ ؛ التکویر: ۸ـ۹ . (۵۷) : الانفال:
۳۵ ؛ قریش: ۳ ؛ التین: ۳ . (۵۸) : البقره: ۱۵۸ ، ۱۸۹ ، ۱۹۷ ؛ الحج: ۲۷ . (۵۹) : الفیل: ۱ـ۵ . (۶۰) : الحج:
۲۶ـ۳۱ ؛ الانعام: ۱۲۱ ؛ ابراهیم: ۳۵ـ۴۱ ؛ مریم: ۴۱ـ۵۵ ؛ العنکبوت: ۱۷ . (۶۱) : الانعام: ۱۰۶ ؛ الزمر: ۳ ؛
یونس: ۱۸ ؛ النحل: ۷۳ ؛ الفرقان: ۳ . (۶۲) : النجم: ۱۹ـ۲۰ ؛ الفرقان: ۳ . (۶۳) : الزمر: ۳ ؛ یونس: ۱۸ .
(۶۴) : یونس: ۳۱ ؛ المومنون: ۸۴ـ۹۰ . (۶۵) : الفرقان: ۱۱ ؛ السبا : ۳ ؛ الشوری: ۱۸ ؛ النازعات: ۴۲ ؛
الروم: ۱۲ . (۶۶) : البقره: ۲۲ ؛ المايّده: ۶۹ ؛ الحج: ۱۷ ؛ الجمعه: ۶ . (۶۷) : البقره: ۶۲ ؛ المايّده: ۱۸ ، ۶۹ ؛
التوبه: ۳۰ ؛ الحج: ۱۷ . (۶۸) : الحج: ۱۷ . (۶۹) : یوسف: ۱۱۱ ؛ النازعات: ۲۶ ؛ آل عمران: ۱۳ ؛ الاعراف: ۱۷۲
؛ الحشر: ۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې اووه ويشتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نوميږي د قرآن پوهنې ډيره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده . دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي . هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دايې د اووه ويشتمې روژې لپاره اووه ويشتم سوغات ، ( ن.صمد )

Nsamad57@hotmail.com

## د قران سره مرکه ( اووه ويشتمه برخه ) :

پوښتنه: آيا راته ويلای سې چې ستا د خوښې وړ انسانان څوک دي ، يعنی څه ډول انسانان خوښوې ؟

ځواب: زما د خوښې وړ يا مطلوب انسان بايد لاندينې صفتونه ولري :

۱ـ پر الله ، د هغه پر نبيانو ، د هغه پر ملايکو ، د هغه پر کتابو ، او پر آخرت باندی ايمان ولری (۱) .

۲ـ د خدای سره بل شريک و نه نيسي (۲) .

۳ـ ږغ يې تر غيرالله پوری نه وی يعنی بېله خدايه بل څوک معبود و نه بولی (۳) .

۴ـ په هره مسأله او معامله کی د الله او د هغه د رسول اطاعت يا پيروی وکړی نه د بل چا يا بل ځواک (۴) .

۵ـ د الله په لاره کی په خپل سر او مال سره جهاد وکړی (۵) .

۶ـ د الله څخه وبيريږی (۶) ، پر هغه باور او اعتماد وکړي (۷) ، د هغه د رضا ياخوښې غوښتونکی وی (۸) ، د هغه تسبيح او حمد ويونکی وی (۹) ، هغه ته سر ټيټونکی يا سجده کونکی وی (۱۰) ، د هغه عبادت کونکی وی (۱۱) ، توبه او استغفار کونکی يعنی د عفوی غوښتونکی وی (۱۲) .

۷ـ لمونځ کونکی وی (۱۳) ، د روژې په مياشت کی روژه نيونکی وی (۱۴) .

۸ـ د نصاب د پوره کېدو په صورت کی د زکات ورکونکی وی (۱۵) ، او حج کونکی وی (۱۶) .

۹ـ رښتيا ويونکی وی (۱۷) ، صبر کونکی يعنی صابر وی (۱۸) ، پر خپل قهر باندی غالب يعنی د هغه کنټرولونکی وی (۱۹) ، امانت ساتونکی يعنی امين يا په امانت کی صادق وی (۲۰) .

۱۰ـ د ښه کارونو خپرونکی او د بدو منع کونکی وی (۲۱) ، د ښېګڼې لپاره نه ستړی کيدونکی وی (۲۲) .

۱۱ـ په رښتيا شاهدي ورکونکی وی (۲۳) ، د درواغو د شاهدۍ څخه ځان ژغورونکی وی (۲۴) ، متکبر او مغرور نه وی (۲۵) .

۱۲ـ د بيوزلو او مسکينانو سره د خپل مال او شتمنۍ له درکه مرسته وکړی (۲۶) .

۱۳ـ د خپل جنسی سيستم ساتونکی او د زنا څخه ډډه کونکی وی (۲۷) .

۱۴ـ د کنجوسۍ يعنی بخيل توب او اضافه خرڅۍ يعنی اِسراف څخه ډډه وکړی بلکی کم خرڅه وی (۲۸) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵ـ پر قول ټینګ وی (۲۹) .
۱۶ـ د ګناهونو څخه ځان ساتونکی یعنی ډډه کونکی وی (۳۰) .
۱۷ـ د چا ناحقه وژونکی نه وی (۳۱) .
۱۸ـ د چتی او بې ګټې خبرو څخه ځان ساتونکی وی (۳۲) .
۱۹ـ د نورو د غلطیو عفو کونکی وی (۳۳) .
۲۰ـ نور مسلمانان خپل ورونه وبولی او د هغوی سره وروږګلویزه سلوک وکړی (۳۴) .
۲۱ ـ د مسلمانانو لپاره نرم خویه وی خو د کافرانو په وړاندې ډیر سخت او په عین حال کی متوجه وی (۳۵) .
۲۲ـ په مغرورانه توګه نه بلکی په عزتمنه طریقه سره چال چلند وکړی (۳۶) .
۲۳ـ د نورو سره په مشوره کار مخته یوسی (۳۷) .
۲۴ـ د الهی حدودو ( حکمونو ) ساتندوی وی (۳۸) .
۲۵ـ د الله او رسول حُکم تر هر څه لوړ ، د مینی وړ ، او په هر حالت کی اولتر وبولی (۳۹) .

پوښتنه: دا خو ډیر حیاتی معلومات وو . آیا پر الله باندې ډیر ګران کسان یا د الهی انعام ګټونکي را پیژندلای سې ؟
ځواب: هو ، هغه کسان چی د الله ډیره ښېګڼه ، نیکی او عزت پر لورول سوی هماغه انبیأ کرام ، صدیقین ( یعنی رښتیا ویونکي او صادقان ) ، شهیدان او صالحین ( یعنی نېک عمله ) انسانان دي (۴۰) . خو باید متوجه او سې چی زما په نزد یوازی همدا ډله مختص نه ده بلکی نبیان می هم صالحین بللي دي (۴۱) .

پوښتنه: آیا راته ویلای سې چی د نن ورځی د مسلمانانو څخه ګیله او شکایت لرې که یا ؟
ځواب: دا خو ډیره معقوله او ضروری پوښتنه ده او باید درته وو ایم چی بلې هو ، زه صرف دا شکایت ورڅخه لرم چی هغوی زه په عمل کی ترک او پرې ایښی یم بلکی صرف په نوم پر ګران یم (۴۲) .

پوښتنه: چی داسی ده ، نو د انسان د روزنې او تربیې لارې چارې کومی دي ؟
ځواب: زما په نزد انسانی تربیه خپلی لارې چاری لری چی هغه مختصراً داسی دي:

لومړی-زما د تربیې څخه اصلی مقصد د یو صالح یعنی نیک عمله انسان جوړول دی (۴۳) ، داسی یو انسان چی په صحیح توګه د الله اطاعت او بندګي کونکی وی (۴۴) ، د الهی لارښوونی یا هدایت رښتیانی عملی کونکی وی (۴۵) ، چی پر مځکه د الله د خلیفه او استاځي په توګه و اوسیږی او د خپلو مسؤلیتونو اجرا کونکی وی (۴۶) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم-زه د انسان ټوله روزنه کوم(۴۷). زه د هغه سره د مادي او روحياتي ژوندانه خورا ژوري اړيکي لرم (۴۸). نو ځکه زه د انسان د جسم، عقل او روح وده، توازن او انتظام رامنځته کوم(۴۹). د يو مسلمان هر عمل عبادت دی خو په دې شرط چي اړونده کار يې د الله د خوښۍ حاصلولو په خاطر وی(۵۰).

دريیم: ما د انسان د روحاني ژوندانه د ودې او پرمختګ لپاره ذکر او فکر(۵۱)، عبادت(۵۲)، او زما تلاوت کول ضروري بللي دی(۵۳) او هغه ته مي عالي اخلاق او ښېګنې ور ښوولي دي(۵۴).

څلورم-زما په نظر انساني عقل د الله تعالی يو نعمت دی چي د هغه څخه ګټه نه اخيستل ناشکري او د نعمت کفران ګڼل کيږي(۵۵). زه هر انسان ته د کايناتو په هکله د ژور فکر او غور او د الله د قدرت او حکمت د مشاهده کولو بلنه ورکوم(۵۶). د الهي شريعت حکمتونه او ګټي واضح کوم(۵۷). په پټو سترګو يې د نورو د تقليد څخه راګرځوم(۵۸). زما په نظر په هر ډول مسأله او معامله کي د پوهي او څيړني څخه پرته صرف د شک، وهم او ګومان څخه کار اخيستل غلط دی(۵۹). د قيامت په ورځ به د هر انسان څخه د خپل عقل د نه استعمال يا غلط استعمال پوښتنه کيږي(۶۰).

پنځم-ما د انسان د جسماني او مادي اړتياوو د بشپړولو په هکله هم ډير ټينګار کړی دی(۶۱).

شپږم-ما د انسان د جذباتو او احساساتو تربيه هم په نظر کي نيولې ده. وګوره زه انسان ته فقط د الله څخه بيره ورښيم(۶۲)، او د بل هر ډول خوف يا بيری څخه مثلاً د مړيني څخه د بيری(۶۳)، د رزق د لږښت د بيری(۶۴) او خيالي يا تخيلي خطرونو د بيری څخه خلاصون ورکوم(۶۵). د هغه په زړه کي د دنيا او آخرت د نعمتونو هيله او آرزو ورپيدا کوم(۶۶). هغه ته د الله سره مينه او محبت(۶۷) او د شيطان څخه کرکه او نفرت ورښيم(۶۸). زه د انسان په دننه کي د هر ډول بدۍ سره کرکه پيدا کوم(۶۹) تر څو د کفر او شِرک(۷۰)، فحشا(۷۱)، فتنې او فساد(۷۲) او نورو بديو د ارتکاب څخه وژغورل سي.

اووم: ما د انسان د فردي(۷۳) او ټولنيز(۷۴) ژوندانه د سمون لپاره هر ممکن کوښښ کړی دی.

اتم-ما د انسان د حتمي يعني فرض(۷۵) او غوره يعني ښه(۷۶) کړنو يا چارو توپير بيان کړی دی تر څو د مهمو او غير مهمو مسألو تفکيک وکړای سي.

نهم-ما د انساني تربيې لپاره د لاندنيو وسايلو او ذرايعو څخه ډير کار اخيستی دی:
۱-چي يوه بيلګه ييزه حالت غوره کړی(۷۷) مطلب دا چي د رسول الله أسوةً حسنه اختيار کړي.
۲-د وعظ او تلقين ذريعې ورښيم(۷۸).
۳-په خبرداري ورکولو او چمتو کولو سره «يعنی اِنذار او ترهيب» يې متوجه کوم(۷۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ـ د کیسو او تاریخ څخه په عبرت سره يې پوهوم (۸۰).
۵ـ د جاهلیت د کلتور او عنعناتو په ختمولو سره يې روزم (۸۱).

لسم ـ نو پر دغه طریقه چې ځوک تیار سی ، هغوی زما د تلپاتو حقایقو او داخلي او خارجي هر ډول دلایلو څخه ښه خبر وی ، زما د احکامو پلې کونکی ، د حکمت او بصیرت څخه ګټمن او هغوی د نفس د پاکۍ تر ټولو ښه درجه او مرتبه لرونکي وی (۸۲) . کله چې داسی وسی نو یوه بهترینه ټولنه منځته راځی چې په ایمان او ښه عمل سره به ښکلې وی چې نیکي به خپروی او بدي به منع کوی (۸۳).

(۱) : البقره : ۱۷۷ ، ۲۸۵ . (۲) : المومنون : ۵۹ . (۳) : الفرقان : ۲۸ ؛ الجن : ۱۸ . (۴) : النسأ : ۵۹ ؛ التوبه : ۷۱ . (۵) : النسأ : ۷۲ ؛ الصف : ۱۱ . (۲) : المومنون : ۵۷ ؛ النور : ۹۲ ؛ الرعد : ۲۱ ؛ التوبه : ۱۸ ؛ الانبیأ : ۴۹ . (۷) : المایّده : ۲۳ ؛ الانفال : ۲ ؛ النحل : ۴۲ ؛ الشوری : ۳۲ . (۸) : الرعد : ۲۲ ؛ البقره : ۲۷۱ ؛ الروم : ۳۸ ، ۳۹ ؛ الدهر : ۹ . (۹) : التوبه : ۱۱۲ ؛ الفرقان : ۲۴ . (۱۰) : التوبه : ۱۱۲ . (۱۱) : التوبه : ۱۱۲ ؛ آل عمران : ۱۲ ؛ الفرقان : ۲۴ . (۱۲) : آل عمران : ۱۷ ، ۱۳۵ ؛ النسأ : ۷۲ ؛ التوبه : ۱۱۲ الذریت : ۱۸ . (۱۳) : المومنون : ۲ ؛ النسأ : ۱۰۳ ؛ البقره : ۳ ؛ المایّده : ۵۵ ؛ الانفال : ۳ . (۱۴) : البقره : ۱۸۳ ؛ الاحزاب : ۳۵ . (۱۵) : التوبه : ۷۱ ؛ المومنون : ۴ ؛ البقره : ۱۷۷ ؛ المایّده : ۵۵ ؛ الحج : ۷۸ . (۱۲) : آل عمران : ۹۷ ؛ الحج : ۲۲ . (۱۷) : آل عمران : ۱۷ ؛ الاحزاب : ۳۵ . (۱۸) : البقره : ۱۵۳ ؛ آل عمران : ۱۷ ؛ الاحزاب : ۳۵ . (۱۹) : آل عمران : ۱۳۴ ؛ الشوری : ۳۷ . (۲۰) : المومنون : ۸ . (۲۱) : آل عمران : ۱۱۴ ؛ التوبه : ۱۱۲ . (۲۲) : المومنون : ۲۱ ؛ فاطر : ۳۲ ؛ المایّده : ۴۸ . (۲۳) : النسأ : ۱۳۵ ؛ المایّده : ۸ . (۲۴) : الفرقان : ۷۲ . (۲۵) : السجده : ۱۵ ؛ النسأ : ۳۲ ؛ لقمن : ۱۸ ؛ النحل : ۲۳ . (۲۲) : البقره : ۳ ؛ آل عمران : ۱۷ ، ۱۳۴ ؛ ابراهیم : ۳۱ ؛ الانفال : ۳ ؛ الحج : ۳۵ . (۲۷) : المومنون : ۵ ؛ النور : ۳۰ ، الاحزاب : ۳۵ ؛ الفرقان : ۲۸ . (۲۸) : الفرقان : ۲۷ ؛ الانعام : ۱۴۱ ؛ الاعراف : ۳۱ ؛ الاسرأ : ۲۲ـ۲۷ . (۲۹) : البقره : ۱۷۷ ؛ الانعام : ۱۵۲ ؛ النحل : ۹۱ ؛ المومنون : ۸ ؛ الاحزاب : ۲۳ . (۳۰) : الشوری : ۳۷ ؛ النجم : ۳۲ . (۳۱) : الفرقان : ۲۸ ؛ الانعام : ۱۵۱ . (۳۲) : الفرقان : ۲۳ ؛ المومنون : ۳ . (۳۳) : الشوری : ۳۷ ؛ آل عمران : ۱۳۴ . (۳۴) : الحجرات : ۱۰ ؛ التوبه : ۱۱ ؛ آل عمران : ۱۰۳ ؛ الاحزاب : ۵ ؛ البقره : ۱۷۸ . (۳۵) : الفتح : ۲۹ . (۳۲) : الفرقان : ۲۳ ؛ لقمن : ۱۹ . (۳۷) : الشوری : ۳۸ ؛ آل عمران ۲۵۹ . (۳۸) : التوبه : ۱۱۲ ؛ البقره : ۱۸۷ ، ۲۳۰ ؛ النسأ : ۱۳ . (۳۹) : المجادله : ۲۲ ؛ النسأ : ۲۵ ؛ التوبه : ۲۴ ؛ البقره : ۱۲۵ . (۴۰) : النسأ : ۷۹ . (۴۱) : الانعام : ۸۵ ؛ النحل : ۱۲۲ ؛ الانبیأ : ۷۲ ؛ الصفت : ۱۱۲ ؛ القلم : ۵۰ . (۴۲) : الفرقان : ۳۰ . (۴۳) : الحجرات : ۱۳ . (۴۴) : الذریت : ۵۲ . (۴۵) : البقره : ۵ ، ۲۸ ، ۱۵۷ ؛ الزمر : ۱۸ . (۴۲) : البقره : ۳۰ . (۴۷) : ص : ۷۱ـ۷۲ . (۴۸) : القیامه : ۱۲ـ۱۷ ؛ الاعراف : ۳۲ ؛ البقره : ۱ . (۴۹) : البقره : ۱۴۳ ؛ النحل : ۱۰ـ۱۷ . (۵۰) : البقره : ۱۷۷ . (۵۱) : آل عمران : ۱۹۱ . (۵۲) : البقره : ۲۱ ؛ الحج : ۷۷ . (۵۳) : فاطر : ۲۹ ؛ البقره : ۱۲۱ . (۵۴) : البقره : ۱۷۷ ؛ المومنون : ۱ـ۹ ؛ الفرقان : ۲۳ـ۷۲ . (۵۵) : الملک : ۲۳ . (۵۲) : البقره : ۱۷۴ ؛ الانعام : ۹۵ـ۹۹ ؛ الروم : ۸ ؛ الجاثیه : ۲۲ ؛ التغابن : ۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵۷): البقره: ۱۷۹ ، ۱۸۴ ، ۲۸۲ . (۵۸): الزخرف: ۲۳ ؛ البقره: ۱۷۰ . (۵۹): النجم: ۲۳ ، ۲۸ ؛ الاسرأ: ۳۶ ؛ الکهف: ۱۵ ؛ الحجرات: ۲ ؛ النسأ: ۸۳ . (۲۰): الاسرأ: ۳۶ ؛ التکاثر: ۸ ؛ الملک: ۲۳ . (۲۱): الاعراف: ۳۲ ؛ القصص: ۷۷ ؛ البقره: ۲۲۲ـ۲۲۳ ؛ الروم: ۲۱ . (۲۲): آل عمران: ۱۵۷ ؛ الزمر: ۳۶ ؛ الانعام: ۱۵ ؛ المايّده: ۹۴ ؛ الدهر: ۱۰ . (۲۳): ق: ۴۳ ؛ آل عمران: ۱۵۴ ، ۱۸۵ ؛ النسأ: ۷۸ ؛ المنافقون: ۱۱ . (۲۴): الرعد: ۲۲ ؛ الروم: ۳۷ ؛ الذريت: ۲۲ ، ۵۸ ؛ فاطر: ۳ . (۲۵): البقره: ۲۱۲ ؛ النسأ: ۱۹ ؛ لقمن: ۳۴ ؛ الطلاق: ۱ . (۲۲): الاعراف: ۳۲ ؛ آل عمران: ۱۴ـ۱۵ ؛ الصف: ۱۰ـ۱۲ ؛ الواقعه: ۱۵ـ۲۴ ؛ المطففين: ۲۲ـ۲۴ . (۲۷): البقره: ۱۲۵ ؛ التوبه: ۲۴ ؛ الانفطار: ۷۲ ؛ التغابُن: ۳ ؛ الزمر: ۵۳ . (۲۸): البقره: ۱۲۸ـ۲۰۸ ؛ يوسف: ۵ ؛ الاسرأ: ۵۳ ؛ فاطر: ۲ ؛ يس: ۲۰ـ۲۲ . (۲۹): النحل: ۹۰ ؛ آل عمران: ۱۰۴ ، ۱۱۰ ، ۱۱۴ ؛ التوبه: ۱۱۲ . (۷۰): البقره: ۱۹۱ ؛ الحجرات: ۷ . (۷۱): النور: ۱۹ . (۷۲): المايّده: ۲۳ ؛ الاعراف: ۵۲ ؛ المايّده: ۲۴ ؛ القصص: ۸۳ . (۷۳): فاطر: ۱۸ ؛ المدثر: ۳۸ ؛ البقره: ۴۸ . (۷۴): الحشر: ۹ ؛ المايّده: ۲ ؛ آل عمران: ۱۰۳ ؛ التوبه: ۷۱ ؛ الشورى: ۳۸ . (۷۵): النسأ: ۱۰۳ ؛ البقره: ۱۷۸ ، ۱۸۳ ؛ التوبه: ۲۰ ؛ آل عمران: ۹۷ . (۷۲): البقره: ۲۷۱ ، ۲۸۰ ؛ النسأ: ۲۵ . (۷۷): الاحزاب: ۲۱ ؛ الانبيأ: ۱۰۷ ؛ السبا: ۲۸ . (۷۸): النسأ: ۵۸ ؛ السبا: ۴۲ ؛ النحل: ۹۰ ، ۱۲۵ . (۷۹): التوبه: ۳۹ ؛ النور: ۲ ؛ المايّده: ۳۸ ؛ الفرقان: ۲۸ـ۲۹ . (۸۰): الاعراف: ۱۷۲ ؛ المايّده: ۲۷ـ۳۰ ؛ هود: ۱۰۰ ؛ يوسف: ۳ ، ۱۱۱ . (۸۱): المايّده: ۹۰ ؛ التکوير: ۸ـ۹ ؛ النحل: ۲۷ . (۸۲): العصر: ۳ـ۴ ؛ البقره: ۲۷۷ ؛ الرعد: ۲۹ . (۸۳): آل عمران: ۱۱۰ ، ۱۲۴ ؛ الجمعه: ۲ ؛ البقره: ۱۵۱ ؛ العصر: ۳ـ۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې اته ویشتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومېږي د قرآن پوهنې ډېره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طريقه ده . دلته د قرآن کريم څخه پوښتنې کيږي او هغه د خپلو آيتونو له مخې ځوابونه وايي . هيله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !
نو دايې د اته ويشتمې روژې لپاره اته ويشتم سوغات ، ( ن.صمد )
Nsamad57@hotmail.com

## د قران سره مرکه ( اته ويشتمه برخه ) :

پوښتنه: آيا تا د محمدي امت ذکر او بيان کړی دی ؟
ځواب: هو ، ما د هغوی په باره کې ډېر وضاحت ورکړی دی او هغوی مې د مُسلِمه امت(۱) ، وسطی امت (۲) يعنې پر سمه لاره تلونکی امت ، تر ټول ښه امت(۳) او مسلمينو (۴) يعنې مسلمانانو په القابو سره نازولي دي(۵) . دغه امت دا امتياز هم لري چې د نړۍ تر ټولو هغسې غوره امت دی چې الله يې تر قيامته دا ذمه اخيستې ده چې د نيکۍ د خپرولو او د بدۍ د منع کولو هڅه به کوی(۶) ، د حق دين شفاهی او عملی شهادت به ورکوی(۷) او د هغه د استقرار او ټينګښت کوښښ به کوی(۸) .
پوښتنه: آيا د دغه مُسلم امت په باره کې له مخکې څخه هم کومه پيش ګويي موجوده وه که يا ؟
ځواب: هو ، کله چې ابراهيم(ع) او اسمعيل(ع) د کعبې تر بيا جوړولو وروسته الله تعالی ته دعا کړې وه ، په هغه کې يې د همدې مُسلمه امت ذکر کړی و (۹) .
پوښتنه: آيا تا د صحابهٔ کرامو بيان يا ذکر هم کړی دی ؟
ځواب: هو ، هغه کسان چې د رسول الله(ص) ملګري وو ، صحابه دي(۱۰) . په تورات او انجيل کې هم په دې هکله پيش ګويي سوې وه (۱۱) . د صحابه وو د ټولنې شروع د خورا لږ او پراګنده حالت څخه وسوه ، وروسته دا سې وخت هم راغی چې هغوی يو پياوړئ ځواک سو (۱۲) . دغه اشخاص خپل تر منځو ډېر ګران او يو پر بل مهربان وو خو د کافرانو په وړاندې خورا جدی او سرسخته وو (۱۳) . په دغه جماعت کې هغه مهاجرين هم شامل وو چې د الله په لار کې يې خپل کورونه او هر څه پرېښې وو او د مکې څخه مدينې ته را غلی وو ، او په هغوی کې انصار هم شامل وو چې د نوموړو مهاجرينو سره يې ورور ګلويزه سلوک کاوه او دا ټول رښتياني مسلمانان وو (۱۴) . دغو خلکو د الله د دين په خاطر د سر او مال قربانۍ ورکړې (۱۵) . په هغوی که هغسې پاکو اشخاصو هم شتون درلود چې هره هغه خپلوی او قرابت يې ايسته وغورځاوه چې د ده او الله تر منځ به خنډ کېدله . د دغو انسانانو په زړونو کې ايمان ننوتلی و او الله هم ځنې خوشاله و او هغوی هم د الله څخه راضی ول (۱۶) . هغو اصحابو چې تر يوې ونې لاندې يې په ټوليزه توګه رسول الله ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیعت وکړ هغوی ټوله له یو مخی جنتي دي او هغوی د خورا ایثار او ځان تیرېدنی څخه کار واخیست (۱۷)
.

انصارو د مهاجرینو سره د مرستې په خاطر له خورا لویې قربانۍ او ایثاره کار واخیست (۱۸). په اصحابو کی « سابقون الاولون» هم وو چی الله ورڅخه راضی سو او هغوی هم د الله څخه راضی سول (۱۹).

د رسول الله سره د هغه یو صحابی [ابوبکر رضی الله عنه] هم هجرت وکړ او کله چی رسول الله د دښمنانو د خطر له امله په غار کی پټ سو نو دغه صحابی هم ورسره ملګری و (۲۰).

پوښتنه: آیا تا مشخصاً د کوم صحابی نوم هم ذکر کړی دی که یا ؟

ځواب: هو ، ما د زید [رضی الله عنه] نوم ذکر کړی دی (۲۱).

پوښتنه: آیا د تابعینو ذکر دی هم کړی دی که یا ؟

ځواب: هو ، الله تعالی د نیکو تابعینو څخه هم هغسی راضی و لکه د نورو اصحابو کرامو څخه چی و (۲۲)
.

پوښتنه: که لطفاً راته ووایې چی شیطان څوک دی ، خوشاله به سم. څنګه چی د هغه لعین په باره کی تا پرله پسې خبرداریځ راکړی دی ، نو ښه به وی چی مختصراً یې را وښیې.

ځواب: شیطان ته چی ابلیس ویل کیږی (۲۳) اصلاً د جن له ذاته دی (۲۴). هغه له اوره جوړ سوی و (۲۵).

د هغه کار دا دی چی خلک ګمراه او زیانمن کړی (۲۶). هغه آدم (ع) ته د سجدې څخه د سرغړونی له امله د الله د حُکم څخه انکار وکړ نو ځکه د الهی لعنت وړ وګرځېد (۲۷). شیطان د انسان ازلي او فطري دښمن دی (۲۸). هیڅوک باید د هغه پیروي او په خوله و نه کړی (۲۹).

پوښتنه: تا د جن نوم واخیست ، آیا د هغه په هکله هم څه راته ویلای سې ؟

ځواب: هو ، جن هم د انسان غوندی د الله مخلوق دی (۳۰). هغه د اور څخه پیدا سوی دی (۳۱). جن د انسان څخه مخکی پیدا سوی دی (۳۲). جن هم د انسان غوندی د خپلی عقیدې او کړنی لپاره مؤظف او مسؤل دی نو ځکه د خپل عمل ځواب ویونکی دی (۳۳). په جنانو کی هم د الله اطاعت کونکي او سرغړونکي شته دي (۳۴). مُشرکو عربو به د خپل جهالت له مخی د الله او جنانو تر منځ خپلوي قیاسوله (۳۵). دوی به جنان حتی د خدای شریکان هم بلل (۳۶) او د هغوی عبادت به یې کاوه (۳۷). د بیری او مصیبت پر مهال به یې هغوی رابلل او لمانځل (۳۸). جن کولای سی چی انسانان ووینی خو انسانان جنان نسی لیدلای (۳۹). هغوی د حضرت محمد (ص) تر بعثت مخکی د لوړه سره د ځینو غیب خبرونو احوال هم معلومولای سو (۴۰). د جنانو یوې ډلی به د رسول الله (ص) څخه قرآن هم اورېدئ او پر ده باندی یې ایمان راوړی و (۴۱).

پوښتنه: آیا د کوم خاص علت له مخی د یو مسلمان ټول اعمال ضایع کېدای هم سی ؟

ځواب: هو ، د یو مسلمان ټوله اعمال هغه وخت ضایع او له منځه ځی که:

۱ـ کفر غوره کړی (۴۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ د شِرک ارتکاب وکړی (۴۳) .
۳ـ مُرتد سی ، یعنی له دینه واوړی (۴۴) .
۴ـ د رسول الله (ص) په مجلس کی د هغه تر آواز په لوړ ږغ شورماشور یا خبری وکړی (۴۵) .
پوښتنه: تا پر کومو خلکو او مخلوقاتو لعنت ویلی دی ؟
ځواب: ما چی پر کومو انسانانو او نورو مخلوقاتو لعنت ویلی ، هغه اصلأ د الله لعنت دی او هغه دا دي:
۱ـ پر شیطان باندی (۴۶) .
۲ـ پر کافرانو باندی (۴۷) .
۳ـ پر ظالمانو باندی (۴۸) .
۴ـ پر درواغ ویونکو باندی (۴۹) .

(۱) : البقره: ۲۸ . (۲) : البقره: ۱۴۳ . (۳) : آل عمران: ۱۱۰ . (۴) : الحج: ۷۸ . (۵) : البقره: ۱۲۸ . (۶) : آل عمران: ۱۰۴ ، ۱۱۰ . (۷) : البقره: ۱۴۳ ؛ النسأ: ۱۳۵ ؛ الحج: ۷۸ ؛ المایّده: ۸ . (۸) : الشوری: ۱۳ . (۹) : البقره: ۱۲۸ . (۱۰) : التوبه: ۴۰ ؛ الفتح: ۲۹ ؛ التحریم: ۸ . (۱۱) : الفتح: ۲۹ . (۱۲) : الفتح: ۲۹ ؛ الانفال: ۲۶ . (۱۳) : الفتح: ۲۹ . (۱۴) : الانفال: ۷۴ . (۱۵) : التوبه: ۸۸ . (۱۶) : المجادله: ۲۲ . (۱۷) : الفتح: ۱۸ . (۱۸) : الحشر: ۹ . (۱۹) : التوبه: ۱۰ . (۲۰) : التوبه: ۴۰ . (۲۱) : الاحزاب: ۳۷ . (۲۲) : التوبه: ۱۰۰ . (۲۳) : البقره: ۳۴ ، ۳۶ ؛ الاسرأ: ۶۱ـ ۶۴ . (۲۴) : الکهف: ۵۰ . (۲۵) : الاعراف: ۱۲ . (۲۶) : النسأ: ۶۰ ، ۱۲۰ ؛ المایّده: ۹۱ ؛ الاعراف: ۲۷ ؛ المجادله: ۱۹ ؛ الفرقان: ۲۹ . (۲۷) : البقره: ۳۴ ؛ الاعراف: ۱۱ ؛ الحج: ۳۱ ؛ الاسرأ: ۶۱ ؛ الکهف: ۵۰ . (۲۸) : یوسف: ۵ ؛ الاسرأ: ۵۳ ؛ فاطر: ۶ ؛ الزخرف: ۶۲ . (۲۹) : البقره: ۱۶۸ ، ۲۰۸ ؛ الانعام: ۱۴۲ ؛ مریم: ۴۴ ؛ النور: ۲۱ . (۳۰) : الجن: ۶ ؛ الرحمن: ۱۵ ؛ الحجر: ۲۶ـ ۲۷ ؛ الصفت: ۱۵۸ ؛ الانعام: ۱۲۹ . (۳۱) : الرحمن: ۱۵ ؛ الحجر: ۲۷ . (۳۲) : الحجر: ۲۷ ؛ الکهف: ۵۰ . (۳۳) : الانعام: ۱۲۹ـ ۱۳۱ ؛ الاعراف: ۳۸ ، ۱۷۹ ؛ حم سجده: ۱۹ـ ۲۵ ؛ الاحقاف: ۱۸ ؛ الرحمن: ۱۳ . (۳۴) : الجن: ۱۱ ، ۱۴ . (۳۵) : الصفت: ۱۵۸ . (۳۶) : الانعام: ۱۰۶ . (۳۷) : السبا: ۴۱ . (۳۸) : الجن: ۶ . (۳۹) : الاعراف: ۲۷ . (۴۰) : الجن: ۸ـ ۹ . (۴۱) : الجن: ۲ ، ۱۳ . (۴۲) : الکهف: ۱۰۵ ؛ الاحزاب: ۱۹ ؛ محمد: ۹ ، ۳۲ . (۴۳) : الانعام: ۸۸ ؛ الزمر: ۶۵ ؛ التوبه: ۱۷ . (۴۴) : البقره: ۲۱ . (۴۵) : الحجرات: ۲ . (۴۶) : البقره: ۸۹ ، ۱۶۱ ؛ الاحزاب: ۶۴ ؛ المایّده: ۷۸ . (۴۷) : الاعراف: ۴۴ ؛ هود: ۱۸ ؛ المومن: ۵۲ . (۴۸) : آل عمران: ۶۱ . (۴۹) : الاعراف: ۵۴ ؛ النحل: ۱۲ ؛ الحج: ۱۸ ؛ العنکبوت: ۶۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې نهه ویشتم سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه » نومېږي د قرآن پوهنې ډېره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه ده. دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیږي او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه وايي. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو وګرځي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

نو دایې د نهه ویشتمې روژې لپاره نهه ویشتم سوغات ، ( ن. صمد )

Nsamad57@hotmail.com

## د قران سره مرکه ( نهه ویشتمه برخه ) :

پوښتنه: آیا تا ستوري هم ذکر کړي دي ؟

ځواب: هو ، ما د لمر ، سپوږمۍ او نورو ستورو نومونه ذکر کړي دي (۱) .

پوښتنه: آیا ستا په نظر دغه سیارې او ستوري ساکن دي که متحرک ؟ دا ځکه چې د اسلام مخالفین یو لړ ګمراه کونکي تبلیغات کوي.

ځواب: ما واضحاً ویلي دي چې دا ټول خوځنده یعنې د حرکت په حال کې دي (۲) .

پوښتنه: آیا تا د غرونو ذکر هم کړی دی که یا ؟

ځواب: هو ذکر مې یې کړی دی (۳) ، حتی دا چې ځینو ته مې په نوم سره هم اشاره کړې ده لکه د طور غر (۴) ، د جودي غر (۵) او نور.

پوښتنه: آیا د فلزاتو نومونه دې هم یاد کړي دي ؟ که وي نو هغه کوم کوم فلزات دي ؟

ځواب: هو ، ذکر کړي مې دي مثلاً : سره او سپین زر (۲) ، مس (۷) ، اوسپنه (۸) او نور.

پوښتنه: آیا تا د ملغلرو نوم هم اخیستی دی ؟

ځواب: هو ذکر کړی مې دی (۹) .

پوښتنه: آیا تا د شین ګیاوو ( ترکاري بابو ) نومونه هم ذکر کړي دي ؟

ځواب: هو ، ما د بېلګې په توګه د پیاز ، هوږې ، چمبرخیال او نورو نومونه ذکر کړي دي (۱۰) .

پوښتنه: که په همدې موضوع کې پاته سم ، نو آیا تا د ونو او نورو یادونه هم کړې ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: هو ، کړې مې ده (۱۱) . ما د ځينو ونو نومونه هم ذکر کړي دي لکه خرما (۱۲) ، زيتون (۱۳) ، بيرى (۱۴) او نور .

پوښتنه: نو چې داسې ده آيا د ميوو ذکر دې هم کړى دى که يا ؟
ځواب: هو باالکل مې کړى دى (۱۵) . د دې جملې څخه مې د خرما (۱۲) ، انګورو (۱۷) ، انارو (۱۸) او نورو نومونه ذکر کړي دي .

پوښتنه: آيا مرغانو ته دې هم اشاره کړې ده که يا ؟
ځواب: هو کړې مې ده (۱۹) . د مثال په توګه به دغه مرغان در ياد کړم: هُد هُد (۲۰) ، کاغيـ (۲۱) ، ابابيل (۲۲) او نور .

پوښتنه: نو آيا د حيواناتو په باره کې دې هم څه يادونه کړې ده ؟
ځواب: هو ، ما ډيرو حيواناتو ته اشاره کړې ده (۲۳) ، چې په هغو کې پسونه او وزې (۲۴) ، ميږه (۲۵) ، غوا او غويى (۲۲) ، آس (۲۷) ، خر (۲۸) ، قچر يعنى غاتره (۲۹) ، اوښ او اوښه (۳۰) ، بيزو (۳۱) ، سپى (۳۲) ، خوګ يا خنځير (۳۳) ، فيل (۳۴) ، او زمرى (۳۵) شامل دي .

پوښتنه: نو آيا د حشراتو نومونه دې هم ذکر کړي دي ؟
ځواب: هو ، ما د ځينو حشراتو نومونه ذکر کړي دي مثلاً : غوماشى (۳۲) ، مچ (۳۷) ، ميږئ (۳۸) ، غنې (۳۹) ، د عسلو مچيـ (۴۰) او نور .

پوښتنه: که د دغو څخه د عسلو د مچيـ په باره کې معلومات راکړې خوشاله به سم .
ځواب: هو ولې نه ، د شاتو مچيـ د څو رنګو څخه جوړيږي (۴۱) ، او په هغوى کې د انسانانو د ناروغيو لپاره شفا او علاج موجود دى (۴۲) .
پوښتنه: خبره تر خبرى يادېږى. آيا تا د رنګونو په باره کې هم څه ذکر کړى دى که يا ؟
ځواب: هو ، ما د څو رنګونو ذکر کړى او نومونه مى يې هم اخيستى دي ، مثلاً سپين (۴۳) ، سور (۴۴) ، تور (۴۵) ، ژړ (۴۲) او نور .

پوښتنه: آيا د کومې ورځې نوم دې هم ذکر کړى دى ؟
ځواب: هو ، ما د جمعې (۴۷) او شنبې (۴۸) نومونه ذکر کړي دي .

پوښتنه: آيا راته ويلاى سې چې د وخت تاکل څنګه کېداى سى ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: د ورځې او شپې د وخت معلومول د لمر د راختلو او لوېدلو له مخې کيږي (۴۹) ، او د ورځو ، مياشتو او کلونو جنتري د سپوږمۍ د موقعيتونو پر اساس ترتيب کيږي (۵۰) . خو بايد متوجه اوسې چې په يو کال کې دوولس مياشتې وي (۵۱) .

پوښتنه: آيا تا د کوم ښار نوم هم ذکر کړی دی ؟
ځواب: هو ، ما د څو ښارونو نومونه ذکر کړي دي لکه: بابل (۵۲) ، مکه (۵۳) ، مدينه (۵۴) او نور .

پوښتنه: آيا تا شيدو ته هم اشاره کړې ده که يا ؟
ځواب: هو ، لاکن د خالصو شيدو ذکر مې کړی دی (۵۵) .

پوښتنه: وروستۍ پوښتنه مې دا ده چې آيا ته کوم خاص پيغام لرې چې راته ويې وايې تر څو خلکو ته يې ورسوم ؟
ځواب: هو ، زه پخپله اصلاً يو پيغام يم يعنې د الله تعالی لخوا ټول بشر ته د يو پيغام په ډول راليږل سوی يم (۵۶) . غواړم چې زما لخوا ټولو خلکو ته زما دا پيغام ورسوې چې هغوی د خپل ربښتياني خالق او مالک بندګي غوره کړي او بس (۵۷) .

شُکراً ـ تشکر ستا د ډېر خورا مهمې ، هر اړخيزې او معلوماتي مرکې څخه (۵۸) .

اشکرلله ـ مننه له خدايه (۵۹) .

(۱) : الاعراف: ۵۴ ؛ النحل: ۱۲ ؛ الحج: ۱۸ ؛ العنکبوت: ۶۱ . (۲) : الرعد : ۲ ؛ القمن: ۲۹ ؛ فاطر: ۱۳ ؛ يس: ۳۸ ، ۴۰ ؛ الزمر: ۵ . (۳) : النحل: ۸۱ ؛ طه: ۱۰۵ ؛ الانبيأ : ۷۹ ؛ الحج: ۱۸ ؛ الاحزاب: ۷۲ . (۴) : البقره: ۲۳ ؛ طه: ۸۰ . (۵) : هود : ۴۴ . (۶) : آل عمران: ۱۴ ؛ التوبه: ۳۴ . (۷) : الرحمن: ۳۵ . (۸) : الکهف: ۹۶ ؛ الحديد : ۲۵ . (۹) : الرحمن: ۲۲ ؛ الطور: ۲۴ ؛ الواقعه: ۲۳ ؛ الحج: ۲۳ ؛ الدهر: ۱۹ . (۱۰) : البقره: ۶۱ . (۱۱) : الحج: ۱۸ ؛ الرحمن: ۶ ؛ المومنون: ۲۰ ؛ النور: ۲۵ ؛ الفتح: ۱۸ . (۱۲) : النحل: ۱۱ ؛ عبس: ۲۹ . (۱۳) : النحل: ۱۱ ؛ النور : ۳۵ ؛ عبس: ۲۹ . (۱۴) : السبا : ۱۲ . (۱۵) : البقره: ۲۲ ، ۱۲۶ ؛ الاعراف: ۵۷ ؛ الرعد : ۳ ؛ فاطر: ۲۷ ؛ الرحمن: ۱۱ . (۱۶) : مريم: ۲۵ ؛ النحل: ۶۷ . (۱۷) : الانعام: ۹۹ ، ۱۴۱ ؛ النحل: ۶۷ . (۱۸) : الانعام: ۹۹ ، ۱۴۴ . (۱۹) : البقره: ۲۲۰ ؛ الانعام: ۳۸ ؛ النحل: ۷۹ ؛ النور: ۴۱ ؛ الملک: ۱۹ . (۲۰) : النمل: ۲۰ . (۲۱) : المايّده: ۳۱ . (۲۲) : الفيل: ۳ . (۲۳) : البقره: ۱۷۴ ؛ الانعام: ۳۸ ؛ هود : ۶ ؛ الحج: ۱۸ ؛ الجاثيه: ۴ . (۲۴) : الانعام: ۱۴۶ ؛ طه: ۱۸ ؛ الانبيأ : ۱۸ . (۲۵) : ص: ۲۳ـ۲۴ . (۲۶) : البقره: ۶۷ـ۷۱ ؛ يوسف: ۴۳ . (۲۷) : الانفال: ۶۰ ؛ النحل: ۸ ؛ الحشر: ۶ . (۲۸) : البقره: ۲۵۹ ؛ الجمعه: ۵ ؛ المدثر: ۵ . (۲۹) : النحل: ۸ . (۳۰) : الانعام: ۱۴۴ ؛ الاعراف:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۰ ؛ الغاشیه: ۱۷. (۳۱) : البقره: ۲۵ ؛ المایِّده: ۲۰ ؛ الاعراف: ۲۲. (۳۲) : الاعراف: ۷۲ ؛ الکهف: ۱۸. (۳۳) : البقره: ۱۷۳ ؛ المایِّده: ۳. (۳۴) : الفیل: ۱. (۳۵) : المدثر: ۵۱. (۳۶) : البقره: ۲۲. (۳۷) : الحج: ۷۳. (۳۸) : النمل: ۱۸. (۳۹) : العنکبوت: ۴۱. (۴۰) : النحل: ۲۸. (۴۱) : النحل: ۲۹. (۴۲) : النحل: ۲۸-۲۹. (۴۳) : البقره: ۱۷۷ ؛ آل عمران: ۱۰۲ ؛ الاعراف: ۱۰۸ ؛ فاطر: ۲۷ ؛ الصفت: ۴۲. (۴۴) : فاطر: ۲۷. (۴۵) : البقره: ۱۸۷ ؛ آل عمران: ۱۰۲ ؛ فاطر: ۲۷ ؛ الزخرف: ۱۷ ؛ الزمر: ۲۰. (۴۶) : البقره: ۲۹ ؛ الروم: ۵۱ ؛ الزمر: ۲۱ ؛ الحدید: ۲۰ ؛ المرسلت ۳۳. (۴۷) : الجمعه: ۹. (۴۸) : الاعراف: ۱۲۳. (۴۹) : الاسرأ: ۱۲ ؛ یونس: ۲ ؛ البقره: ۱۲۴ ؛ آل عمران: ۲۷ ؛ الانبیأ: ۳۳. (۵۰) : یونس: ۵ ؛ الانعام: ۹۲ ؛ الاسرأ: ۱۲ ؛ الرحمن: ۵. (۵۱) : التوبه: ۳۲. (۵۲) : البقره: ۱۰۲. (۵۳) : آل عمران: ۹۲ ؛ التین: ۳ ؛ البلد: ۱-۲ ؛ النمل: ۹۱ ؛ الانعام: ۹۲. (۵۴) : التوبه: ۱۰۱ ، ۱۲۰ ؛ الاحزاب: ۲۰ ؛ المنافقون: ۸. (۵۵) : النحل: ۲۲ ؛ محمد: ۱۵. (۵۶) : ابراهیم: ۵. (۵۷) : البقره: ۲۱ ؛ النحل: ۳۲. (۵۸) : السبا: ۱۳. (۵۹) : لقمن: ۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې دېرشم (وروستی) سوغات

قدرمنو او عزتمنو لوستونکو ، دغه لړۍ چې « د قرآن سره مرکه» نومېده ، د قرآن پوهنې ډېره آسانه ، دلچسپه او ګټوره طریقه وه . دلته د قرآن کریم څخه پوښتنې کیدې او هغه د خپلو آیتونو له مخې ځوابونه ویل. هیله ده چې د توجه او هڅېدو وړ مو ګرځېدلې وي ، دا ځکه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله ! نو د دې لړۍ وروستۍ برخه لطفاً په غور او تدبُر سره ولولئ( ن. صمد )
Nsamad57@hotmail.com

## د قران سره د مرکې د پای لیکنه :

ښه ګرانو لوستونکو ، د قرآن سره خو مو دا مرکه په ۲۹ برخو کې ولوستله. خدای دې وکړي چې ځوابونه او محتویات یې د خپل ژوندانه تلن لاره وګرځوو ، که نه صرف وخت به مو ضایع کړی وي .

کله چې دا مرکه پای ته ورسېده ، نو « قرآن» ځو خصوصي رازونه او ترخه حقایق راته وویل او پر ما یې پخه کړه چې تر تاسو به یې رسوم. هغه ګیله او شکایت وو ، اسویلې او فریاد وو ، خپګان او حسرت وو ، یعنې هغه څه وو چې اصلاً دي ، کیږي ، په سترګو یې وینو ، او باالاخره هغه څه وو چې باید نه وای .

آیا پوهیږئ چې « قرآن» په آخره کې څه راته وویل ؟ قرآن د مسلمانانو څخه عجیبه حساس او عینې برداشتونه کړي وو . کله چې یې یو یو راته وایه نو باور وکړئ چې خوله مې بنده سوه ، پر سترګو مې توره تیاره خپره سوه ، سر مې ځوړند سو ، بدن مې په رپېدو او جټکو سو ، له سره تر نوکه په خولو کې لوند سوم ، د بدن ټول سپک مې وخوت او نږدې و چې چپه سم .
آیا څه حدس کوئ چې قرآن به په رمازه او کنایه کې څه راته ویلي وي ؟ هغه راته وویل چې تاسو ټول تش په نوم مینه را سره لرئ خو په اصل کې درواغ وایاست ، د طوطې غوندې مې تلاوت کوئ خو نه پوهیږئ چې څه لولئ. تاسو زه عملاً ترک او خوشې کړی یم لاکن په ظاهره زما په نوم د نیا خرابوئ. په خوله مې منئ خو په زړه مې شړئ ، که مې لولئ نو هیڅ فکر او تدبر نه کوئ. زه خو لا څه ، آن پخپله رسول الله(ص) هم شکایت درڅخه کوی ( الفرقان-۳۰ ) .

زه مو ډیر نفس تنګه ساتلې یم او ساه مې ځکه بنده وی چې په اوو پوښونو کې مو پېچلې یم او هلته لوړ مو په دوړو کې ایښې یم. چندانې مو نه په کارېږم بلکې هغه مهال مې را اخلئ چې مسافر له کوره وځي یا په واده کې د ناوې پر سر نیول کیږم ، او یا دا چې کله غم او مصیبت دربandي راسې نو مو په یاد سم او له دوړو مې پاک او په زاریو مې خدای ته شفیع کوئ.... خورا ډیر مې مچوئ خو رښتیانې مینه نه راسره لرئ ، خورا ډیر مې خوښوئ خو له ځانه مې لیرې ساتئ ، خورا ډیر مې یادوئ خو اصلاً مې هیروئ ، خورا ډیر مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاييً خو نه مې خپلوئ ، خورا ډېر قسمونه راباندې اخلئً خو سرچپه عمل کوئ ، خورا ډېر عزت مې کوئ خو عملاً مې نه منئً او خورا ډېر در نږدې يم خو ړانده ياست نه مې وينئً...

هو ګرانه لوستونکې ، هغه شکايت وکړ چې ماته اوس ثابته سوې ده چې هسې يو کتاب يم ، عادي کتاب ، اضافي کتاب ، بې غمخوره او بې سرپرسته کتاب !
هغه په داسې حال کې چې لهجه يې څه تونده سوه داسې دوام ورکړ: ګوره ، ټولو مسلمانانو خصوصاً افغانانو ته ووايه چې اول خو مې نه تلاوت کوئ ، که مې تلاوت کوئ نو په معنا مې نه پوهيږئ. که احياناً پوه هم سئ ، نو بيا بدبختانه عمل نه په کوئ. نو آيا په دغسې حالاتو کې زه د يو عادي يا اضافي کتاب څخه علاوه بل اهميت لرلای سم ؟ ګورئ ، همدا حساسه بارکې زما او ستاسې دښمن ډېره ښه درک کړې ده نو ځکه مسلسل ما سپکوي ، ما توهينوي ، ما سوځوي او پر تاسو مرګوني ګوزارونه کوي او سرونه هم له بې غيرتۍ نه سئً راپورته کولای. دا ځکه چې ما ته مو عملاً شا راګرځولې ده او زما د دښمن ملګري سوي ياست. په دې ډول د نامردانو ، منکرانو او ناکسانو تر يوغ لاندې سرځوړيزه ژوند تيروئ.

بلې ګرانه لوستونکې ، هغه په داسې حال کې چې راڅخه ليرې کېدئ ، راته وويل چې دا يوه خبره مې لا واوره او هغه دا چې پرتاسو ټولو صرف په نوم ګران يم بلکې دا هر څه مو چل ول ، ريا او حيلې دي. کله چې د قول او قسم خوړلو وار راورسيږي او يو د بل سره د دنيا په شخړو کې لاس او ګريوان سئً ، نو بيا زه در په ياد سم او په ټګۍ سره مې راپورته کړئ او وايأست چې ما دې دغه قرآن ووهې که به داسې يا هسې نه وي... بله ناوړه استفاده لا دا راڅخه کوئ چې د هرې غونډې او جلسې په پيل کې تلاوت کيږم ، اورول کيږم او په پای کې ستايل کيږم ، خو د دغسې نمايشي او يکنواخته مراسمو تر ختميدو وروسته نه د چا په کار يم او نه د چا يار يم !آيا داسې نه ده چې يو ځل مې خندوئ لاکن سل ځله مې ژړوئ ؟دا څنګه مينه راسره لرئ چې قانون د بل منئً خو قسم په ما باندې اخلئً ؟ په ما سر ورکوئ خو سر نه راباندې خوړوئ ؟ !ګورئ ، هر څوک مې په ظاهره د محبت ډېره دعوه کوي ، زما لپاره د سر تيرېدو ټټر هم وهي خو عملاً يې پرې ينبئً يم او يوازې په اوو پوښونو کې بندي پروت يم.
هو ، زه صرف يو بندي کتاب يم ، يوازې يم او د حسرت اوښکې تويوم. زه نه پوهيږم چې چا ته وژاړم ؟ ! ګورئ ، اوس خو څه نسم کولای ، مګر د قيامت په ورځ به پر تاسو هر يوه شاهد سم او خپل مصنف او مؤلف ته به فرياد وکړم چې ستا دغه او هغه بنده زما سره پورتني ظلمونه او چمونه کړي دي. آيا پوهيږئ چې لوی الله به څه درسره وکړی ؟زما به غور او ستاسې به جور په برخه وی. تاسې دا فکر قطعاً مه کوئ چې الله ولې د خپلو ګناهونو سزا همدا اوس نه درکوی. داسې نه ده بلکې الله مهلت درکړی دی او دا هر څه درته ساتی. که يې په دې دنيا کې چا ته سزا ورکولای نو د مځکې پر مخ به نن هيڅوک هم نه وای بچ سوی ( النحل: ۶۱ ). ګورئ ، خدای ښه پيژنئً خو اطاعت يې نه کوئ ، ما د بلبل غوندې تلاوت کوئ خو عمل نه کوئ ، دا واياست چې مرګ حق دی خو هغه ته چمتو ينه نه نيسئً ، نو واورئ: دنيا چې خوښوئ آخرت مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيروئ ، مخلوق چی خوښوئ خالق مو هيروئ ، ما چی ښکلوئ شا راګرځوئ... خو اوس لا هم وختی دی ، د شيطانی وسوسو او طاغوتی فتنو څخه را وګرځئ. دا ځکه چی نن د عمل ورځ ده بېله حسابه ، خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله ! د دې لپاره چی ناوخته سوی نه وی ، په ځانونو کی ژور او اساسی بدلون راوړئ او تر څو چی داسی ونکړئ ، الله مو روان حالت نه بدلوی ( الرعد ـ ١١ ) .

هو ګرانه لوستونکې ، زه د قرآن دغو فريادونو او تهديدونو د حسرت په اوښکو او د هيبت په خولو کی داسی بې حاله کړم لکه د جراحي عملياتو پر مهال چی د بې هوښی دوا په رګونو کی تذريق سی. کله چی می سترګی رڼی کړې ، نو صرف د دې مرکې يو څو خورې ورې پاڼی او کاغذونه می وليدل چی زياتره يې باد راڅخه وړي وو . بس ژر راپورته سوم او پاته کاغذونه می راټول کړل او په تلوار می تر تاسو راورسول. نور نو تاسو پوه سئ او تصميم مو ، چی د قرآن دغه خبرداریٔ او پيغام عملی کوئ او که يې ردوئ ( البقره: ٢١ ؛ **النحل: ٣٦** ) !

والسلام،
ستاسو د دعاوو محتاج: نثار احمد صمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر په برېښنايي کتابتون کي پر ليکه اثار




- اسلام او مذهب:
- د روژې ډالۍ ـــــــــــــــــــــــــ ډاکټر نثار احمد صمد
- روژه د رحمت، برکت او مغفرت میاشت ـــــــــــــــــ مؤلف: مولوي سید محبوب شاه ساجد
- د اصحابانو کیسې ـــــــــــــــــــــــ مولوي عبدالهادي حماد
- د مصطلح الحدیث علم په سوال او ځواب کښې ـــــــ لیکونکی: شیخ مصطفی العدوی مترجم: محمد عمر بشار
- اړینه پوهه ـــــــــــــــــــــــــ مولوي عبدالهادي حماد
- د برېښنايي کتابتون د اسلام او مذهب د برخې د نورو پر ليکه کتابونو لپاره دلته کليک وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ساینس او تخنیک:
- د رنا کرکۍ (د کمپیوټر زده کړه) عبدالستار فیضي
- سرطان او د چاپیریال رادیواکتیویتي لیکوال: پوهنوال ډاکتر نظر محمد سلطانزی ځدران
- د مایکروسافټ آفس پښتو لارښود عبدالستار فیضي
- غواړئ ذهني ځيرکتيا مو تمرين کړئ؟ ژباړن: مختار احمد احسان
- د ساينس او تخنيک د برخي د نورو پر ليکه کتابونو لپاره دلته کليک وکړئ !

- سپورټ او روغتيا:
- هغه پياوړي لاري چاري چي اند ېښنه ستاسو له ژوند څخه محو کوي ژباړن: ډاکټر محمد رقيب (فاروقي وردگ)
- THE PREVALENCE OF HIV/AIDS IN AFGHANISTAN Dr.Hameed_Shuja
- د کوچنيانو تنفسي سيستم ليکوال: پوهندوی دوکتور سيد حسام مل
- د لراوبر وېبپاڼي د برېښنايي کتابتون د سپورټ او روغتيا د برخي د نورو پر ليکه آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

- هنر او ادبيات:
- راځئ کيسه وليکو نصير احمد احمدي
- مناجاتونه نور احمد قرانمل
- د هيلو غوټۍ ويناواله: وحيده "آرينزی"
- د ابراهيم ادهم په پلونو (ناول) ليکوال: عبدالله الهام جمالزی
- منظومي کيسي پښتو لنډۍ او غاړي ليکوال: څارنوال احمد منګل خان

دماشومانو لپاره:
- کوچنی شاهزاده (د ماشومانو لپاره) ډاکټر عبدالباري
- زما سوی (د ماشومانو لپاره) مختار احمد احسان
- فتبالر (د ماشومانو لپاره) مختار احمد احسان
- د برېښنايي کتابتون د هنر او ادبياتو د برخي د نورو پر ليکه آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

- تاريخ او سياست:
- روز شمار واقع افغانستان تهيه او ترتيب: حميد علمي
- شيرشاه سوري د افغانانو تر منځ د يووالي هڅونکي ژباړن: استاد قريب الرحمن سعيد
- د ډيورنډ ترون د حقوقو او سياست په تــــله کښي ليکوال: ډاکټر رحمت ربی زيرکيار
- د تاريخ او سياست د برخي د نورو آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

- بېلابېل آثار:
- خوندور خواړه عبدالستار فيضي
- د نړۍ اووه عجايبي ژباړن: مختار احمد احسان
- د بېلابېل آثار نومي برخي د نورو پر ليکه کتابونو د لوست لپاره دلته کليک وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**